# اعلان

ګرانو او قدرمندو لوستونکو پښتو ډاټ نيټ د دې کتاب سره ډيره خواري کړې ده او په ډير عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په غرض ډالۍ کوي د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول يا زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقي جرم دے بلکې ډير سخت منع دي

پښتونستان

پښتو ډاټ نيټ

**Presented By :**

**Pukhto.Net**

**The Legendary Land Of Legends**


**Contact :**

rum_n_rythems@hotmail.com

webmaster@pukhto.net

# افغان ګلونه



شیرین یار یوسفزی

# شروع په نامه دَ الله چې رحمان اَو رحيم دے


| | | |
|---|---|---|
| دَکتاب نوم | --------- | افغان گلونه |
| ترتيب | --------- | نښته وار |
| مخونه | --------- | يوسل دوه نوی |
| ليکونکے | --------- | شيرين زاده خان(شيرين يار يوسفزے) |
| کمپوزنګ | --------- | شکيل علي جدون |
| دَ املا سمون | --------- | پخپله دليکونکی |
| خورَوُنه | --------- | ورومبیَ |
| شمېر | --------- | يوزر(۱۰۰۰) |
| دَچاپ کال او ځای | --------- | ۲۰۰۴ء جدون پرنتنګ پريس پيښور |
| بَيه (قدر) | --------- | سل روپۍ (۱۰۰) |

درکُونه

- ★ پبلک لائبرَيري زروبیَ کلے ضلع او تحصيل صوابیَ
- ★ فقير بُک ايجنسی رحمت مارکيټ قصه خوانیَ پيښور
- ★ پښتو سنټر توغی روډ کوېټه
- ★ زرين زاده يوسفزیَ شَخه شارجه امارات



## دَ کتاب واک اختيار دَليکونکی شَخه خوندی دے



بربښنا ليک:

shereenyar@afghanguluna.cjb.net

# ټرون

دغه هسې رنګله ګُل
خوشبودار، هُم خوشنما
په کاروان کښې دَ ژوندون
هُم جرس اَو هُم رڼرا
خاورې هُم شي تر خوا زر
هَسې دم، هَسې کیمیا
رَغاوے دَ تن اَو روح
یو دوا اَو هُم دُعا

# زړهٔ راښکونکې فن پاره

دې وخت چې زمونږ په لاسو کښې کومه مجموعه ده دا دَ شيرين يار يوسفزَی دَ شعرونو يوه خونده وَره اَو زړهٔ راښکونکې فن پاره ده. ښاغلے شيرين يار يوسفزے د پښتو په ادب، تهذيب اَو ثقافت ډېر مئين دے شاعرانه تخيّل ئې ډېر ښۀ دے د تصور بازئ ډېر په پوره تا اَلوَت کړی، دَ غزل په پيچ و خم زېر و بم اَو ښائېست و نزاکت ډېر ښۀ پوهېږی ورسره تشبيهه، استعاره، محاوره، کنايه، اشاره اَو تلميح، تعريض، تجنيس، تضاد، ابهام، ايهام ډېر ښۀ ډول پکار راولی. ماته ذاتی طور د دوئ په غزل کښې د صِنعت تضاد شعر ډېر خوند راکوی.

ښاغلے شيرين يار يوسفزے يو کلک پښتون زلمے دے اَو په خپل دستور او کلتور ډېر مئين دے نو په دا سوب باندې دَ دهٔ دَغزل تصوير کښې د پښتون ثقافت رنګ ځلاند ښکاری. کله چې مونږ دَلفظ پښتون تجزيه وُکړُو نو دا دَ پت، ښېګړی، تورې، وفا اَو ننګ نه مرکب دے. نو د يوسفزی په غزلو کښې دَ دې لفظونو تکرار ډېر په خوندوَر انداز کښې راغلے دے اَو بيا وَرسره دَ پټکی شملې، جرګې ننواتې ست مېلمستيا اَو حيا غَيرت غوندې خبرو يو جدا کَيف پَيدا کړيدے.

دَ ډول لۀ پاره دا څو شعرونه ــ

دَ غَيرت شملې شی لکې په پټکو کښې
دَ حيا غمی به برېښی لوپټو کښې
اوښکې مې ليمو ته شوې راتولې ستالۀ سپک نظر
څنګه پښتنه يې راپښا چې دې جرګې کړلې

حیا منم خو نظر تیټ دې نهٔ وی
ابرو دې بر کړه پښتنه غونډې شه

نهٔ مې پرېږدی ستا دَ دیدن تندې ماتولو ته
لږ خو مې خاطر دَ پښتو وکړه خپله سَت وکړه

پت دے، کهٔ اُلفت دے، خو توبه یٔ زهٔ دَ زیست ګنړم
تهٔ کهٔ محبت نهٔ کوې خَیر دے، قومیَت وکړه

ستا د غمونو مهلمستیا چې نهٔ کا
دې پښتنو ته وایو نهٔ پښتانهٔ

دَ دېٔ زلمی شاعر دا شعرونه دَ فن دَ قاعدې اَو دَ خیال دَ بنکلا لهٔ مخه غوره نمونې دی چې سړے پهٔ سوچ اَو فکر مجبوره کوی. دَ یو زلمی شاعر پهٔ وړومبئ مجموعه کښې دَ صرف او نحو اَو دَ فصاعت او بلاغت ضرورتونه پهٔ نظر کښې نیوُل اَو دَ کچه اُړه خبرو نه ډډه کوُل ډېره ښه خبره ده. دغسې کهٔ مونږه هر سړی خپله زمه داری تر سره کړو نو پښتو ادب به ډېره خُلا ؤمومی.
زما دُعا ده چې دغه زلمے شاعر خپل مشق سخن جاری ؤساتی.

حافظ محمد ابراهیم فانی زروبی کلے

# غوره موضوعات اَو ښکلي خيالات

شيرين زاده يوسفزي دَ خپلې شاعرۍ دَ پاره غوره اَو اعلی موضوعات خوښ کړيدي. دَ ځوانۍ په دې عمر کښې ئې هم دَ ښځې سطحي، اوپره، عشقيه اَو چقېدلي موضوعاتو نه خپل شعر بچ ساتلے دے. دَ دهٔ دَ شعر موضوعات دَ خپلې ژبې، خپل قام، خپل وطن اَو خپلې خاورې سره مينه، دَ پښتنو دَ يو والي ارمان، دَ پښتنو د مشرۍ بُحران، دَ پښتنې ثقافت دِفاع، د پښتنو په روښانه ماضي وياړ، د ټولنيز انصاف غوښتنه اَو دَ يو روښانه مستقبل اميد هغه موضوعات دي چې زمونږ د پښتو شاعرۍ ښېره جوړوی، اَو هم دا رنګونه زمونږ دَ معاصرو شاعرانو په شاعرۍ کښې په مختلفو شکلونو اَو بېلا بېلو امتزاجونو کښې مونډلے شی دا رنګونه دَ پښتو ادب ته ځانګړتيا بخښي.

هسې خو دَ شعر اَو ادب په موضوعاتو هيڅ قيد نشته. دَ ليکوال خپله داخلي دنيا، دَ نورو انسانانو ژوند اَو دا ويړ کائنات دَ شعر اَو ادب موضوع ده، خو دَ ښهٔ شعر اَوښې ادب پارې د پاره غوره موضوع اَو ښکلے خيال لازمي شرط دے.

دَ شيرين يار يوسفزي شعر (غزل دے کهٔ نظم) دَ تکنيک له مخه پوره اَو روان دے. ژبه ئې هم صفا اَو عام فهمه ده، چې لوستو اَو پوهېدو کښې څهٔ مشکل نهٔ راپېښوی، دېرې خبرې ئې تر پامه نېولې دی اَو خوارۍ ئې کړېده.

ښاغلے شيرين يار يوسفزے لا زلمے دے اَو دَ تخيّل دَ نيلي دَ زغل دَ پاره ورته ډېر وخت اَو اوږد مَيدان پروت دے. کهٔ مشق ئې جاری ؤساتلو نو پښتو ادب ته به غوره بخښنې ؤکړي.

ډاکټر اسرار هوتي مردان

۹۳-۸-۸

# افغان ګلونه

دا دَ شیرین زاده یوسفزی دَ شعری زیار نوم دے چې دَ جدید ادب دَ غوښتنو په بنیاد تعمیر شوے یو سود مند کړاو دے اَو کهٔ دَ نن وخت په معیار ئې تلُو، نو په باوَر سره دَ دهٔ لهٔ ذهن رانچوړ شوی دا لفظونه به دَ کار لفظونه ثابت شی، ځکه چې بناغلی شیرین زاده یوسفزی دغه لفظونه دَ حیات دَ تسلسل په جدوجهد دَ خپل مقصدی فکر معنوی چوکاټ کښې داسې پېوست کړیدی چې هر اړخ یې دَ پښتو ادب اَو دَ پښتون دَ ژوند دَ پاره فائېده مند دے.

دَ شیرین زاده یوسفزی هر شعر دَ فن اَو مقصد په لحاظ یو ښهٔ زیار دے اَو هغه ټول رنګونه پکښې موجود دی په کومو چې دَ منزل تصویر جوړیږی الله تعالیٰ دې وُکړی چې پښتانهٔ ورونړه دَ دهٔ دې زیار ته په درَنه سترګه وُګوری اَو هغه مقام ورته ورکړی کوم چې دَ ده جائز حق جوړیږی.

آمین

**اسلام نِګار**

۱۸ رمضان ۹۶ کراچی

# څو کرښې په خپله

کله چې د یوسفزو وېش کېدهٔ نو زمونږ مشرانو ته مُناره نومې کلے ملاوشو۔ د دوئ د بَرخې زمکه کومه چې دلته نهٔ پُوره کېده نو هغه ورته نور و ځایونو کښې لکه تربکئ (موجوده تربَیله ډیَم احاطه) پچمنړ اَو بل یو ځایٔ نیم ملاو شوه کومه چې د شیخ مُلی د وېش طریقه وه۔ مُناره نومې کلے کوم چې د اباسین پهٔ غاړه د وړاندې نه آباد وو یو ډېر یاد ځایٔ وو۔ د یوسفزو (یوسف منډړ) اَو دلازاکو تر مېنځه جنګونو کښې اَو نور ډول تاریخی حوالو کښې د دغه کلی زکر وخت پهٔ وخت راغلے دے۔

د ګجو خان اَو ملک بهائی خان تر مېنځه جنګ کوم چې آخر د دلازاکو د اِنخلا سوب وګر ځېدهٔ دغه ځایٔ خواوَشا شوے وو اَو دلازاکو شکست خوړلو نه پس د دغه کلی (منارې) د ټانګ نه پهٔ شنازونو خپل ځانونه د سین نه پورې وېستلی وُو۔ دغه مناره کلے د اوسنی کلی "زروبئ" نه لږ قبلې اَړخ ته جوخت د اباسین پهٔ غاړه آباد وو۔ چې اوس ئې هم نښې نِښانې شته۔ پهٔ کال ۱۸۳۷ء کښې بَره غرونو کښې ډېره واوره پرېوتې وه اؤ اباسین ئې غونډ ډب کړے وو یعنې دومره برف باری شوې وه چې د اباسین لار ئې ټوله نېولې وه۔ د اباسین ډب کېدو اَو بیا د دغه واورې د ویلی کېدو نه پس سمدستی د یو غټ سَیلاب راتلهٔ وُو۔

خلقو ته د دغه خطرناک صورتحال خبر ورکړے شو۔ دغه رنګ کلی پهٔ کلی نغارې وُشوې خو وُلې بیا وخت ډېر لنډ وو اؤ آخر هغه وُشو د کوم چې وېره وه۔ پهٔ اباسین کښې ډېر غټ اَو زورآور سَیلاب راغے اَو ډېر و وګړو ته د سنبهالی وخت ملاو نهٔ شو، ځېنې ځایونو کښې ډېر مالی اَو ځانی زیان وُشو خو وُلې اکثر خلک د وړاندې نه د خبرداری اَو سنبهالی پهٔ سوب بچ شو۔

د منارې کلی واړه خېل خانو خپله کډه هُم دغه ځای ته راوړلې وه چرته چې اوس تازه کلے " زروبئ" آباد دے۔ د دې سره سره دا اطلاع هُم ده چې

څو خلکو یا څو کورونو خپله کډه د سیلاب نه آګاهو پورې غورغشتي کلي ته ورلې وه او ځینې ماشومان د سیلاب په قیامت خیزه ساعت کښې د سنبهالي اوږد ومنډې عمل کښې د خواوشا کلو لور ته تلي دي او بې درکه شوي دي. د ځینې ماشومانو جینکو په مرغز کلي کښې د درک لګیدو خبرې هم تر غوږو رارسیدلي دي خو پوره معلومات او پېژندګلو نشته. دغه ځای (چرته چې اوس تازه کلے زروبۍ اباد دے) یو لویه ډېرئ وه په دغه باندې د خلکو د ابادۍ لپاره سمے راغے او هم دغه ځای ې کلے آبادول شروع کړۀ. د هغه وخت خلکو د یو خاص سوچ او منصوبه بندئ سره د کلي آبادے ؤکړۀ. د مستقبل ډېر ځینې ضرورتونه ې په نظر کښې ؤنهول ځکه نو دا کلے د یو "ماډل ټاؤن" غوندې ځلیه لری. دا بیله خبره ده چې وروستو پرې داسې خلک راغلۀ چې د وړو وړو ذاتي فائدو لپاره ې دومره لاندې والے (تجاوز) ؤکړۀ چې د مشرانو هغه ټول زیار ې برباد کړۀ.

دغه اوسني کلي "زروبۍ" له دغه نوم ؤلې کېښودے شۀ. نو دا یو خانله غټ سوال دے. دې لړ کښې څۀ ځېړنه شوې ده او څۀ روانه هم ده خو ؤلې زما خانله خیال دا دے چې دا نوم زروبے، زروبی یا زروبۍ د افغانستان یاد ځای سروبے، سروبی یا سروبۍ ځخه په څۀ نسبت یا بنیاد اېښودے شوے وی ځکه چې د لرې پښتونخوا د ډېرو نورو کلو نومونه داسې دي چې په هغو باندې بره پښتونخوا کښې د وړاندې نه ځایونه شته. هم دغه رنګ زمونږ د علاقې څۀ کلي د هندوستان د څۀ یادو ځایونو او ښارونو سره په یو نوم دي. دا هر څۀ اتفاقي طورنۀ دي شوي ضرور ې څۀ پس منظر شته. کېدے شي چې سروبے، سروبی یا سروبۍ او دا زروبے، زروبی یا زروبۍ یو نوم وی او وروستو هر کوم کښې د یو توری د بدلېدو رابدلېدو له امله دغه رنګ بېلتون راغلے وی. خو خیر هر څۀ هم چې وی نو دا خبره خو لکه د نمره ښکاره ده چې یوسفزی (یوسف، مندڼ) د افغانستان نه راکوز شوی او مېشته شوی دی. هم دغسې د واړه پښتنو د ابۍ دادا کور افغانستان دے.

دَ دغه مناري خلک پهٔ اَول کښې ډېر لږ وُو. خو اوَشا دَ څېړنې کشالو لهٔ کبله دوئ ته دَ خپل افرادي کمي احساس وو نو ځکه دوئ دَ يوسفزو (يوسف) دَ بره غرونو علاقو نه پره دار (دَ خپلې پرې جنبې خلک) راوستل اَو خانسره ئې پهٔ خپل لوخې لرګى اَو پوله پټي کښې برابر شريک کړهٔ. دغسې دَ دوَى افرادي قوت سېوا شهٔ. پهٔ دا سوب باندې يو خو اوس دَ دې کلي آبادي ډېره ده، دوَيم دا چې دلته يوسف مندنړ ګډوَډ دي اَو اوس هيڅ بېلتون ورکښې ممکن نهٔ دے. دلته دې دا خبره هُم ياده وى چې څهٔ لږ شان خلک نور هُم شته خو اکثريَت دَ يوسف اَو مندنړ دے. هَسې خو مندنړ ټول دَ خان سره يوسفزى ليکي اَو دواړه پهٔ يوسف نامه ياد دي خو دلته مونړ څخه دا خبره نوره هُم مخلوطه ده نو ځکه مونږ دَ خانسره پهٔ کلکه يوسفزى ليکو.

زمونږ دَ کلي زمکه ډېره مردم خَيزه ده، وخت پهٔ وخت ئې ډېر ښکلي اَو سپېڅلي خلک پَيدا کړي دي، ډېر مېړني اتلان، عالمان فاضلان، شاعران اديبان، سياسي اَو سماجي کارکنان، د مختلفو لوبو ښهٔ ښهٔ لوبغاړي اَو نور ډېر قابل خامن. د نومونو پهٔ تفصيل کښې ځکه نهٔ ځم چې هسې نه دَ چا حق تلفي رانه وُشي. دغه هستيو ډېر خدمات دي اَو پهٔ خپل خپل ځاى ئې يو لوړ مقام دے. زهٔ پهٔ خپله يو معمولي وَګړے يَم خو څومره چې رانه کېږي لګيائم دَ خپل کلي او غريب اُولس، دَ خپلې خاورې او وطن، دَ خپلې ژبې او کلتور اَو دَ خپل قام او ملي وحدت لپاره پهٔ هلو ځلو يَم.

حالاتو، واقعاتو، رَويو اَو احساساتو زما قلم له هُم تحريک ورکړے دے نو ځکه دَ ليک تَکه پَکه هُم کوُم. دَ کم عِلم اَو خامې پوهې څخه څهٔ تخليق کړم اَو محفوظ کړم. دَ دغه تخليقونو څخه مې څو نمونې راغونډې کړلې اَو دَ يو کتاب شکل مې ورله ورکړهٔ. دَ دغه کتاب چاپ کېدهٔ اَو خپرېده څو ځله وُځنډېدهٔ خو آخر دا کار هُم سر ته ورسېدهٔ. دا کتاب دَ يو وخت نه زما اَو زما دَ ملګرو ارمان غونډې جوړ شوے وو. نوم مې ورله دَ خپل افغان مِلت سره دَ لېونئ مينې اَو سپېڅلي جزبې لهٔ سوبه "افغان ګلونه" کېښودهٔ. بله يو خبره دا هُم ده چې زما دَ ډېرو شعرونو مراد اَو زياتو علامتونو نسبت دَ افغان اولس

(لر اَو بر) او دَ دویٌ دَ احوال ځنحه دے. خو بیا هم دَلوستونکو یوه خپله رائ هم وی اَو ماته دیٌ وخت دا پته نِشته چې عامو لوستونکو ته به دا نوم څنګه لیدے شی. دَدغه کتاب مواد (غزل، نظم) چې کوم وخت کښې لیکلی شوی دی دَ هغه وخت تولـه ذده کړه مې وَرباندې خلاصه کړې ده. وروستو څو فنی کتابونه هم پهٔ لاس راغلی دی نو دَ هغې پهٔ رنړا کښې مې بیا هُم ورباندې نظر تېر کړے دے. دَ مقدار پهٔ ځای مې معیار ته وړاندیز وَرکړے دے. ورسره دَ نحو، فصاحت او بلاغت دَ قاعدو اَو غوښتنو خیال ساتل مې هُم ضروری ګنړلی دی بلـه دا چې دَ ځان دَ اسانتیا دَ پاره مې دَ فن دَ سختو بندېزونو او قاعدِو نه دَجدت اَو انفرادیت پهٔ نوم تېښته نهٔ ده خوښه کړې.

اَو بیا کهٔ یو اړخ ته مې دَ وخت غوښتنې او تولنیز حاجتونه نظر کښې نېؤل ضروری ګنړل نو بل اړخ ته راته دَ خپلو قدرونو او روایتونو نه اوړېدل هُم ښهٔ نهٔ ښکارېدهٔ. هر خواچې مې کتلی دی نو مزل اَو حد دواړو مې پام رانبکلے دے هُم پهٔ دا سوب باندې هر خوا هر ګام دَ څهٔ ناڅهٔ اندازې سره تړلے شوے دے.

دَ دې نه زیاتی څومره پورې چې ممکنه وه نو فقره، جمله، شعر اَو قافیه عَیب نه بچ ساتلو لپاره مې خپله پوره پوره چاره کړې ده. پهٔ خاص توګه باندې مې دَ لفظی اَو معنوی تکرار دواړه دوله عَیب نه دَ شعر دَلمن ژغورلو کوشش کړے دے. څومره پورې چې دَ غزل خبره ده نو دَ غزل قسمونه لکه انفرادی، مسلسل، ذوالقافیتَین اَو تضمینی دول دَ تولو تر څهٔ حده حق اَدا شوے دے. خو ځلې دَ غزل خاصیَت انفرادیَت وی نو پهٔ دا سوب باندې انفرادی زیات لیکلے شوے دے پاتې قسمونه ایله دَ نمونې یا دَ څهٔ ضرورت لهٔ مخه لیکلے شوی دی. دانسته طور دَ خوشحال بابا، حمزه بابا اَو حمید بابا پهٔ زمکه تضمین لیکلے شوے دے. دَ دې نه زیات کهٔ چرته دَ کوم غزل زمکه دَ چا دَ زمکې سره یو وه اَو یا یٔ څهٔ نزدېکت وو نو دا به محض اتفاقی خبره وی.

دَ شعر دَ پاره ډېر موضوعات وی اَو دَ هرچا خپله موضوع، مضمون او مفهوم وی خو څهٔ موضوعات دَ ډېرو شاعِرانو اَو پهٔ خاص توګه دَ همعصر لیکوالانو

خپله کښې مشترک وی نو دغه سوب باندې پهٔ خیال اَو یا مضمون کښې یکسانِیَت پَیدا شی۔ ما خپل ځان دا کوشش کړے دے چې دغه څهٔ دې وُنهٔ شی اوْ بلـه دا چې پهٔ چِڤهدلې موضوع دې هَډو طبع ازمائی وُنهٔ شی خو بیا هم دا احتمال هر وخت موجود وی چې څېنې وخت ترې بښهٔ بښهٔ مېړنی هم خپل قلم بچ نهٔ کړے شی۔

زما ځانلـه یو جدا سوچ اَو اپروچ دے۔ زما خیال یو ځانله زاوِیه لری۔ زما دَ تشبیهـ استعارې، او اشارِې کنایې څخه یو خپل اَو جاندار مفهوم دے چې سودمند هُم دے هُم دغسې دَ علامتونو نه یو جدا مراد اَو نسبت دے چې لوستونکو ته به دَ کره کتنې نه پس هرڅهٔ څرګند شی۔

دَ دې نه پس نظم راځی، تر کومه چې دَ نظم خبره ده نو دَ نظم ډېر قسمونه دی چې پهٔ هغه منصوبه بندۍ مې نهٔ دی لیکلی۔ دا وخت دَ څهٔ ضروری اَو جزباتی خیالاتو او احساساتو نبغ پهٔ نبغه څرګندوُنې لپاره مې څو نظمونه وُلیکل چې افغان ګلونه کښې شامل کړے شوی دی۔ دلته دې دا خبره هُم یاده وی چې دَ غزل جامه تغزل ده چې دَ ښائېست او محبت دَ رَنګ نه دَ نزاکت او لطافت پهٔ تار ګنډلې شوې اَو دَ فصاحت او بلاغت ګُل کاری پرې باندې سازه شوې وی۔ پکار دی چې مونږ خپل غزل دَ اوپره توب، تعصب اَو نعره بازۍ نه بچ کړو۔ دَ هر ډول خیال اَو جزباتو دَ نبغ پهٔ نبغه اظهار لپاره نظم یو غوره صنف دے۔ بلـه دا چې دَ موضوع څهٔ قَید هُم نهٔ لری۔ هر ډول موضوع لپاره دَ نظم ډېر څېنې قسمونه شته۔ پکار دی چې داسې وخت کښې دَ نظم لمَن وُنېولے شی۔

تر کومه پورې چې دَ شعر دَ بحر خبره ده نو مونږ څخه چې دَ پښتو شاعرۍ خپله کومه لار، قاعدِه یا کلیه رارِوانه ده اَو مقدمینو کومه لار اختیار کړېده نو زهٔ هُم دا وخت پهٔ هغه لاړ یم۔ یعنې دَ سَیلابونو یا چپو قاعده۔ مقدمینو چې څومره چپو کښې مختلف شعرونه لیکلی دی اَو یا ئې دَ کوم لفظ اکثر څومره چپې حساب کړې دی نو ما خپل ځان دَ هغې نه اَوړ هډل مناسب نهٔ دی ګڼړلی خو دَ ځان دَ اسانتیا لپاره دَ لفظونو دَ اختلاط اَو دَ حرکتونو دَ انضمام پهٔ حق کښې نهٔ یم۔

اَو دا خبره کوُم چې غلطي وي اَو کهٔ چرته چا دَ مجبورئ او يا دَ ځان دَ خلاصي پهٔ بنياد کړې وي نو تقليد ئې نهٔ دے پکار.

پاتې دَ وزن خبره شوه نو وَزن يو مسئله ده اَو پښتو کښې ځېنې ځايونو کښې وزن دَ بحر تابع نهٔ دے، دَ پښتو خپل مزاج اَو لهجه ده. چې دَ نورو ژبو لفظونه هم پښتانهٔ پهٔ خپل رنګ کښې وائي اَو هُم پهٔ دغه رنګ کښې ئې پهٔ شعرونو کښې پکار راولي. دغه وجه ده چې دَ پښتو شاعِران پهٔ اندازه باندې (بې لهٔ کومې کليې نه) پهٔ مختلفو وَزنونو کښې شعر ليکي اَو هم هغسې ئې وَيُونکي (بې لهٔ کوم هدايت نه) وائي نو ځکه دَ بلې ژبې کليه قاعده زمونږ دَ پښتو ژبې سره سمون نهٔ خوري. دَ پښتو وَزنونه دَ يو خاص مشق نه پس خپله دَ سرې پهٔ قابو کښې راشي. دَ کتاب پهٔ آخر کښې به پهٔ دغه څهٔ هم خبره راشي.

آخر کښې دَ املا خبره ده نو دَ پښتو دَ ليک لار چې کومه پرېکړه شوې ده اَو روان وخت چې کومه املا کښې پښتو ليکلے کېږي هُم پهٔ هغه رنګ املا کښې "افغان ګلونه" وړاندې کوُم خو دا خبره يو ده چې دَ نوې املا څهٔ مسئلې هُم دي اَو دَ پرېکړې وخت کښې خبره پوره ډول نهٔ ده سپينه شوې. دغه څهٔ باندې ما څهٔ ليکل کړي دي اَو دَ دَغه مسئلو تر څهٔ حده حل مې هُم راوړستلے دے کهٔ مشران غاړه کېږدي اَو خبره بنهٔ پهٔ سند اَو حواله وَشي نو هيله ده چې واړه مسئلې ختمې شي.

ځکه دا وخت "افغان ګلونه" تر څهٔ حده پهٔ اصلاح شوې املا کښې وړاندې کوُم، ډېره معمولي تبديلي ده چې لوستونکو ته به هيڅ کوم کړان نهٔ راپېښوي اَو دا تبديلي يواځې دَ مسئلو دَ حل تر حده ده. دَ پرېکړې دَ خلاف ورزي اَو يا ځانله دَ يو جدا مکتب دَ پرانېستلو لپاره نهٔ ده. پهٔ دغه څهٔ باندې به هُم دَ کتاب آخر کښې دَ يادوُنې پهٔ ليک کښې تفصيل راشي چې دَ هغې پهٔ لوستو به لوستونکي پهٔ ډېر څهٔ وَرسي.

باقي زهٔ انسان يَم اَو انسان عاجزه دے، دومره ډېر تعليم، کومه تجربه اوُ څهٔ مطالِعه مې هُم نشته. بله دا چې دغه زما وړومبے شعري زيار دے.

دَ لیک پهٔ حواله سره چې مې دَغه کومې خبرې وُکړې نو دا مې دَ کومې دعوې پهٔ غرض نهٔ دی کړی دا واړه بیان مې یو نقادته دَ اسانتیا لپاره، دَ څو خبرو رنړ وُلو اَو دَ خپل نیّت او کوشش څرګندوُلو پهٔ غرض وُکړه۔ نور ماته دا وخت لا هیڅ پته نشته چې زهٔ به پهٔ خپل مقصد اَو کوشش کښې څومره بریالے شوے یم۔

زیاتی دَ دُعا حق مې هر وخت شته اَو دا غواړم چې زما دا زیار دې ځای وُنیوی۔ خدای دې وُکړی چې افغان ګلونه دَ پښتو ژبې دَ وَدې، دَ پښتون کلتور دَ دِفاع او دَ پښتون اولس دَ هر ملی غورځنګ پهٔ لار کښې بله ډیوه وُګرځی۔

آمین

ستاسو کشر

شیرین یار یوسفزے زروبیؔ

دَ ښائیښت پهٔ زکر، فکر
زَما هُم سر پهٔ زنګون شته
ستا دَ مخ سرخی به بریښی
زَما دومره جګر خون شته
ستا جمود دَ تغافل کښې
یو غورځنګ مې دَ پاڅون شته

# اَمېل


| شمېر | وړومبنۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| | **غزل (برخه)** | |
| ۱ | څو دَ وختونو حادِثو کښې اوسم | ۲۶ |
| ۲ | بوړنوونکې سانپولې غونډې شپه ده | ۲۷ |
| ۳ | بس دے دَ درد او دَ درمان خبره بيا مۀ کوه | ۲۸ |
| ۴ | خوي ئې لۀ پخوا راته معلوم دے | ۲۹ |
| ۵ | چې دَ نيازمېنو تلوسو سره څي | ۳۰ |
| ۶ | ماوې: نن دې نظر څوږ پۀ لر او بر شۀ | ۳۱ |
| ۷ | ستا دَ يادونو دې جرګو پۀ مخه واخستمه | ۳۲ |
| ۸ | راشه بدرګه دَ لېونتوب څانسره مَل کړه | ۳۳ |
| ۹ | دا پۀ بدى باندې لا نۀ پوهېږې | ۳۴ |
| ۱۰ | څوکۀ يار مې پرى رويه ګل اندام دے | ۳۵ |
| ۱۱ | پورته زلفان ښکته بانړۀ پښتانۀ | ۳۶-۳۷-۳۸ |
| ۱۲ | چې پۀ شوو صحرا ګانو پسرلے شوم | ۳۹ |
| ۱۳ | چې پښتون اشنا مې ننګ را باندې نۀ کا | ۴۰ |
| ۱۴ | چې لمنې رانه پاتې تر ازغو دى | ۴۱ |
| ۱۵ | شپه انجام وته زر ؤرسى سحر شى | ۴۲ |
| ۱۶ | لړ دې زلفو اَو بانړو ته فکر ؤکړه | ۴۳ |

| مخ | وړومبنی مصرعه | شمېر |
|---|---|---|
| ۴۴ | مړاؤ ستر کونه يې هسې مړه کاته شي | ۱۷ |
| ۴۵ | څوک به څه زمونږ دَحاله نوخبر شي | ۱۸ |
| ۴۶ | ستا دَ مينې لېونې نه يُونو څه يُو | ۱۹ |
| ۴۷ | که تاوجن دي خو دَ مينې سره اور ونه | ۲۰ |
| ۴۸ | يو خوا مولاس کښې دَ ساقي سپينې تسبې وَليدې | ۲۱ |
| ۴۹ | لکه سپرلي دَغوړېدو ورځې دي | ۲۲ |
| ۵۰-۵۱ | خو کوڅه ترېنه خطا شي | ۲۳ |
| ۵۲ | مست دے لړ دې سم کړه اوسنے نظر | ۲۴ |
| ۵۳ | چې مې عشق سره په زغل شه | ۲۵ |
| ۵۴ | وَلې مو دومره دېر ازار اخلې | ۲۶ |
| ۵۵ | څه به دغه ژوند وي چې بې ياره بې دياره وي | ۲۷ |
| ۵۶-۵۷ | دا دې څه رنګله بانړه دي | ۲۸ |
| ۵۸ | دَ يادونو انبارونه دي اَو زهٔ يَم | ۲۹ |
| ۵۹ | چې مدام دَ زړهٔ دَ درد څخه کوکار کړم | ۳۰ |
| ۶۰ | څهٔ به وايمه څه خوَند دَ ورځو شپو دے | ۳۱ |
| ۶۱ | څهٔ رنګونه دَ دوران دي | ۳۲ |

| شمېر | ورومبنۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۳۳ | څو کهٔ عشق تر واړو گران دے | ۶۲ |
| ۳۴ | گوره وته ښکلو اداگانې پښتنې کړلې | ۶۳ |
| ۳۵ | څومره درد چې مونده کېږی ستا دَ مینې افسانه کښې | ۶۴ |
| ۳۶ | ښکلے مخ دې لکه گل هسې خندان دے | ۶۵ |
| ۳۷ | همدمان مې په دا جور و جفا کا | ۶۶ |
| ۳۸ | څو کهٔ په خلهٔ، کهٔ په بانړهٔ ؤوایم | ۶۷ |
| ۳۹ | خو زما اَو ستا تر مینځه یارانه شوه | ۶۸ |
| ۴۰ | اے مطربه بیا اغازې دې نغمې کا | ۶۹ |
| ۴۱ | ساقی ډکې چې دَ مېّونه کاسې کا | ۷۰ |
| ۴۲ | بلاگانې دَ جهان مې خان پسې کړې | ۷۱ |
| ۴۳ | چې په مخ ئې نن څهٔ نوے عبارت دے | ۷۲ |
| ۴۴ | پسرلی دې په دا خواشی | ۷۳ |
| ۴۵ | زړهٔ دے اخر دَ ے هم څهٔ هوا غواړی | ۷۴ |
| ۴۶ | ستا په مخ مې دَ فکرونو غلبله ده | ۷۵ |
| ۴۷ | دَ جهان لهٔ سود اَو زیان ئې زړهٔ اوچت شی | ۷۶ |
| ۲۸ | هسې زهٔ لهٔ درد اَو غمه کور وکړیم | ۷۷ |

| شمېر | ورومبنې مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۴۹ | تـــهٔ زمـا دَ زړهٔ ارمـان يْ زهٔ دَتـا دَ زړهٔ درمان يْم | ۷۸ |
| ۵۰ | کـلـــه زهٔ کـــهٔ پسـې وروک مـې لـــهٔ کـالـــهٔ شم | ۷۹ |
| ۵۱ | شـوخ نـظــر کبنـې دې نــن هسـې رنګ حيـا ده | ۸۰ |
| ۵۲ | تــل چـې دې مــقـصـد دَ ژونـدانـــهٔ بـولـم | ۸۱ |
| ۵۳ | هــم چې پــهٔ تـلــهٔ هم پــهٔ راتـلـهٔ نـهٔ ګـورې | ۸۲ |
| ۵۴ | ســرو مــنـګـلـو وَتــه هسې نظـر نــهٔ کـا | ۸۳ |
| ۵۵ | وايـــه راتـــه وايـــه نــن چـې څـــهٔ وايـې | ۸۴ |
| ۵۶ | ستــرګــو تـــه مـې اوبنـکـې پېنتـنې راشـي | ۸۵ |
| ۵۷ | ګــرانـــه اشـــنـــا چـې راتـــه تـــا ؤکتـل | ۸۶ |
| ۵۸ | دغــــــه دَ درد او دَ درمـــــان خبـــرې | ۸۷ |
| ۵۹ | چــاکـــهٔ رنـګـونـــه دَدنيـا ؤکـاتــه | ۸۸ |
| ۶۰ | يــادی اوبنـکـې چـې راډک مـې تـرې ليـمـهٔ شي | ۸۹ |
| ۶۱ | ؤلـــې تـــل غــوارُو آمـــان خپـــل | ۹۰ |
| ۶۲ | چـې دا ستـا دَخُـوږ نــظـر پـلـوشې راغلي | ۹۱ |
| ۶۳ | زړهٔ مـې راتـــه وايـې چې دَبنـکلو محبت ؤکـړه | ۹۲ |
| ۶۴ | هـــمـــه بنـکـلا واړه زَيبـــا ګـــلـونـــه | ۹۳ |

| شمېر | وړومبنۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۶۵ | چې زما دَ مينې نوم پکښې الزام دے | ۹۴ |
| ۶۶ | تاته په کاته کۀ مې دَ سترګونه نظر څي | ۹۵ |
| ۶۷ | دا غصه ده، دا خندا ده | ۹۶ |
| ۶۸ | څنګ به دَ ژوند څنګ کښې مست نګهت په ګدا نۀ غواړو | ۹۷ |
| ۶۹ | دغه محفل کښې دې چېپيا وه نو بيا چا څۀ وې | ۹۸ |
| ۷۰ | زما سترګونې واخله په بانړو کښې | ۹۹ |
| ۷۱ | نن چې دَ ډېره لېونتوبه درته ما څۀ وُوې | ۱۰۰ |
| ۷۲ | چې دَ خپلو وينو جام زما نصيب شي | ۱۰۱ |
| ۷۳ | په خمبا هسې بانړۀ کا | ۱۰۲ |
| ۷۴ | هم دې په زړۀ هم دې په خلۀ پوهېږم | ۱۰۳ |
| ۷۵ | چې زما سره هَم کار دے | ۱۰۴ |
| ۷۶ | بيا دَ ښکلو نظرونو انظمام دے | ۱۰۵ |
| ۷۷ | کله ګوری په خندا کله غُصه کښې | ۱۰۶ |
| ۷۸ | نۀ ې خوب نۀ ې دمه چرته کوم دم شي | ۱۰۷ |
| ۷۹ | کله خو هسې تکه سره غونډې شه | ۱۰۸ |
| ۸۰ | لړه ترخه شوه پښتنه جوړه شوه | ۱۰۹ |

| شمېر | وړومبنۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۸۱ | زندګي به موبې کته بې پوزې کړو | ۱۱۰ |
| ۸۲ | څوکې دَ غرهٔ دَ سپېلنو ماتوی | ۱۱۱ |
| ۸۳ | دَ وختونو دَ نازونو غلبلې دی | ۱۱۲ |
| ۸۴ | غورزولے چې دې داسې لهٔ نظر یم | ۱۱۳ |
| ۸۵ | ستا پهٔ عشق کښې مې څهٔ حال دے | ۱۱۴ |
| ۸۶ | چې دَ زلفانو اَو بانړو قیصه ده | ۱۱۵ |
| ۸۷ | ستا چې لهٔ خوانۍ وعدې نهٔ راځی | ۱۱۶ |
| ۸۸ | چې مئېنان درته پهٔ در پراتهٔ وی | ۱۱۷ |
| ۸۹ | چې رایاد تېرهٔ مژګان کړم | ۱۱۸ |
| ۹۰ | نن وَ ماته چې ئ مخ اَو نهٔ ئې شا وه | ۱۱۹ |
| ۹۱ | چې مې چنګ پهٔ پخوانو تارونو ساز شهٔ | ۱۲۰ |
| ۹۲ | کهٔ سنګینې دَ وختونو مرحلې دی | ۱۲۱ |
| ۹۳ | چې ستا دَ حُسن پهٔ بازار خُمه | ۱۲۲ |
| ۹۴ | کهٔ بنکلا ده، کهٔ خندا ده یا ادا ده | ۱۲۳ |
| ۹۵ | زهٔ پهٔ بولان کهٔ پهٔ خَیبر پرېوتم | ۱۲۴ |
| ۹۶ | چې اشنایې دَ سترګو سرو کوُمه | ۱۲۵ |

| شمېر | وړومبنى مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۹۷ | ستا له الفت چې بغاوت کومه | ۱۲۶ |
| ۹۸ | بې دَ زړونو نه دَ ښکلو کلام چرته | ۱۲۷ |
| ۹۹ | نه دې په خيال کښې نه په زړه پاتې شوم | ۱۲۸ |
| ۱۰۰ | ته چې چاوَته ورکوري هغه زه يې | ۱۲۹ |
| ۱۰۱ | چې کله زه وائم نو ته ؤوايې | ۱۳۰ |
| ۱۰۲ | څه چې مې په زړه راځي هم هغه مې په خلهٔ راځي | ۱۳۱ |
| ۱۰۳ | ستا چې بَل په لر اَو بَر دَ ښېلتون اور دے | ۱۳۲ |
| ۱۰۴ | خلقو چې دَ ورو ځو اوْ بانړو خبره ؤکړله | ۱۳۳ |
| ۱۰۵ | خو ستا دَ مخ اَو سترګو دَ اثر خبرې کېږي | ۱۳۴ |
| ۱۰۶ | چاوې چې تاونه خفه نه شوله | ۱۳۵ |
| ۱۰۷ | نوے يار چې نوې نوې بهانه کا | ۱۳۶ |
| ۱۰۸ | خداى دې ؤکا چې بيا هغسې ماښام وى | ۱۳۷ |
| ۱۰۹ | څه دا ستا له سياه خال وئيلے نه شم | ۱۳۸-۱۳۹ |
| ۱۱۰ | چې له بيونتوب سره اشنا نه شولې | ۱۴۰ |
| ۱۱۱ | نن خو دې بيا داسې بانړه اوده دی | ۱۴۱ |
| ۱۱۲ | خېر دے که تا سره اشنا نه شومه | ۱۴۲ |

| شمېر | وړومبنی مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۱۳ | ستا چې شوے ګُور "اوربَل" دے | ۱۴۳ |
| ۱۱۴ | لا مړاوې سترګې مړۀ کاتۀ یادَوُم | ۱۴۴ |
| ۱۱۵ | داسې مې رېژی دَ ارمان ګلونه | ۱۴۵ |
| ۱۱۶ | زما ژوند زما قیصه ده | ۱۴۶ |
| ۱۱۷ | دا وجود مې یو زره ده | ۱۴۷ |
| ۱۱۸ | ستا کۀ پۀ مخ څۀ عبارت نشته دے | ۱۴۸ |
| ۱۱۹ | دَ انګو خبرې خلاصې نۀ دی | ۱۴۹ |
| ۱۲۰ | چې نۀ شپه شته نۀ زلفان شته | ۱۵۰ |
| ۱۲۱ | څکه ملغلره خو کریابه ده | ۱۵۱ |
| ۱۲۲ | ځان مې پۀ قضا باندې رضا شولو | ۱۵۲ |
| ۱۲۳ | سره شوخی دَ تور لیمۀ ده، کۀ صهبا ده پۀ پیاله کښې | ۱۵۳ |
| ۱۲۴ | دَ سرو سترګو احترام کا | ۱۵۴ |
| ۱۲۵ | جوړه به ګرمی شوے نظر کا بیا | ۱۵۵ |
| ۱۲۶ | تاوې: زۀ دَ جبر انتها کوُم | ۱۵۶ |
| ۱۲۷ | ژوند مې ستا دَ زلفو تار دے | ۱۵۷ |
| ۱۲۸ | چې پۀ لب اَو پۀ رخسار یم | ۱۵۸ |

| شمېر | وړومبنۍ مصرعه | مخ |
|---|---|---|
| ۱۲۹ | دېوانه که فرزانه ئېم | ۱۵۹ |
| ۱۳۰ | دَ بانړهٔ ې څهٔ آ سمون شته | ۱۶۰ |

## نظم (برخه)

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳۱ | اے دَ مېړنو وطنه! ښا داوسې | ۱۶۲-۱۶۳ |
| ۱۳۲ | اے دَ پښتنو بچو راپورته شئ | ۱۶۴ |
| ۱۳۳ | تهٔ دَ سرو ګلو، شنو باغونو شوقین | ۱۶۵ |
| ۱۳۴ | یو بابا دے چې پښتون دے | ۱۶۶-۱۶۷ |
| ۱۳۵ | څار شمه دَ تنانه تهٔ زما پښتونستان ې | ۱۶۸-۱۶۹ |
| ۱۳۶ | لهٔ وجوده ې دَ ګل څوانی لوګے شه | ۱۷۰ |
| ۱۳۷ | دا دَ جنت، جنت وطَن کلے پهٔ څهٔ ورانېږی | ۱۷۱ |
| ۱۳۸ | اے کابله دا پهٔ کومه بلا ؤسوې | ۱۷۲ |

## یادوونې لیک

۱۷۳ - ۱۹۲

# دُعا

خدایه!

واک دَ ژوند مې خپل زما کړې
حال مې واخلې، ماضي را کړې
لَر اَو بر مې تول ښکلا کړې
پښتانهٔ یاران پُخلا کړې
تربګنئ لهٔ مینځه یوسې!
تول یو مُوټې، یَو صلا کړې
دَ وَطن هَمه وَګړی
دَ یوبل دَ درد دوا کړې
شملې ځکې، تاو برېتُونه
ځُجرې ډکې پرېنه بیا کړې
دې ځَنډلونو، دې تپو نه
دَ هَر غم قاصد پُشا کړې

هر بچې زما دَ خاورې
دَ خپل دَوُر احمد شا کړې

* * * * *

# غزل

دَ غــزال غــونـدي مــي زغــل دے
هَــره کــريکــه مــي غــزَل دے

○

څو دَ وختونو حا دِثو کښې اوسم
خو ارادو اَو حوصلو کښې اوسم
لکه زَره کۀ خپل ځۀ ډک نۀ لرم
ستا دَ نظر پۀ پلوشو کښې اوسم
دَ ازادئ اَو خپلواکئ پۀ خاطر
ستا دَ اُلفت پۀ زولنو کښې اوسم
حال مې ماضي نه استقبال جوړوی
نَه چې پۀ تېرو زمانو کښې اوسم
غافله یاره! سترګې ډکې لرم
دَ مخ رونړئ پۀ تلوسو کښې اوسم

ځار ئې دَ مخ لۀ هغه بلې ډیوې
شیرینه! چا وې؟ وسوسو کښې اوسم
★★★★★★

○

بـو رنـړنکـې سا نیـوّلـې غـونـدې شپـه ده
میـرات ځـم ړے انتـظـار دے، شوګیره ده
شپـه اَو ورځ ده، یـو لـه بلـه پسې اَوړی
دَ سبـا اَو دَ بـېګـا هسـې وعـده ده
مئـېـن زړهٔ "آتـش فشـان" لکـه چـاوډلے
دَ بنـا ئـېسـت پـهٔ زمٔکـه جوړه زلـزلـه ده
دَ سـودا خبـره دومـره ګـېـنـې نـهٔ ده
بـاري! زړهٔ لـه مـې راغلـې وسوسه ده
پښتـنـې څـویـونـه غـوارم ځـوک دې وُکـا
ګـېـنـې یو هسـې هـنـدکـئ اوٌ پښتـنـه ده
ستا پهٔ رنګ ځـېـنې څـهرې دی، زړهٔ مې ډک شو
نـهٔ پو هـېـږم چې حـجـره کـهٔ بتخـانـه ده
څـوکـهٔ شپـه دَ انـفـصـال ډېره درنـه ده
خـو بـا وَر مـې دَ وصـال، بلـهٔ ډېـوه ده

هـم راهـان کـا خـبـردار شیـرینـّـه یاره!
لـنـډه شـوې وَ مـنـزل تـه فـاصلـه ده

★ ★ ★ ★ ★ ★

بس دے دَ درد اَو دَ درمان خبره بیا مهٔ کَوه
"پهٔ خَیرې پربږده" نوره عشق پورې خندا مهٔ کوه
عاقله! تهٔ ؟ اَو دا دَ مینې تا وانی کاروبار
یا خولهٔ عقله دې لاس واخله، یا بیا دا مهٔ کوه
هسې نه تیرې زمانې وَته مې وُګرځوې
وخته! دا هسې ازمېښتونه نور پهٔ ما مهٔ کوه
لا خو الفت کښې دَ زیاتی تر انتها نهٔ یې لا ر
لا دې اشنا دَ پېرزوئېنې ابتدا مهٔ کوه
څو چې دې زړهٔ دَ محبت پهٔ وسیله نهٔ وی داد
عبث لوظونه دَ سبا اَو دَ بېګا مهٔ کوه

چې پکښې درد دَ مینې نهٔ وې هر یو هغه وجود
چرې ستائېنه یې دَ حسن اَو ادا مهٔ کوه

* * * * * *

○

خوږي لـه پـښـوا راتـه معلـوم دے
څـۀ بـه وايـو دي کښې چې مـا شـوم دے
مخ چې دومره زر ئې کـړۀ بل خـوا تـه
لا خـو دے زيـرک اَولا بنـۀ شـوم دے
خَيـر دے تـۀ نـازُونـه زنـګـوه پـرې
تـار دَ مـحبـت کـۀ مـو لا اُوم دے
خلـۀ چې مې راسپـړم تـۀ پرې راشې
زۀ نـيـم اَو زړګيـه داستـا نـوم دے
خـلاص مـولاس اَو پښـې لـۀ زولـنـو دي
ذهـن مـو لا هـغسې مـحکـوم دے
ؤخـانـدی اَو ؤګـوری بل خـوا تـه
دغـه يـو انـدازئې څـۀ معـمـوم دے
تـا کـۀ څـوک رايـاد کړی مـا بـه يـاد کړی
نـوم مـې دَ تـا نـوم سـره مـوسـوم دے

بنـکـلـی بـلا سـره دی شيـرين يـار تـه
وایؔ دَدې شـعـر دې څـۀ مـفـهـوم دے ؟

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

چې دَ نیاربینو تلوَسو سره ځی
هغه سنګینو ارادو سره ځی
ستا پېغلتوب فکر ته څهٔ دے زَما
دَ خپلو ځوانو ولولو سره ځی
هغه خیالوَنه دې خیالونه دَ څهٔ؟
چې دَ وختونو غلبَلو سره ځی
پهٔ مخ دې زلفې خورې کړې راغلې
خلک مزار له دَ ډیوو سره ځی
یو دَ رېښتینی لېونتوب بدرګه
دَ اُمَیدونو قافلو سره ځی
زَما مئېن زما دَ مینې قاتل
دَ زَمانې دَ تقاضو سره ځی

چې انتظار دَ وخت اَو بخت ترې نهٔ شی
شیرینَ اشنا دې دَ هَغو سره ځی

★★★★★★

○

ما وې: نن دې نظر خوږ په لر او بر شه
تا وې: واخله! پسرلے په "سمه" غر" شه
ما وې: زلفو دې لاس واخستهٔ لهٔ مخه
تا وې: توره شپه دې لاړه، سپین سحر شه
ما وې: کور مې دَ اُمَید واړه تالا شهٔ
تا وې: وار وُکا کهٔ لاّ مې لاس لا بَر شهٔ
ما وې: زړهٔ اَو ځیگر دواړه زما ؤسوهٔ
تا وې: شُکر کړه چې بچ دې پایٔ اَو سر شهٔ
تا وې: ؤگوره بانړهٔ مې پُښې ځُوکې
ما وې: نن هدو سُورے زما تېر شهٔ
هُم هغه به دَ خپل ځان موندٔ نه ؤکا
لکه بوئ دَ گل لهٔ ځانه چې بهَر شهٔ
هر هغه به ستا دَ در موندٔ نه ؤکا
چې گدا غوندې بې کوره در پهٔ در شهٔ
لا اتنړ مې دَ وصال نمانځلے نهٔ وو
چې دې وير دَ انفصال راته پهٔ سر شهٔ
ځارې زهٔ لهٔ ځلانده جوسې شیرینهٔ!
پسې ورک زما دَ سترگو نه نظر شهٔ

★ ★ ★ ★ ★ ★

ستا دَ يادونو دِې جرګو پهٔ مخه واخستمه
کهٔ خپلو اوښکو، اسوېلو پهٔ مخه واخستمه
ژوندونه! ستا دَ تار تار شوی ګرېوان څهٔ وګړمه
دَ يار غمونو لېونو پهٔ مخه واخستمه
دَ مخ اَو زلفو ئې ښکلا اَو مشغولا منمه
دَ ورځو شپو دِې کشالو پهٔ مخه واخستمه
فکر مې وُمونده وحدت لهٔ خوَرو زلفو څخه
څوکهٔ دا هسې اند ښنو پهٔ مخه واخستمه
زهٔ پهٔ مَزَل کښې دَ منزل څخه غافل نهٔ يمه
دا خو دې دېرو شوګيرو پهٔ مخه واخستمه

شيرينَه! څهٔ دَ سپين محل پهٔ تماشه ئې شمه
خپله جونګړه کښې لوګو پهٔ مخه واخستمه

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

رَاشه بدرګه دَلیونتوب ځانسره مَل کړه
څه دې بېیا پهٔ لاره دَ منزل پهٔ لور مَزَل کړه
ژوند کهٔ تر قیامته ځانله غواړې پهٔ دنیا کښې
راشه پهٔ مېچّنه کښې دَ مینې، دې سردَل کړه
زړٔلهٔ دغه لارې اَؤختلے پهٔ هېڅ نهٔ یَم
تهٔ ګورے واعِظه! دا خیالونه دې بَدل کړه
زلفو اَو رخسار ته به دې بیا لمبه، لوګے شم
یاره تهٔ لږ هغسې اوروته پهٔ ما بَل کړه
خپٔله به دَ وخت دَ قافلې مُهار پهٔ لاس کړې
پَل دې لږ دَ تلٔلې زمانې سره پهٔ پَل کړه

تا به یوسفزے شیرینَ دَ ځانه سره خپل کا
اے پښتونه یاره! غَیرِیَت لهٔ ځانه بیَل کړه

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

دا پـــهٔ بـدیَ بـــاندې لا نـــهٔ پو هېږې
چې نـور بـه دې نـه لا څـهٔ ښـهٔ پو هېږې
ستـــا احتِيـــاط تـــه فکـــر وورړے ئِمـــه
پـهٔ نفـس پو هـېږې کـهٔ پـهٔ زړهٔ پو هېږې
چـــې عبـــارت دَ مـــخ ئې ؤلـولـوې
زمـونږ نظر کښې بـه هـلـهٔ پو هـېږې
ستـــا لـــهٔ نـظـره، لـــهٔ ګـمـانـه لـوګـے
زمـــا پـــهٔ زړهٔ، زمـا پـــهٔ خـلـهٔ پو هـېږې
پـــهٔ لا فـــانـی حسن مـئـېـنـه وايـــه!
پـــهٔ سُـود اَو زيـان دې دَ خَـان څـهٔ پو هېږې

شيـريـنـــهٔ! وايـــه، دَ ژوندون لـهٔ ګرِیَ
څـــهٔ ئې پـــهٔ تـلـهٔ څـــهٔ پـــهٔ راتـلـهٔ پو هېږې

★ ★ ★ ★ ★ ★

## تضمین پهٔ شعر دَ خوشحال بابا

څو کهٔ یار مې پرې رویه، ګل اندام دے
وَلې! بې مینې ښائېست دَ زهرو جام دے
پهٔ خندا ئې غاړه ورکړه دَ یار غم له
پهٔ ښاغلو لېونو زما سلام دے
کهٔ مې "یار دَ غېږې" لاړو څهٔ به وُکړم
دَ فلک نه چا اخِستے انتقام دے
پهٔ راتګ مې دَ محفل نه رقیب زغلی
دښمنی ده، یا دَ مینې احترام دے
خَلکې ئې دَ تُهمت پهٔ کانړو وولی
ستا دَ مینې لېونے دلته بدنام دے
تهٔ زما لهٔ یو نظره دې خان ژغوړې
وَلې ما سره دې غم دَ ننګ اَو نام دے
تصوّر چې دَ دستور څخه ذده نهٔ وهٔ
ستا تصویر ئې راکاږلے هم پهٔ بام دے

دا دستور دَ دې وطن اَو مونږ شیرینهٔ!
"کور کهٔ ګران دے، نو دَ مړی خو ناکام دے"

* * * * * *

تضمین پهٔ شعر دَ حمزه بابا

پورته زلفان ښکته بانړهٔ ښتانهٔ
خو څوک دَ سمې څوک دَ غرهٔ ښتانهٔ
څوک چې دَ زړهٔ او څوک دَ خلهٔ ښتانهٔ
یاره نو! بویه ښتانهٔ ښتانهٔ

ورکړه یو ځنب خو دې بانړ ولره دې
تر څو به وی داسې اودهٔ ښتانهٔ
هره ادا ې دَ ښتو ډکه ده
ښکلی دَ هر چانه شو ښهٔ ښتانهٔ

ځخوا پهٔ خبر ئې پکښې هم ؤکاتهٔ
چرته به وی هغه زاړهٔ ښتانهٔ
پسې هر دَر او هر دیار ته ځمه
چې به دنیا ورته وایهٔ ښتانهٔ

دَ مخ اوُ زلفو دَ ښایست پهٔ مینه
دَلر او بر مې ؤستایهٔ ښتانهٔ

نن پـه محفل کښې دې چُپيا ويـنـمـه
ځو دې راغلې خو دا ځـهٔ پښتانـهٔ
تېنګ شه لهٔ خلې مې اسوېلې ؤواتهٔ
ګـنړه بهر شو لـهٔ کالهٔ پښتانـهٔ
پهٔ يو محفل کښې دوه رنګې نهٔ مَنُو
چې ځـهٔ دَ دهٔ. ځهٔ دَ هغهٔ پښتانهٔ
څنګ به کاکل ئ جميعت ؤمومې
کله ؟ کابل کښې خلهٔ پهٔ خلهٔ پښتانهٔ
رقيبه! دا خو دَچا مخ ته کښې
ګېنې لا دومره نهٔ دی ښهٔ پښتانهٔ
دَ زړهٔ حُجره دې ورتـه لګېږي لَره
هسې که بيا شي راستانهٔ پښتانهٔ
ځو يو نظر دې ورته ګـړے نـهٔ وی
وی به مدام پهٔ "زهٔ" اَو "تهٔ" پښتانهٔ
دَ دړد پهٔ چغو مې ؤنهٔ پاربدهٔ
لهٔ نمَر خاتهٔ تر پرېواتهٔ پښتانهٔ

ستا دَ غمونو مېلمَستيا چې نۀ کا
دَيٓ پښتنو ته وايُو نۀ پښتانۀ
گُلهٔ! کۀ تۀ خپل نزاکت وورِے يې
مونږه هم وايُو ځانته ښۀ پښتانۀ
تۀ يې! چې تښتې لۀ اقراره مدام
گېنې دَ لوظ خو وی پابنۀ پښتانۀ
بيا پۀ يو لار نو سره وُلې نۀ ځو
کله چې يُو دا تۀ اَو زۀ پښتانۀ
پۀ ډکو سترگو ورته وگوره لږ
گوره کۀ شی اُبۀ پښتانۀ

دَ پښتنې لَيلا پۀ ننگ شيرينۀ!
چرې راتول به شی خوارۀ پښتانۀ

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

چې په شوو صحراګانو پسرلے شوم
هله زۀ خانلره بیَل ؤ پېژندے شوم
لکه اوښکه چې دې پرېوتم لۀ ستر ګو
ملغلره، دُردانه شومه، غمے شوم
کۀ دِ زلفو کښې دَ ګل غوندې راګېر کړم
ښه ده ستر ګو دَ رقیب کښې خو ازغے شوم
دَ نظر په پلوَشو دې ووم مُړ شوے
دَ سرو شونډو په مُسکادې بیا ژوندے شوم
اشنا ستر ګې چې دې هسې نا اشنا کړې
خپله یاره! تاته څۀ باندې پردَے شوم

دا خُویونه مُغلی به درنه هېر کړم
زۀ شیرین کۀ درته هُغه یوسفزے شوم

★★★★★★

۹۰_۲_۱۰

○

چې پښتون اشنا مې ننګ راباندې نۀ کا
خدای دې درد دَ قومیَت ورته پۀ زړۀ کا
دَ نمَر مخو پۀ فِطرت کښې قیام نشته
یوه ورځ کښې به درتلۀ هم درنه تلۀ کا
څه نو لاړ شه ورته وُوایه قاصده!
مونږ دې هم دَ زړۀ حُجره کښې مېلمانۀ کا
بَرکَت زما دَ زړۀ دَ حجرې ګورد....!
کېنې څوک به مېلمانۀ دومره مړۀ کا
ګُل پۀ ګُل کړه غېږه دکه پَسرلے شو
خدای به ما اَو اشنا هُم سره پۀ خلۀ کا
اوس دَ فکر بورېنېدلو وَیَره نشته
بدرګه دَ لېونتوب ورسره تلۀ کا

دا هم ستا لۀ سارۀ خُویه اور اَخستے
ستا شیرینَ چې اسوېلی سارۀ سارۀ کا

★ ★ ★ ★ ★

۱۲-۲-۹۰

○

چې لمنې رانه پاتې تر ازغو دي
په مونږ دغه پېرزوئېنې دَ سپرلو دي
ؤرونه لرې چې دَ زړونو دَ حجرو دي
هغه ښکلې مېلمانهٔ بيا په راتلو دي
ښائېستونو ته همه لمبه، لوګے شي
زمونږ زړونه خو په دُود دَ سپېلنو دي
سرمايه به دَ ښکلا کړي درله ډوبه
پام کړه! اوښکې مې راغلې تر ليمو دي
ما خو وَيل کنه: چې زړونه به مو ؤچوي
اوس دې ؤلې اننګې په رپېدو دي
خدايه! حشر دَ مردارې دې زما کړهٔ
دوه اندامه مې پراته په سل تپو دي
يار کهٔ مانه مرؤر دے، نو په کوم شيء؟
پښتونواله ده، خبرې دَ جرګو دي

دا مې شا وَته راستون شوم زهٔ شيرينه!
کهٔ مې تللې زمانې بيا په راتلو دي

★ ★ ★ ★ ★ ★

۱۷-۲-۹۰

○

شپه انجام وته زر ورسی، سحر شی
غوځ دَ واړه بلاګانو زړه، ځیګر شی
په ځنبل هسې بانړه تربله وَرشی
لکه یو بیَرته کابل او پَیښوَر شی
هر اشنا مې له ماضی خپلې خبَر شی
غمازان، مغلان واړه زبر، زبَر شی
ستا غمونه هر اشنا وَته په سَر شی
لیونې شی، ګریوان څیرې، سر ببَر شی
قاصِدان دَ غم دې واورې دَ کوڅې نه
په انګن کښې دې اتنړې شی، اختر شی
څومې اوښکې دَلیمو نه ښکته لوېږی
راستنې دې پلوَشې دَخور نظَر شی

لا دوام کښې شه هنګام دَقد، قدم دې
خدای دې نهٔ کا چې پیکه مو بام اَو دَر شی

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

لږ دې زلفو او بانړو ته فکر وکړه
لږ او بر مې پښتنو ته فکر وکړه
اول خپلو موسپېدو ته فکر وکړه
بیا زمونږه کرېوانو ته فکر وکړه
لکه ثمر ځلېدو ته فکر وکړه
بیا دَ بنکلو تللو، راتللو ته فکر وکړه
دَ ایمان به دې اوس ؤمنم واعظه!
مل دَ جام مستو لیمو ته فکر وکړه
"دَلاسې دَ ستورو" پربېږده انتظاره!
"بلا شپه" گورو تیرو ته فکر وکړه
دَ بنایست دَ بې رُخئ له دېره تاوه
دَ مئین په مخ وَیالو ته فکر وکړه
دَ نظر په احتساب که دې راضي یې
بیا سپرلیه! دې ورشو ته فکر وکړه

څو پخې پخې وعدې کا یوسفزیه!
خو دَ بنکلو اومو خلو ته فکر وکړه

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

مړاؤ ستر ګونه ئ هسې مړهٔ کاتهٔ شي
دَ محفل ياران هَمه اودهٔ اودهٔ شي
سر تر پای جرأت جرأت وی، بې ښکالهٔ شي
سړے هلـه يو چې مئېن شي نو بې زړهٔ شي
کوم جواز دے، کهٔ اعجاز دے، نهٔ پوهيږم
ګتيه زړهٔ مې ستا دَ مخ پهٔ نمر اوبهٔ شي
چې دَ زړهٔ خبره څهٔ ده خبر نهٔ يَم؟
دَ ښهٔ يار غوږونه دواړه پرې درانهٔ شي
شوخې سترګې ئ لا ګوره ډکې ډکې
دَ دستور پهٔ ژبه پوهه کهٔ بانړهٔ شي
پر مخ تګ مې دَ جنون هومره سېوا کا
دَ بېلتون غار مهٔ کهٔ لاڅومره تاودهٔ شي
زړهٔ مې خُوږ پهٔ پلوَشو دَ نظر هُسې
لکه غوڅ چې څوک پهٔ تبغ يا پهٔ چاړهٔ شي

دَ زړګی دَ حُجرې لرې دې ستانَه کا
هغه تـلّـلی ياران بيرته کهٔ ستانهٔ شي

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

څوک به څهٔ زمونږ لهٔ حاله نو خبر شي
کله مونږ ته چې ئې پام اَو نهٔ نظر شي

دا مې يار اړوی زلفې مخ اؤ شاته
کهٔ چېتر دے چې وَريَځ اَو کله نمر شي

اندېښنې دی، تورې شپې دی چې غوزېږی
ته رنړا دې دَ مخ راوړه چې سحر شي

بيا هلهٔ به دَ مُسکا مزه دې واخلی
لکه ما چې کړبوان څېرې سر ببر شي

څهٔ دَ ژوند لهٔ دېٔ سبا اَو بېګا وايه
همنوا چې دې کابل اَو پېښور شي

چې دې تورو اوږدو سترګو وته ګوری
کهٔ زمَرے وی دَ هوسَۍ هسې اوتر شي

ئم حيران دَ ادب زمکې ته شيرينه!
چرته لَو شي چرته اوس پکښې نه کرشي

★ ★ ★ ★ ★ ★

۹۰-۲-۲۴

○

ستا دَ مینې لېونی نۀ یُو نو څۀ یُو
تر لمڼې چې شلېدلې ګرېوانۀ یُو
دا خو ښکلی دی چې زړۀ و هی پۀ خلۀ کښې
ګېڼې مونږه خو پۀ زړونو وړتۀ نۀ یُو
ستا پۀ بد نظر مو زړۀ چرې بد نۀ کړۀ
ګوره یاره کنه! څومره لکه ښۀ یُو
دَ خُوبانو پۀ درک نۀ شي خُوبونه
هسې وینه باندې ښکارُو چې اودۀ یُو
هر هغه چې پښتانۀ دولونه غواړی
مونږه واړه به یاران هم دَ هغۀ یُو
بس خو واړه ستا پۀ مینه باندې مړۀ یُو
تۀ پرې څۀ کړې کۀ دَ سَمې کۀ دَ غرۀ یُو
کۀ دې پاتې څۀ پۀ زړۀ وی هلَه وایه!
خدای خبر چې بیا به یُو اَو کۀ به نۀ یُو
مونږه پت دِ یارانې درسره پالُو
نۀ دې یاره پۀ کاکل نۀ پۀ بانړۀ یُو
پۀ دې خاوره دَ افغان شیرینۀ یاره!
دَ ژوندون پۀ پښتنه روژنه پړۀ یُو

★ ★ ★ ★ ★ ★

۲۷-۲-۹۰

○

کـه تـا وجـن دی خـو دَ میـنې سرهٔ اورُونـه
دغــه نــور دَ دَیّ جهــان دی څــهٔ اورُونــه
دا ئې عـکـس دَچـا دَ زړونـو شـو تـر شـونډو
کـه ګـل مخـی ګـر څـوی پـهٔ خلـهٔ اورُونـه
دا دې لــر او بــر را ابښــې پــهٔ یـو ئـل دی
چې بـړ کـبـړی دې پـهٔ سـمـه، غـرهٔ اورُونـه
اوس دَ نـور و څـهٔ حاجت دے چې مو سېزی
یـو او بـل لــره یُـو تــهٔ اَو زهٔ اورُونـه
چې مـو سـتـرګـې دی لَـمدې لـهٔ لُوګو دکې
پــهٔ جـونـګـړو مـو هـر چـا کـاتـهٔ اورُونـه

اسـوېـلـی سـاړهٔ ؤکـړه شـیـریـنـهٔ!
چـرتــه بـل ئـې شـی پـهٔ زړهٔ تـاوده اورُونـه

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

یو خوا مو لاس کښې دَ ساقي سپینې تَسبې وُلیدې
بل خوا مو شیخ څخه دَ مَیو بسرې پیالې وُلیدې
بنه شوه پیغور دَ بې لوظۍ چې ئې درمخې ته کړو
څنګه محفل ته نهٔ راتلې چې دې دیوې وُلیدې
ساقي! چې ذکر ئې زمونږ پهٔ وړاندې وُنهٔ کړې بیا
مونږه دې لویه مَیخانه، دکې کاسې وُلیدې
دا تصوّر دَ تورو زلفو وو چې وُتر هېدم
کهٔ شوګیرو مې بورنوئنکې "بلا شپې" وُلیدې
سپرلیه! دا کهٔ ستا راتلّل وی نو چې رانهٔ شې بیا
زمونږ لمْنې خو دنیا ریښې ریښې وُلیدې

وی دَ حالاتو پهٔ مزاج باندې اَره شیرینّهٔ!
مونږ دَ یارانو هسې رنګلیه یارانې وُلیدې

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

هسې سپرلے دَ غورېدو ورځې دی
لکه غوټۍ، دَ خورېدو ورځې دی
دَ زلفو خپلو ئې تاتۍ، وَهلې
زما دَ خيال دَ زانګېدو ورځې دی
لکه زمرۍ، غوندې راګوره کله
څه هم که دا دَ ترهېدو ورځې دی
ستا دَ لوظونو تورې شپې رونړوُو
بيا دَ ديوو دَ بلېدو ورځې دی
پښتنې اوښکې هم چې وُڅڅېدې
خاندہ اشنا! دَ خندېدو ورځې دی
دَ ځوانۍ، وخت. اَو دکې شوخې سترګې،
راشه هم دا دَ کړمېدو ورځې دی

نُوو وختونو زَړې لوبې وُکړې
شيرينه! دا دَ بدلېدو ورځې دی

* * * * *

○

خو کوڅه تر بنه خطا شي
چې پهٔ سر ئې غم بلا شي
خو دردونه ئې سېوا شي
چې بې درده ئې اشنا شي
دَ وعدو به دې څهٔ وايُو
خو سبا شي اَو بېګا شي
ما هم زړهٔ ورته لوئ کړے
چرته کله خوب به راشي
اوس مې څهٔ پهٔ دا لوظونو
کهٔ دروغ شي کهٔ رښتيا شي
نن پهٔ سر مې رقيب څهٔ وَيل!؟
خَير دے! دهٔ سره به بيا شي

بښکته زمکې ته مهٔ ګوره
چې څرګنده خو دې غلا شي
خیَر دے اوښکې مې دې توی شي
خواشنا دې پهٔ خندا شي
امتحان دَ صَبر هلهٔ
چې دَ جبر انتها شي
آئینې وته مهٔ ګوره
زما مینه به رسوا شي

ستا نامه به شیرینؔ اخلی
تر هغه چې دےؔ فنا شي

★ ★ ★ ★ ★

○

مَست دے لړ دې سَم کړه اوسَنے نظر
هسې نه درؤکړم پښتوانے نظر
مونږه نن دَ خپلو زړونو غل کړلو
ښکلیه! ستا دَ مړو سترګو ژوندے نظر
چرته کښې دَعقل سره تَل نهٔ شو
راشه راته ؤکړه لیونے نظر
ځاي مې چرته زړهٔ کښې درله ؤمونده
نن دې ګړخوهٔ چې لے پهٔ لے نظر
دلته مې دَ زړهٔ زخمونو ؤخندل
هلته چې شو سترګو کښې مسکے نظر
ښکار دَ زړونو کاندی لهٔ چا دار نهٔ کا
ستا دَ هوسۍ سترګو دا زمَرے نظر

ستا مُغلې سترګې به اُوترې کا
ؤکړی شیرینَ یار به یوسفزے نظر

* * * * *

چې مې عشق سره په زغل شه
عقل لا سو په ښپو شل شه

دَ اَجل سره واصل شوم
چې اشنا راڅخه بېل شه

دغه جام دَ زهرو لېږ وه
چې قاتل نظرې مَل شه

دغه درخو به مې خپل شی
که مې سر پکښې نه دَل شه

که ته ګُل شوې، زه بُلبُل شوم
دغه سوال دې واخله حل شه

تور لګوکی دی دَ جونګړو
څه حَیران دې سپین مخمل شه

چې نظر مې هغه زوړ کړه
رنګ دَ یار نوے بدل شه

وَ منزل ته دې مزَل شه
چې دې پَل ـ ما په پَل شه

که نظر دې مسیحا دے
شیرین یار وَته اجل شه

○

ؤلې مو دومره ډېر ازار اَځلی
نن چې مو خون په لويه لار اَځلی
بس خو تيرېږي په خطونو خپلو
کله نمَر مخې دَچا لار اَځلی
مينه زما به پرې ملاځمې نهٔ شي
څوکهٔ دې خَشم په سر بار اَځلی
سنګينه وخته! دا سيني ؤګوره
ستا دَ تيرهٔ تورو ګزار اَځلی
دَ کفن ګنډې له دې توبه ؤکړي
څوک چې دې زلفو څخه تار اَځلی

کُوز دې بانړهٔ په درَناوی کا ورته
شيرينَ دې نوم په سر دَ دار آځلی

★★★★★

۹۰-۳-۳

خـهٔ بـه دغـه ژونـد وی چـې بې یاره، بې دیاره وی
څـوک خو چې ژوندی وی نو هم دغه څهٔ دَ پاره وی
څـومـره زړهٔ رابښکـون وو هـغـه یو نظر کتلو کښې
کـوم خـوا ته چې څَم نو زما سترګې ستا پهٔ لاره وی
څـوکـهٔ څوک اشنا کړم خولهٔ خوی ېٔ غیریَت نهٔ څی
یا خـو بـه دستـور وی یا زمـا برخه به خواره وی
څَـنب ئې دَ با نړو اَو بیا پلـو کښې پټوِل دَ مخ
دا خبـره هـم خـو بـه نو ډکـه لـهٔ اسراره وی
اوښکې چې ئې داسې دَ لیمو سر لـه راتوِلې دی
نـهٔ بـه وی راغلـی مېلمـانـهٔ بـه لا پهٔ لاره وی

هیڅ ئې دَ کـاکـل پـهٔ یادوِلو کښې باک نـهٔ لرم
خـدای مـهٔ کا شیرین لالے دې ډاره کښې لهٔ داره وی

★★★★★

○

دا دې څۀ رنګ له بانړۀ دی
چې همه خوارۀ وارۀ دی
کۀ د سمې کۀ د غرۀ دی
وارۀ ښکلی، پښتانۀ دی
څۀ خبرې دې په خلۀ دی
څۀ خبرې دې په زړۀ دی
لا پرې نۀ ئیمه زده شوے
کوم دې تلۀ ،کوم دې راتلۀ دی
دومره غلۀ غلۀ به راګوری
تۀ به وایې جوړې غلۀ دی
دَ وختونو څۀ تبراخۀ دی
چې کټلی دې خوارۀ دی
دَچا زور خو پۀ مونږ نۀ دے
چې پۀ هر څۀ وایُو ښۀ دی
چې تور سرې دی سر تورې
پښتانۀ مېړونه مړۀ دی

حِس مې نـهٔ زده هـېڅ چې څهٔ دی
څـو دَ وخـت "تـاودهٔ سـاړهٔ" دی
نـظـر ؤبـاسـه لـهٔ ځـانـه
وايـه څـوک بيـا " تـهٔ " او "زهٔ " دی
پـرون نـاسـت وُو، پـهٔ تـخـتـونـو
نـن پـهٔ خـاورو کـښې، پـراتـهٔ دی
چې رَوان وې رانـه وروسـتـو
وختـه! هـغـه، دې يـاد نـهٔ دی؟
کـهٔ راځـی خـو يـار بـه راشـی
پـهٔ اغيـار بـانـدې نـو څـهٔ دی

څـهٔ بـه ؤخـانـدُو شيـريـنـه!
څـو زخـمـونـه مـو پـهٔ زړهٔ دی

* * * * *

٣-٣-٩٠

○

دَ یــادونــو انبــارونـــه دی اَو زهٔ ئـم
تــرمــې اوښکــې قـطـارونـــه دی اَو زهٔ ئـم
ستـا فکـرونــه، خـپـل غـمونـه، دا وختونـه
یــولـــه بــل دَ ضِـد کــارونــه دی اَو زهٔ ئـم
څـهٔ بــه وایــې لار دَ ژونـد څنګـه غوځېږی
بــې تــوخــې دَغــم بــارونـــه دی اَو زهٔ ئـم
دا خبــرې اُو ادا ســـره دَ لــېـچــو
سپـیــنــې تُــورې دی وارونـــه دی اَو زهٔ ئـم
نــن ئې ډک، سرهٔ لیمــهٔ کُـوزدی دَ حیـانــه
خَــم خُــمـان دی، خُـمـارونـه دی اَو زهٔ ئـم
ګــل وجــود اَو ســـره سیـالــه څـوانـی ګوره
پــهٔ یــو وخــت دوه بهــارونـــه دی اَو زهٔ ئـم

پــهٔ تـالـونـو کښـې جـوتـې دی دَفـکـرونـو
دَ اورېـدو زلــفـــو تــارونـــه دی اَو زهٔ ئـم
★ ★ ★ ★ ★

○

چې مدام د زړهٔ لهٔ درد څخه کوکار کړم
چرته څوک خو به لهٔ خوبه پرې بېدار کړم
چې په خلهٔ دَ محبت شیرین گفتار کړم
درست جهان به دَ یو بل وَ سره یار کړم
پوتې تار مې پاتې نهٔ شي گرېوانهٔ کښې
ځان به هلهٔ لېونو کښې دَ تا شمار کړم
کهٔ دَ زلفو لهٔ غلافه ووت محال دے
زهٔ په پټو سترګو ستا دَ مخ دیدار کړم
ستا دَ فهم اَو ادراک لهٔ حده هُورته
دَ جهان دَ لېونو څخه روزګار کړم

یاره! دومره نا ویسا خو ګوره نهٔ ووم
ولې داچې غریبي ده زهٔ ئې خوار کړم

★★★★★

○

څـۀ به وایمه کوم ځوند دَ ورخو شپو دے
لـر او بـر دې راتـه ژونـد دَ کشـالو دے

څـنګـه حـال ئـې چې دَ زلفو اَو بانړو دے
دغـه حشـر مـې دَ ښـکلو پښتـنو دے

هـر دګـر مـو دَ جـنون پـۀ شا پر ښولے
دا شـلېـدلے ګـرېوانـۀ مـو دَ کتـو دے

ستـا چې زلفې ، مخ اَو شونډو سره رَپی
هـر انـدام مې دَ بدن پـۀ تـخـنېدو دے

مـا تـرې ګـرې کـۀ توبـه دد خو واعظه!
دغـه جام دَ تویَوو نۀ دے دَ څښو دے

څو کـۀ اوښکې پښتـنې مې پسې توی کړې
دَیـار مـخـکښې قـدر څـۀ دَ دُردانو دے

زلفې مـۀ خـنډَوه کُـلـه! شیـرینَ یار ته
لـېـونـے خـو دې عـادت دَ زولـنو دے

* * * * *

○

څـــــهٔ رنـــګـــونـــــه دَدوران دی
څـــهٔ خـــويـُـونـــه دَجـــانـــان دی
څـــو مـــره ډېـــر دې دُښـــمـــنـــان دی
هـــو مـــره زيـــات دربـــانـــدې ګـــران دی
چـــې مـــئـــېـــن دربـــانـــدې ورُک دی
ســـر پـــه دشـــت اَو بيـــابـــان دی
نـــور بـــاوَر بـــه پـــرې وُنـــهٔ کـــړم
عبـــث چـــارې دَجهـــان دی
داچـــې غـــېـــر کښـــې دې پـــراتـــهٔ دی
څـــو ګـــلـــونـــه دَبـــوستـــان دی
چـــې دَزلـــفـــو بـــنـــديـــوان دی
هَـــمـــه عـــمـــر لـــه پـــرَيشـــان دی
ستـــا يـــاری پـــالـــلـــې نـــهٔ شی
چـــې پـــهٔ کـــتـــه، پـــهٔ تـــاوان دی

مـيـنـــه مـــړه دهٔ، ښـــائـــېـــست ورُک دے
شيـــريـــن يـــارهٔ! کـــلـــی وران دی

★ ★ ★ ★ ★

○

څو کـــهٔ عشق تــر واړو ګــران دے
خــو مــڼــبـنــو تــه اســـان دے
عـــجیبــــه غـــوښــدې دوران دے
جهـــان واره ځـــان پــهٔ ځـــان دے
آئیـــنــــه دې دَ مـــخ څــــهٔ ده
هـــر ســـړے هســې حَیـــران دے
هـــغــه تـــیـــر خـــلک ې راشـــی
ښنــه نـــبـــؤلـــے مـــې دوران دے
تـــا دې ســـوړے هـــم رانـــهٔ کـــړهٔ
مـــا درکـــړے درلــــه ځـــان دے
تـــا وې کـــتـــه ده پـــهٔ عشـــق کـښې
مـــا وې ســراســر تـــاوان دے
څـــو ئــې ډیـــر ئیـــم دردؤلــــے
ؤلـــې بیـــا مـــې هُـــم درمـــان دے

ستـــا پـــهٔ ننــګ خــو بـــه اودریږی
شیـــریـــن یـــاره! چـــې افـغـــان دے

★ ★ ★ ★ ★ ★

○

ګوره وَته ښکلو اداګانې ښتنې کړلې
بَیرته ئې راسمې دا دَ خُورِ زړونو حجرې کړلې

ما پهٔ کَیفیَت دَ بې خودئ کښې هغه ؤموندل
څهٔ پسې شپخانو چې، چېلې اَو وظیفې کړلې

ګته ګته زړونه مو دَ واورو هسې ویلی شو
تاچې پلوشې دَ مخ لهٔ نمَر ورته ستنې کړلې

اوښکې مې لیموته شوې راتولې ستالهٔ سپک نظر
څنګه ښتنه یې راپښا چې دې جرګې کړلې

هسې نه پیغور دَ بې لوظئ چرته در مخکښې کا
مونږه پهٔ راتګ دې پهٔ محفل کښې دیوې مړې کړلې

نورې هُم نظر راته چېړ ؤنېوهٔ راویښ شولو
تا کهٔ دَ بانړهٔ پهٔ تېپا، سترګې دې اودې کړلې

بايد، چې "بلا دَ زلفو هُم کله راپېښه وے"
شپې کښې دَ عمر مونږه واړه شوګیرې کړلې

★ ★ ★ ★ ★

څو مره دَرد چې موندهٔ کېږی ستا دَ مینې افسانه کښې
څهٔ به وایمه کهٔ شته دے دَ دنیا بله قیصه کښې

لر او بر مې سره دواړه پهٔ کړا کاندې مطربه!
اوس هغه اثر دې کوم دے دَ تارونو پهٔ رېله کښې.

پهٔ ځمبائِ دَ بانړو به، زړهٔ مې وُلې زخمی نهٔ وی
چې ګُزار دَ نېزو واخلی دومره تاب نهٔ وی ښیښه کښې

پهٔ بربښنا خو چې نظر لهٔ بدو سترګو څخه یوسی
زهٔ هُم داسې غمی پېیَنم وَ لَیلا ته لوپټه کښې

دغه جام اَو دا نظر چې سره مل شی اے زاهده!
دومره زور وی نو بیا چرته ستا ایمان، زما توبه کښې

هُم خوارهٔ دَ فن اَو فکر تربنه وُزبېړی شیرینهٔ!
هم تراخهٔ دَ ژوند دې خای شی دَ غزل هره مصرعه کښې

★ ★ ★ ★ ★

○

ښکلے مخ دې لکه ګل هسې خندان دے
هر مئین لکه سحر خیرې ګرېوان دے
سرۀ مخونه، شنۀ خطونه، باندې وېنې
سپرلی څکه کړه نغښتې ده روان دے
ستا دَ مخ پۀ آئینه ئې نظر پرېوَت
هر وګړے لۀ یو بل څېڼې حَیران دے
دَ ښکُلا ډیوه دې تَته چرې مۀ شه
چې محفل دَ زندګئ مو پرې روښان دے
"شب او روز" ئې چې دَ یار "زلف او رخسار" شوۀ
هغه څۀ اوس پۀ زمان اَو پۀ مکان دے

پۀ خپل ځان پسې وَتلے دے لۀ ځانه
شیرین یار دې لکه بوئ دَ ګل، پَرَیشان دے

★★★★★

همدمان مې په دا جور و جفا کا
څه خبر چې ابتدا که انتها کا؟
بارې هسې دَ دنيا به ځانته مخ کا
چې اشنا مې په دا حال کښې راته شا کا
اسويلى مې دَ يار مخ باندې تاوېږى
برېښوکىٔ لکه سارا کښې چې ګډا کا
څو دَ زلفو تيارهٔ جوړه دې په مخ کړه
ولې غل هُم داسې ګوره شپه کښې غلا کا
دا مخونه پرې خطونه دَ ځوانيو
څه! سپرلے خودې په سرو کښې شنهٔ پَيدا کا

کَيفيَت دې دَ اُلفت دے شمه رويه!
شيرينّ يار کله خندا کله ژړا کا
★★★★★

○

څو کـهٔ پـهٔ خلـهٔ، کـهٔ پـهٔ بانړهٔ ؤوایم
دَ دېَ احـوال بـه درتـه څـهٔ ووایـم
راتـه پـهٔ خلـهٔ بـانـدې لاسونـه ږدی بیا
کـلـه چې تـاوتـه دَ زړهٔ ؤوایـم
یـاره! تـهٔ هسـې پرېـنـه بد ؤګـنړې
ګـېـنـې دنیـا وایـی چې بنـهٔ ؤوایـم
سـاقـی اَو جـام ئې سـره ؤرپـېـږی
کـلـه چې ستـا لـهٔ سره لیمـهٔ ؤوایـم
راشـه لـږ نـن ئې راتـه تـهٔ ؤوایـه!
هـغـه مـدام چې درتـه زهٔ ؤوایـم

شیـریـنـه! دومره خو بې کوره نـهٔ یم
کـلـه نـا کـلـه دَ کـالـهٔ ؤوائـم

★ ★ ★ ★ ★

○

خو زَما اَو ستا تر مَینځه یارانه شوه
زندګی مې هسې جوړه بهَانه شوه
لا مې پاتې څو تارونه ګریوانهٔ کښې
لا دَ مینې هنګامه چرته سره شوه
لهٔ دې دَرده به هیڅ کله لاس وانځلم
څو پهٔ در مې دَ غمونو نغاره شوه
پهٔ دې تاؤ دَ بېلتانهٔ کښې راشه ګوره!
زَما اوښکې دَ باران هسې شنیبه شوه
هر خواهِش اوّ هر طلب مې کړهٔ پښو لاندې
دنیا درسته لکه خاورې رانبکاره شوه
مستقبل به لهٔ اُلفته دې پَیدا کړم
یو لحظه کهٔ دَ ماضی نه راستَنه شوه

مُطربان هم پهٔ ګډا دی شیرین یار ته
چې پهٔ خلهٔ ئې ستا دَ مَدحې قصیده شوه

★ ★ ★ ★ ★

○

اې مطربه! بیا اغازي دې نغمې کا
بیرته سازې دا دَ خُوږ زړونو حُجرې کا

یاره راشه! چې هنګام مو په دوام شي
ګېنې بیا خودغه بلې ډیوې مړې کا

هلهٔ خوب خو به تر زلفو نصیب کېږی
هَله راشه! شپې دَ عمر شوګیرې کا

خپلې ډېرې ارزانۍ ده ژړولې
ګُله! پانړې لګې پرخې ته خوږې کا

که په زلفو کښې دَ یار ګلونه غواړې
را په شا دَ بهارونو قافلې کا

زهٔ به هُم لکه سحر ځیرې ګرېوان شم
ته هُم شونډې لکه ګل خَوږې وَرې کا

هغه کَیف، هغه پیاله شیرینّه یاره!
بَس دې ماتې دَ ځوانۍ کَچه توبې کا

★★★★★

۱۰-۵-۹۰

○

ساقي دکې چې دَ مَيو نه کاسې کا
زاهدان دَ وخت سلام دَ مَيکدې کا
چې په تر هه وَسوسې دَ تورې شپې کا
ما وې، اوس به ګورې زلفې را خوَرې کا
په نظر کښې مې ګرمي ده پَيدا کړې
اننګي به درله اوس خوټې خوټې کا
څو چې زړهٔ کښې ئې ګمان دَ وسوسو شي
زر دې بلې دَ حُجرې ګټ کښې ډيوې کا
"زهٔ" منم چې دُردانه ده وَلې وايه!
"تهٔ" هُم توئ چې پسې اوښکې پښتنې کا

تهٔ به هله دَ شيرينّ په قدر زده شې
چې په قبر ورله خښې دوه خزې کا
★★★★★

○

بلاګانې دَ جهان مې ځان پسې کړې
چې مې ستا دَ ګُورو زلفو تذکرې کړې
دَ کاکل دَ پاره تا ګلونه يوړل
چې لمڅنې پرېنه مونږ ريښې ريښې کړې
تۀ زما لۀ ډکو سترګو واړه زده يې
ولې غونډې مې حجرو وَته جرګې کړې
دَ نظر دَ بدرګې عمل دې ګوره
چې ئې لوټ دَ اُمَيدونو قافلې کړې
لکه خوئ مې دَ ماضى ځان کښې پَيدا کړۀ
چې مې داسې ښپه نېوُلې زمانې کړې

وَسوَسې خو به دَ زړونو پَيدا کېږى
شيرينَ ياره! چې ئې زلفې را خوَرې کړې
★ ★ ★ ★ ★

چې پهٔ مخ ئ نن څۀ نوے عبارت دے
جوړ راغلے دَ مئينوٚ شامت دے
هلته ستا دَ مخ اَو زلفو څۀ "لاند باند" دے
دلته جوړ پۀ لر اَو بر باندې قيامت دے
يو ساعت کښې به خوارۀ، بل کښې تراوۀ وي
دَ پَيِ مخولۀ فطرته دا عادت دے
چې بانړۀ دې راته هم هسې رانيغ شوُ
دا خو ستا دَ کرِو زلفو شرارت دے
ستا پۀ زلفو پسې هَڅې کَوُل ياره!
لکه هسې دَ هندوانو عبادت دے

دَ لاله غوندې، کفن پۀ سر، کۀ نۀ شو
دا شيرين لالے دې هلۀ ملامت دے

★ ★ ★ ★ ★

○

پسرلی دې په دا خوا شي
د چمن غوټۍ دې وا شي

د کاکل خوبونه وینم
خدایږ دې ؤکا چې رښتیا شي

زړه دې مه وهه په خله کښې ؛
د شتلمه من ښېوه سخا شي

څو هوس کوې دنیا ته
دغه واړه دې هم ستا شي

دنیا ښه ده، دنیا ښه ده
بلا څوک به دې پیدا شي

تنګ ساعت په چا را مه شه
خپل پردي واړه په شا شي

نظر مل دې دجام مه شه
چې توبه مې وارخطا شي

زړه مې داقدر ماشوم دے
چې بې تا شي په ژړا شي

★★★★★★★

زړۀ دے اَخـر دےٓ هـم څـۀ هـوا غـواړی
څـکـه ابتـدا کښې انتهـا غـواړی
ګـرځـی پـۀ کـاسو پسې تسبې پۀ لاس
شېخ دَ وخـت هـم هـغـه اَو هـم دا غواړی
ګـوره انتهـا دَلـېونتـوب تـه مې
یـاره! چې دَ تـانـه ستـا جـفـا غـواړی
بیـا دغـه بَیـدیـا اَو ابـادی دَ وخـت
هـغـه رنګ مجـنـون هـغـه لَیـلا غـواړی
څـوک دې کـا دَ زلـفـو دَ تیـار و طلـب
څـوک درنـه دَ مـخ یـوه رنـړا غـواړی

دغـه خـو کـمـال دے شمـه رویـه نـو!
تـانـه چې ژړا کښې څـوک خـنـدا غـواړی

★ ★ ★ ★ ★

ستا په مخ مې دَ فکرونو غلبَله ده
لېونې په ګرځېدو دی سره غرمه ده
واړه ستا دَ پام لړځنې برکت دے
چې محفل کښې داسې نېغه مې شمله ده
په یارئ دَ ګل غوره اوسه بُلبُله!
ما هُم ځانله جوړه کړې یارانه ده
څو تارونه مې لا پاتې ګرېوانهٔ کښې
لا مُسکادې په پرده کښې بنه پرته ده
هسې خلې نه به مې ووتې وی واعظه!
په ځوانئ کښې وایه چا وېستې توبه ده؟
بنه پوهېږم سر تر پښو ولې رپېږم
چرته بیا په لر اَو بر دې زلزله ده
کوم ګمان په لېونتوب خوبه مې کېږی
تا چې مخ وته نېولې آئینه ده

دا چې تا پسې مې توی کړلې په لپو
حقیقت کښې هره اوښکه دُردانه ده

★ ★ ★ ★ ★

○

دَ جهان لۀ سُود اَو زيان ئې زړۀ اوچت شي
چې پۀ برخه ئې دَ ښکلو محبت شي

پۀ نظر کښې مې اثر دَ اشنايَئ دے
چې دَ مخ نه پۀ واتـه دې غيريَت شي

مړۀ کاتۀ پۀ مړاؤ سترګو راته مۀ کړه
ما به يوسې نۀ به درنګ، نه به ساعت شي

زۀ به څنګه دَ پښتون نامه پرې اولم
چې اشنا مې نۀ پۀ ننګ اَو نۀ پۀ پت شي

بره ګوره چې دې سترګې ښکته نۀ شي
غوارم کله چې پښتون دې ملامت شي

دَ سَحر غوندې څهره دې سِحرناکه
پۀ ليدۀ ئې دَ ارمان ستوري مې تَت شي

دَ زړۀ نوې توبه هم دَ ماتيدو ده
چې پۀ هغه زړو سترګو ورته ست شي

څو مره ډېره ستا دَ مخ لمبه سره کيږي
هومره زيات پۀ چاپېر چل کښې حرارت شي

★ ★ ★ ★ ★

○

هسې زۀ لـۀ درد اَو غـمـه کوروکر یٔم
چې لـۀ خـانـه لـۀ جهـانـه نـاخبر یٔم
بـس خـو مـالـګـه دَ ښکلا دې پکښې ګور م
نور دې یـاره نـۀ پـۀ سمـه نـۀ پـۀ غـر یٔم
هـلتـه زلفـو دې لاس واخستـۀ لـۀ مخـه
دلتـه زۀ لـۀ ژونـدانـۀ مـې لاس پـۀ سـر یٔم
پـام لـړزنـې دې شـمـلـه کـړه زما ځـګـه
بـې پـروا دې دَ هـر چـا لـۀ زور اَو زَر یٔم
لـکـه ګل دې کـلـه زلفـو کلـه ښـو کښې
بنـه ده یوُن کښې دَ ژونـدون دې همسفر یٔم

دا چـې زړۀ مـې دَ زمَـرى لـر م شیـر ینـّـه!
غـزالـو سـتـرګـو نـه ؤلـې بـه اوتـر یٔم

★★★★★

○

تـــهٔ زمـــاه دَ زړهٔ ارمـــان يـــې زهٔ د تـــا دَ زړهٔ درمـــان يَـم
تــهٔ پــهٔ مــا بــانـدې تـاوان يـې زهٔ پــهٔ تا باندې قربان يَـم

چې کـــوم هـــوش وولـــمـــا يـــوړهٔ دَ تـــا ډکو ډکو سترګو
اوس پــهٔ دغــه خبــر نــهٔ يَـم چې کوم لور وَته روان يَـم

اوس به هم دَ ښکلا بوټــی دې نهٔ خوربږی پهٔ عالم کښې
چې پــهٔ سمــه غرهٔ دې نه يَـم، لېونے څيرې ګرېوان يَـم

چې يــو خــاپ ليد لمے کېږم دَ وختونو په دا رنګ کښې
دا دَ تــبــرو قـــافـلـو نـــه پـاتې شوے يـو نښـان يَـم

لـــهٔ تـپـکـــا وه خبـر نـــهٔ يَـم جـمـيعت هم زمـا نـــهٔ زده
دَ ګـلـونـو پــهٔ دې سيمـــه لکـه بُوي هسې پرَيشان يَـم

ستـــا فغـــان او دا سـلـګـۍ بـه پـهٔ مسکـا کړمـه بدلې
دومـره تـوان لــر مه ياره! شيرين يار دې کلک افغان يَـم

★ ★ ★ ★ ★

○

کله زۀ کۀ پسې ورک مې لۀ کالۀ شم
رسینده به ستا تر دره خو هلۀ شم
پۀ خندا اَو پۀ ژړا مې حَیران مۀ شئ
دا خو کله پۀ جانان کله پۀ زړۀ شم
دا تېپا ئې دَ مشرو سترګو دَ بانړو وی
کۀ دردونه مې پۀ زړۀ وی خو اودۀ شم
اوس بانړو ته به کاکل دې یادۀمه
اَن کۀ سر ته پرې دَ دار هم پۀ خاتۀ شم
نمَر دَ مخ دې چې وَ ماته مُخامخ شی
لکه ګټ دَ واورې، ویلې شَم او بۀ شم
هر بنده دَ خپل نظر پۀ قدر وینی
دا چې زۀ وَ چاته بد، وَ چاته ښۀ شم

څوئې خای دَ زړۀ پۀ سر کړم شیرین یاره!
وَلې بیائې هم پۀ خلۀ چرې رانۀ شم

★ ★ ★ ★ ★

○

شوخ نظر کښنې دې نن هسې رنګ حيا دهٔ
څرګند ږړی چې پهٔ زړهٔ کښې دې څهٔ غلا ده
څومره ډېره هر اشنا کړې دَغا ده
هومره زياته ورله غوښتې ما دُعا ده
زلميتوب مې پېغلتوب نه درلوګے شه
ښه شوه دا، زما فنا کښې ستا بقا ده
غټې سترګې، نرۍ وروځې، دنګه پوزه
ورې شونډې، هسکه غاړه، ښکلا دا ده
استقرار لري ښېوه، سنګينه مينه
کوم دې خشم، کوم دې جبر، څهٔ جفا ده

کهٔ اشنا وَته ئې ناز دے پهٔ خوانۍ ئې
دَ شيرينَ دَلېونتوب هم انتها ده

★ ★ ★ ★ ★

تل چې دې مقصد دَ ژوندانهٔ بولم
نور به دې زياتې دَ دې نه څهٔ بولم
ستا اودهٔ بانړهٔ لکه غافل "افغان"
څوک ‌هٔ دی ژوندی زهٔ یې په مړهٔ بولم
ښهٔ دي، کله کله برندېدهٔ خوکا
زهٔ چې دا بانړهٔ دې پښتانهٔ بولم
زهٔ ئې په خاتهٔ اَو پرېواتهٔ نهٔ ئېم
ستګ دَ استقلال کا زهٔ ئې ملهٔ بولم
قدر دې په مالهٔ مینې څومره دے
کله دې خیګر، کله دې زړهٔ بولم

یار دَ بل دِیار دے خو هَم خیاله دے
زهٔ ئې دَ خپل کلی دَ کالهٔ بولم

★ ★ ★ ★ ★

○

هم چې په تله هم په راتلۀ نۀ ګوري
خدای خبر مونږ ته دا په څۀ نۀ ګوري

تر بنتا ئېستا ؤ قافله ؤنۀ کړې
څوک چې په لاره ځي مله غلۀ نۀ ګوري

دَ پرَیشانئ ئې څۀ انداز وو وایه!
بیا به نا ئېنږه ئې وېښتۀ نۀ ګوري

چرته لۀ ژونده لاس په سر نۀ شمه
اشنا دې داسې راته مړۀ نۀ ګوري

ګنړه چې عشق به ئې هېڅ کړے وی حِس
څوک چې دَ ژوند تا ودۀ سارۀ نۀ ګوري

دا تنګ نظري، کۀ نادانی ؤ ګنړم
چې زړۀ مې ګوري، لړ مانۀ نۀ ګوري

دَ چاپېریال لۀ خیچن والی توبه
په رنړا ورځ هُم څوک رانړۀ نۀ ګوري

دَ خود غرضئ نه ځان ساته شیرینه!
دَ ځنګل اور دے اوچ لامدۀ نۀ ګوري

★★★★★

سرو منګلو وَته هسې نظر نهٔ کا
ګوره څهٔ کانې زما پهٔ زخمی زړهٔ کا
نهٔ مې زړهٔ، نهٔ مې ځیګر، شو ځِنې پاتې
پهٔ کارهٔ غشو څهٔ هسې نیغ ویشتهٔ کا
لَر او بَر دې یو ښکلا ده، یو وجود دے
څوک دې مینه پهٔ کاکل څوک پهٔ بانړهٔ کا
تا چې تورې غزالې سترګې راوړې
پهٔ رانجهٔ دَ ښځادی به خلک څهٔ کا
هر کَلے د دې سپرلی راځنحه بویه
ټېکانه راتهٔ پهٔ سمه، هم پهٔ غرهٔ کا
دَ اوم مخو پهٔ یارئ مې باوَر نهٔ شی
کهٔ لوظونه راسره پاخهٔ پاخهٔ کا
مړهٔ کاتهٔ پهٔ مړاوُ سترګو باندې څهٔ کا
دَ محفل یاران همه اودهٔ اودهٔ کا

دَ کاکل مېر من ئې بند کا زولنو کښې
شیرین یار به هلهٔ بند پسې وایهٔ کا

★★★★★

○

وایه راته وایه نن چې څهٔ وایې
خوښه دې کهٔ وایې هم کهٔ نهٔ وایې
ډېره موده پس لهٔ هغه خلهٔ وایې
دا مې پهٔ زړهٔ ښهٔ لګي د ېر ښهٔ وایې
چاته چې کړاو دَست هم ورنهٔ کا
دوی ته به لا څنګه مېلمانهٔ وایې
مونږ خو دې همه لَشې لَشې کړلو
چاته نو مجلس کښې پهٔ بانړهٔ وایې
ښه ده موده پس چرته رامخ شولې
اوس درته زهٔ ؤوائیم، کهٔ تهٔ وایې
ډېر کهٔ ئې تند ے راته ترِیو کړ ے د ے
ماته به لا وایې چې تراوهٔ وایې
څای ئې ستا غمونه مېلمانهٔ نهٔ کړهٔ
دوی ته به لا هم تهٔ پښتانهٔ وایې

یار خپله جامه کښې دې څایېږی نَه
تهٔ ورته شیرینهٔ دَ کالهٔ وایې

★★★★★

ستـــر ګـو تــه مـې اوښـکـې پښتـنـې راشـي
ستـــا پـــهٔ انـــګـو بـانـدې خـوَلـې راشـي
خَـيـــر دے سـره "لـرې لـرې" نـــهٔ ورځـو
رادې شـــې اشـــنـا خـو دې نـــزدې راشـــي
اوښـکـې اَو آ هـونـــه کـــهٔ شو يو سره
ژونـد بـانـدې بـه ستا "تـاودې سرې" راشي
دومـره پـــهٔ بـــانـړه رپـونـــه مـــهٔ وَهـــه
چــرتـــه نـــه، پـــهٔ زړونـــو زلـزلـې راشـي
کَـيف دَ بـې خـــودۍ وَتـــه لــېـوالـــه يُو
ستـــا دې پـــهٔ جـامـونـو کـښـې چـپـې راشـي

بـيـــا مـــې دَ مـــاضـي خـبـره چـېـړ مــه
ګـوره کـــهٔ مـې تـــلـلي زمـانـې راشـي
★★★★★

○

ګرانه اشنا چې راته تا وُکتل
زما په لور تولې دنیا وُکتل

زما دَ ښکلې استقبال زېرے دے
حال مې ماضي وَته په شا وُکتل

په بده ورځ لۀ چا هیله مۀ لره
ښۀ ښۀ یاران مې دَ دنیا وُکتل

ستا دَ ښائېست دلیل، جنون دے زما
تا آئینې ته خامخا وُکتل

څۀ ګُرَم خونۀ یَمه ګَر مېږې وُلې
تا چې را وُکتل نو ما وُکتل

چرې "هم خوا" مې خَیر خوا شوے نۀ دے
چې شا وخوا مې لۀ پخوا وُکتل

ستا دَ خوَږې وَینا اثر وو خېنې
شیرینّ اشنا درته بیا بیا وُکتل

★ ★ ★ ★ ★

دغــــه دَ درد اَو دَ درمـــان خبــرې
دا مــې دَ جـــان اَو دَ جـــانـــان خبــرې
مُـلا دَ تـــا دَ مسلــمـــان خبــرې
ؤشــوه! زمـــا شــوې دَ افـغـــان خبرې
څــــۀ دَ دوران څــــۀ دَ جـانـــان خبــرې
ؤكـــړه اشــنـــا دَ دې زمـــان خبـــرې
دغــه حجـرو كبنې څـائيدے نۀ شمه
چـرتــه دَ څـان چـرتــه د "خـان خبرې"
پــۀ زړونـو سپين اَو بنــۀ ډاډه يُو كَــنــه!
كَــوُو پــۀ ډاگــه، پــۀ مَيدان خبــرې

شيــريـنــــهٔ! ؤكـړه تـصـوّر دَ زلـفـو
لــۀ وختـــه اَورم دَ زندان خبـــرې
★★★★★

○

چــا کــۀ رنـګـونـــه دَ دنيــا ؤکـاتـــۀ
مـــونـــږه خـــوږُونـــــه دَ اشنـــا ؤکـــاتـــۀ
اوښکې، سلګـۍ، شـوی آ هـونــــه دی بـــس
مــا پـــۀ ورشو کښې چې هـر خوا ؤکـاتـۀ
دَ يـــو نـمَـر مـخـی دَ ليـــدو پـــۀ هيلــه
مـــونـــږه سبــا نـــه تـــر بېګــا ؤکـــاتـــۀ
هېڅ خبـر نـــۀ شـومــه لـۀ ځـانـه، څـۀ شو
نــن چې دې مـــا وتـــه پـــۀ غلا ؤکـــاتـــۀ
خـدای زده، چې اوس بـه تر پــنه څـۀ جوړېږی
مــا چې در ؤکــاتــه اَو تـــا ؤکـــاتـــه
هـــر يـــو انــداز دې سره بېَل وۀ ګـلــه!
تـــاتـــه هـــر چـــا جـدا جدا ؤکـاتـــۀ
دا زړۀ رابـــنـکــون وو کــۀ افسون وو ګــلــه!
پـــۀ نـــۀ کـــاتـــۀ کښې مـو بلا ؤکــاتـــۀ

څـــه اوس ګـــرېـوان دې تـــار پـــۀ تار ګـرځوه
شيــريـــنـــه! تـــا هـم خـــامـخـــا ؤکـــاتـــۀ

★ ★ ★ ★ ★

یادې اوښکې چې راڅک مې ترې لیمهٔ شي
یا جرګې دي چې درتولې په کالهٔ شي

چې رانېغ لهٔ یو او بل پسې بانړهٔ شي
بیا زخمونه به دَ زړهٔ ترې څنګ اودهٔ شي

کارهٔ ګُشي په کړو لیندو راکاږي
کسب ګرو نه به نخښه خطا نهٔ شي

دَ دې هسې رنګ جنون څخه دَ چا ذده
مګر دا خپله تار تارۍ ګرېوانهٔ شي

ما هم غوښتي ترې دَ ژوند همه رنګونه
پسرلی کهٔ مې ورشو ته راستانهٔ شي

ګوره! سترګې به مې حال دَ زړګي وایي
خپل کالهٔ وي زما پاتې چُپهٔ خلهٔ شي

خپل شعور مې دَ دستور څخه مجبور دے
ستا هر غم وته ما کړی "ستړی مهٔ شي"

بدل پاتې مې دَ زړهٔ پرې شیرین یاره!
دریغه! ښکلی اشنایان کهٔ پښتانهٔ شي

★ ★ ★ ★ ★

ولـــې تــل غــوارُو آمـــــان خېـل
لــړ دې و پښتـــــه مـــژگـــان خېل
یـــابـــه وګـــتــم جـــانـــان خېـل
یـــابـــه بـــایــلـم پســې ځـــان خېـل
انتهــــــا د بېلـــې دردې کښـــې
کـــوم کـــوم و ژاړم ارمـــــان خېـل
پـــــه ډيــــوو ستــــا د يـــادونــو
د زړه کـــور مـــې کـــړه روښـــان خېـل
دُر گـــوهـــر پـــــه بهــــا غـــواړي
ځـــومـــره ځـــان دې کـــړه ارزان خېـل
لـــيـونـــی د ښــــار خبـــر کـــړه
مـــا هـــم وخیـــره گـــريــوان خېـل

شیـــرین یـــار بـــه مـــې پخـلا شي
لـــر او بـــر واړه افـــغـــــان خېـل

★ ★ ★ ★ ★

○

چې دا ستا دَ خُوږ نظر پلوَشې راغلې
لکه بیا زما مزار له ډیوې راغلې

دَ هستۍ له غمۀ خلاص کړم، خود مې لاړو
مستې ستا دَ ډکو سترګو کاسې راغلې

ستنېدل دَ خوبولو سترګو څۀ وُو
سم له تکه پۀ محفل کښې جوتې راغلې

دلته اوښکې کۀ مې راغلې پۀ لیمو کښې
هلته ستا پۀ اننګو چې خولې راغلې

دا بَیدیا به آبادۍ سره کا سیاله
دَ بې باکه پسرلی قافلې راغلې

هسې څان چې درنه ورک دے شیرین یاره!
لکه بیا دې دَجانان تر کوڅې راغلې

★★★★★

○

زړهٔ مې راتـه وايـي، چې دَ ښکلو محبت وکړه
عـقل راتـه وايي، ګوره! دغـه نـه نفرت وکړه
نـهٔ مې پرېږدي ستا دَ ديدن تـندې ماتولو تـه
لږ خو مې خـاطر دَ پښتو وکړه خپلـه ست وکړه
چرتـه چې احساس لـه درتـه هم ئ لمسه درکړلې
اې غـافلـه يـاره! نـن لـهٔ زلفو شکايت وکړه
پرېږده چې زخمونـه دَ زړهٔ هم مې ګرېوان وڅيري
وٰ خـانده، مسکے شـه، ګـلـه! بيا دې زوړ عادت وکړه
خط اَو خـال دَ مخ دې اطـاعـت کـهٔ بغاوت بنايي
مـاتـه ځـهٔ مـعنا دې دَ کتاب لـهٔ عبارت وکړه
پت دے کـهٔ الفت دے خـوتـوښه ئې زهٔ دَ زيست ګنړم
تـهٔ کـهٔ محبت نـهٔ کوې، خَير دے! قوميَت وکړه

دېر پـهٔ شش و پنج کښې دې شيرينـه اچولے دے
لږ دَ دغـه شـعـر دې وَ اشـنا تـه وضاحت وکړه

★ ★ ★ ★ ★

○

همه ښکلا، واړه زیبا ګلونه
دا دَ صحرا اَو دَ بېدیا ګلونه
لکه سَحر به ګرېوان خیرې لَرو
دا سې دې اوسی په خندا ګلونه
ستا اوچې شونډې اَو دا سپور انګی
لکه دَ دشت اَو سوراړا ګلونه
بس خوله ځانه ځانه وُبَلُل مو
چا په وفا، چا په جفا ګلونه
دغه په ما کښې څهٔ کمے خو نهٔ دے
یاره نو خوښ وی دَ هَر چا ګلونه
دَیار په زلفو کښې ئې کښېدو قطار
که وی په سر هم، مالی را ګلونه
سپرلیه! هله به دې ؤمنمه!
چې کړې دا سمه، غرهٔ، صحرا ګلونه
زما دَ اوښکو بارانونه وورې
خکه خو مومی ارتقا ګلونه
شیرینه! سترګو کښې ئې ګل دې ؤشی
چانه چې نهٔ شی لیدے ستا ګلونه

چې زما دَ مينې نوم پکښې الزام دے
دېّ محفل نه زماه درې لېشتې سلام دے
هر هغه چې ستا پۀ مينه کښې بدنام دے
ما ئې کړے سر پۀ سترګو احترام دے
کۀ دې نوم پۀ سر دَ دار هُم زۀ وانځلم
ستا دَ در دَ خاورو بونې پۀ ما حرام دے
لۀ هم دغه همد مانو شم پۀ ډَېره
همدردی ورځخه نشته، غرض عام دے
پَېمانو ته دَ صُهبا مې کله پام دے
پۀ نظر کښې مې دَ مستو سترګو جام دے

ډکې سترګې، خوَرې زلفې، مې پۀ زړۀ شوې
شيرين ياره! دَ سيند غاړه ده، مابنام دے

★★★★★

تاته پهٔ کاتهٔ کهٔ مې دَ سترګو نهٔ نظر ځی
ځی دې کنه یاره! ورسره کهٔ مې هم سر ځی
ډېرې فتوې راوړې زاهدانو پهٔ رندانو
وَلې مَیخانې ته هر سحر اَو مازیګر ځی
اوښکې مې لهٔ مخه پهٔ نظر دې داسې ۋړے شی
یاره! لکه پرخه پلوشو باندې دَ نمَر ځی
عِشقه! وَلولو دې ئیمه داسې اوار کړے
فکر ته مې ګوره نېغ پهٔ سمه اوۀ پهٔ غر ځی
آوکنه واعظه! ستا وَینا کښې دوه رنګی ده
ځکه درنه خلک څهٔ پهٔ لر اَو څهٔ پهٔ بر ځی

دا لکه زما دَ ژوندانهٔ شام اَو سحر ځی
خیال نه کهٔ زما چرې کابل اَو پَیښور ځی

★ ★ ★ ★ ★

○

دا غـــصــــه ده، دا خـــنـــدا ده
یـــو دې نــــــاز دے، یـــو ادا ده
دا دې قهــــــر، دا دې مِهــــــر
یـــو ســــزا ده، یـــو جـــزا ده
دا هَـــم خـــوا دے، دا هَـــم راه دے
یـــو جـــفـــا ده، یـــو وفـــا ده
دا ژونـــــدون دے، دا کــــــردار دے
یـــو فــنـــا ده، یـــو بــقـــا ده
دا ګـــلان دی، دا لبــــــان دی
یـــو خـــنــدا ده، یـــو مسکـــا ده

دا شیـــریـــن دے، دا وَیـــنـــا ده
یـــو میـــنـــا ده، یَـــو صُهبـــا ده

★ ★ ★ ★ ★

○

څـــنګ به دَ ژوند څـَنګ کښې مست نکهت په ګډا نهٔ غواړو
چـاوې ؟ پـهٔ چـمـن کښـې دَ غـوټـيـو مُسکا نـهٔ غـواړو
بيـا پـهٔ سـمـه، غـر مـې دَ حيات رنګونـه ونولـه
حـق لـرو سپرليـه! څـهٔ کـوم پـور خـولتانـهٔ غـواړو
ستـا دَ راتـلـو زيـرے بـه دَ زړونـو تيـَرې لـرې کـا
راشـه شـمـعـه رويـه! څـو دَ رسم رنـړانـهٔ غـواړو
ستـا دَ لـړ نـظـر پـهٔ عـنـايـت مـو وشـي سـود څـېـنې
اے دَ وس مـېـر مـنـې! دومـره ډېـره سخـا نـهٔ غـواړو
مـونـږه پـهٔ دې درد بـانـدې تـل سوّد دَ درمـان کـړے دے
څـکـه هـمـدردي چـرې بې دردونـه ستـا، نـهٔ غـواړو
ستـا دا ډکـې سترګـې هـدايت نـه عبـارت شـولـې
خـارلـه دې صوابـه پـَيـمـانـې دَ صهبـانـهٔ غـواړو

مـونـږه شيـريـَن يـاره! بنـهٔ پـهٔ وزن کښې ربنتيـا وُوې
داد نـو دَ چـا څـهٔ کـوُو اَو داد هـم لـه چـا نـه غـواړو

★ ★ ★ ★ ★

○

دغه محفل کښې دې ځپيا وه نو بيا چا څۀ وه وې
اشنا خوت دې وَينا وکړه اَوې ما څۀ ووې

کله! يو زۀ يم چې دې درد دَ زړۀ چاؤدون ستايمه
کښېنې پۀ حال خو دې چمن اَو نۀ صبا څۀ وُوې

دَ سپرلى بادهٔ! زۀ بـه هـلـۀ دَتا وُمنمه
کۀ دې زما دَ بيابان اَو دَ صحرا څۀ وُوې

هغۀ وې: دا مې دَ رخسار و اَو زلفانو قيصه
ماچې دَ ژوند لۀ دېٓ سبا اَو لۀ بېګا څۀ وُوې

ستا دَ وعدې غوندې بې ژبې، چپه خلۀ پاتې يو
نۀ خو سبا کښې شو ګويا، نۀ مو بېګا څۀ وُوې

دا پۀ تـلـۀ تـلـۀ کښې غلى غلى موسېدل شيرينهٓ!
ستا پۀ جنون ئې جوړې هسې دَ خندا څۀ وُوې

* * * * *

○

زما ستر کونه ې واخله په بانړو کښې
پښتنه اوښکه ده توی نه شي په خپو کښې

هر سبا مې وړک دَ مخ په پلوشو کښې
هر بېګا مې پټ دَ زلفو په تیارو کښې

دَ غیرت شملې شي لګې په پټکو کښې
دَ حیا غمې به بربښي لوپټو کښې

دَ جنون دَ انتها څوکه ده هسکه
مودې دېرې ورته لګي په ختو کښې

شفق واخستې سلګۍ غبرږ دَ ماښام کښې
شوخ لیمه ې لیدی، زلفو نیم کښو کښې

ساقي! اوړی ستا دَ سترګو دَ لیدو یُو
نور دې نه یُو په کوم رسم یا نشو کښې

زهٔ دَ مینې دَ یارانو سر حلقه یم
ښکلې یار مې ځایوی دَ زړهٔ لیمو کښې

بیا ادراک مې بې درکه دَ ژوندون دے
پسې کر خمه کوځو دَ پښتنو کښې

★ ★ ★ ★ ★

○

داسې لـهٔ ډېره لېونتوبه درتـه ما څـهٔ ؤوې
دغـه هـم وايـه! چې دې هسې دَ خندا څـهٔ ؤوې
تـا دَيـو خـلې قربانی ورکړه، ما دَ زړهٔ اَو ځیګر
ګـوره! کـهٔ تـا پکښې هېڅ ؤنهٔ وې نو ما څـهٔ ؤوې
اوس پـهٔ نـغـمـو دَ بـلبلانو کښې يو سُر دے نُوے
دَ ګـل پـهٔ غـېږ کښې ورته نن تازه صبا څـهٔ ؤوې
عـقـل اَو فـکـر، احتِـيـاط ئې لـمـا يوړل سره
چې نـظـر ونـو دې ککـيّـو کښـې پـهٔ غلا څـهٔ ؤوې
تـا وتـه ډېـر ډېر شواخُون اَو زړهٔ چاودون پاتې دے
مئِـنـه! تـا خـانـتـه دَ عشق پـهٔ ابتدا څـهٔ ؤوې

مـا وې: چې سر مې پهٔ يارانو ورکؤم شيرينّهٔ!
هـډو يـاران مې شوُ رابرند وې ئې دا تا څـهٔ ؤوې

★ ★ ★ ★ ★

چې دَ خپلو وینو جام زما نصیب شی
کاش کهٔ دغه یو مابنام زما نصیب شی
عزتونه، دَ جهان به سلامی شی
کهٔ دا ستا لهٔ خوا سلام زما نصیب شی
هیڅ مې نهٔ زړه دَ خپل تن لهٔ یو اندامه
څهٔ به بل رنګ بد انجام زما نصیب شی
چې نائنرېږي لهٔ څنرېږ پهٔ ارام شی
دغه یو ساعت ارام زما نصیب شی
کهٔ ګلونه دَ اُمَید راتوکؤل کا
پهٔ دې خاوره به قیام زما نصیب شی

چې مستي دَ سترګو ؤغوارم شیرینهٔ!
دَ حسرت دَ اوښکو جام زما نصیب شی

★★★★★

○

پـــهٔ څـمبـا، هَـسـې بـانـړهٔ کـا
بَیـرتـه ولېښ مـې پښتـانـهٔ کـا

زمـــا زړهٔ دَ تـــا پـــهٔ زړهٔ دے
تـهٔ دې خـلـهٔ زمـا پـهٔ خلـهٔ کـا

وَر مـې پـورې دَ تـوبـې کـړهٔ
تـهٔ رادِک دې سـړهٔ لیـمـهٔ کـا

څـارلـهٔ ږکـو شـوخـو سترګـو
اوږی ګـسـی مـې مـاړهٔ کـا

دَ سـاقـی جـامـونـه ړکـی
دَ واعـظ خـلـهٔ ئـې اوبـهٔ کـا

کـج ئـې زهٔ پـهٔ کـج رَوِش کـړم
خـداې پـهٔ نـېـغـه دې بـانـړهٔ کـا

دا مـاشـوم فـکـر مـې واخـلـه
دَ نـظـر غـېـر کښـې اودهٔ کـا

★ ★ ★ ★ ★

هم دې په خله هم دې په زړه پوهېږم

زه خو اشنا په تا د هر بڼه پوهېږم

قاصده! وبه کړې په زړه مې ګزار

هسې دا ستا له نه وايه پوهېږم

د بېلتانه له تاوده څه وايم

که به په خوند د ژوندانه پوهېږم

د مخ د نمر څرېکه دې راکا تکور

د دږد په څرېکه مې بيا څه پوهېږم

راته له سره شي بيا تېر وختونه

په ژوندانه خو به هله پوهېږم

ډرنګ له به وږه د زړه کوی شيرينه!

د هغه بنکلی په کړه وړه پوهېږم

* * * * *

○

چې زما سره هَم کار دے
کۀ اغيار دے، زما يار دے
سر لۀ هغه ياره ځار دے
چې خوددار دے، هم دلدار دے
سيم او زر کۀ درست خروار دے
هيڅ دَ حسن پۀ بازار دے
څوک دَ مينې دعويدار دے
څوک دَ حسن خريدار دے
زړۀ پۀ زلفو گرفتار دے
د بېر شديدې انتشار دے
بيا پۀ تکړ، پۀ تلوار دے
چې تکل کښې دَ کوم ښکار دے

څو ژوندے دې شيرينّ يار دے
گروان څيرې نغمه زار دے

★★★★★

○

بیا دَ ښکلو نظرونو انضمام دے
څکه یو مود دَ منزل په مزَل ګام دے

دَ رقیب په شور اَو زوَر چې ګوره نهٔ شې
دا دَ مینې لېونتوب نهٔ دے سرسام دے

لاس په نام ورته اولاړ په احترام وی
هر سړے دَزر اَو زور داسې غلام دے

مارنخور لره دوا ده، باک ئې مهٔ کړه
ستا دَ خلې نه کهٔ دُعا ده،کهٔ دُشنام دے

چې "سر خنړې" لره څهٔ سامان دې وُکا.؟
ډېر دَ خیال دَ مشاطې نه اهتمام دے

دَ شملې اَولوپټې نه دې لاس واخِست
دومره کُوز دَ تانه وُلې تللے پام دے

چې یاری ئې وخت اَو بخت نه ویَره نهٔ کا
زما دغسې یارانو ته سلام دے

ستا په مینه باندې مړ دے خو مړ نهٔ شو
شیرین یار دې اوس کامران اَوکهٔ ناکام دے

★ ★ ★ ★ ★

○

کله کوری په خندا کله غصه کښې
خدای دې څوک چرې حیران نهٔ کا په دوه کښې

ما وې څه نو سړې پچنه غوندې ښکاری
ځکه داسې خوځې واخستم تا وده کښې

تاوې: ما وَته مې ناز دے په خوانئ مې
ما وې: زهٔ هُم یم دَ مینې په نشه کښې

اے واعظه! چې نظرئ مَل دَ جام شو
دومرد زور مې هلته چرته وو توبه کښې

دا ښائېست اَو جنون ستر کښې دَچا نه
څو به څان ساتولهٔ څانه په پرده کښې

دَخپل ضد اَو دَ انکار به خپله رد کړې
کهٔ مې زور وی پهٔ دلیل اؤ حواله کښې

کهٔ دَ زلفو غوټې پرانېزی شیرینَه!
دَ قیام طاقت به نهٔ وی وسوسه کښې

★ ★ ★ ★ ★

○

نهٔ ئې خوب نهٔ ئې دمه چرته کوم دم شي
ستا یادونه چې پهٔ زړهٔ دَچا رقم شي

پهٔ منېنو دې خیرات دَ دیدن بویه
شته من یار د! کهٔ ذَره به دې څهٔ کَم شي

دَ نظر تُورې دې وُنغاړه بانړهٔ کښې
چرته نهٔ وی دَچا زړونه پرې قلم شي

ویر دَ غمِ ئې چې پهٔ درست جهان کښې وُکړې
هلهٔ زړهٔ کښې ئې پَیدا به دا ستا غم شي

زړهٔ ئې ډک لهٔ شک اَو وَهم، وُلې ګوره!
چې داخل خلک پهٔ دیر اَو پهٔ حَرم شي

ستا دَ زلفو رَوِش اخلی، بلا وشوه
دا کاږهٔ بانړهٔ دې پوئ کړه چې لږ سم شي

څو اُوچوبے ستا دَ مخ دَ پانړې وېنی
دَ شیریَن جانان لیمهٔ راډک لهٔ نم شي

★ ★ ★ ★ ★

کله خو هسې تکه سره غوندې شه
هله نو تکنه غرمه غوندې شه
بیا به زرغون شي دَ ارمان ګلونه
بیا دَ سپرلي هغه وږمه غوندې شه
پر پرېږده چې وزُګ شي څان لۀ څانه څېږني
څو مېلمنه ئې، کوربنه غوندې شه
دَغزل رنګ کښې به مې وڅلېږي
څۀ اشاره، څۀ کنایه غوندې شه
لوئ به هُم لوئ نۀ کا بیا زړونه لَتا
تۀ ماشومتوب وکړه وَړه غوندې شه

حیا منم، خو نظر تیت دې نۀ وی
اَبرو دې بر کړه پښتنه غوندې شه

★★★★★

○

لړه ترخه شوه پښتنه جوړه شوه
دغه خبره څۀ خوږه جوړه شوه
ستا دَ کچه کچه وعدو نه ګله!
دا یارانه زمونږ پخه جوړه شوه
بیا دې کاسې دَ ستر ګو ډکې شولې
بیا پۀ محفل چپه چپه جوړه شوه
ستا دَ بانړۀ لۀ څَنبا نۀ ژارمه
پۀ لر اَو بر مې زلزله جوړه شوه
ستا دَ کاکل اَو خال دَ رویه څِنی
مونږ وَته دام اَو هم دانه جوړه شوه

شیرینه! څان خو رانه ؤرک شو هډو
دا مبلمنه چې کوربنه جوړه شوه

★ ★ ★ ★ ★

زندګي به مو بې کته بې پوزې کړو
ولې مونږ به د مريانو بندګي کړو
کېني اوس د سرېتوب قدر ونه کوم دی
دا خو مونږ يو چې خويونه پښتني کړو
تا که وروک دې مُغُلي خويونه نهٔ کړهٔ
مونږ به هم خپل تاريخونه را ژوندي کړو
د اغيارو په دروغو کناره کړې
راشه، راشه، خپلو ميَنځ کښې رښتينې کړو
د يار مخ چې د رنګ رنګ ګلونو ډک دے
مونږ به څهٔ د بهارونو متازي کړو

د يار مينې هسې ډېر لېونی کړی
دغمونو آخسته په رونړ تندي کړو

* * * * *

○

څو کې دَ غـرهٔ دَ سپېـلَنـو مـاتوی
بیـا بـه نـظـر دَ اَنـنکـو مـاتوی
دَ یـار دَ مخ لـهٔ زرخَیـزَیـه لوکې
چـې تـکبّـر دَ پسـرلـو مـاتـوی
دَچـا پـهٔ بـنْرچې لارې مـاتې وی تُل
هـغـه شپـولـونـه دَ پـردو مـاتـوی
دَ عشق پـهٔ رزم کښې سَـر خَـم کـا تسلیم
هـغـه خـرئ چې دَ سـرو مـاتـوی
بیـا یْ کـمـخـئ دَ زلـفـو ؤ سپْـرډلې
جـورې وحـدت دَ پښتـنـو مـاتـوی

او تـرې سترکې بـرند بانـرهٔ شیرینـهٔ!
څـنـکـه غـرُور دَ مـیـرَنـو مـاتـوی

* * * * *

د وختونو د نازونو غلبلې دی
څکه داسې حادثې پرله پسې دی
یو سپېره کښې فنا د وجود غواړی
څه بدلې د حالاتو ارادې دی
ما د زړه کنډر آباد د یار په یاد کړه
محفلونه ئې خوارهٔ، شاړې حجرې دی
بیا سحر کښې د غوټیو مُسکا غواړی
د بلبلو پسرلو وته نارې دی
په تنکۍ غوټیو څه آ د خندا شان دے؟
د فلک د تندرونو سترګې سرې دی

د جفا ځغلې په کرُت خوبان اولاړ دی
شیرینؔ یاره! حوصلې مو پښتنې دی

★★★★★

○

غورځولے چې دې داسې لـۀ نظر يم
دا خو خکه چې ګنړلے دې بې زَر يم
بيا خو تۀ به مې يارئ ته هوسېږې
چې اولاړ پۀ يو مقام دَ خپل هنر يم
خود داري به مې ستا در وَته پرې نۀ ږدي
اے بې درده! کۀ تر عمره در پۀ در يم
دې حالاتو وته سر تيتوے نۀ شم
پۀ جنون کښې دَ مجنون نه ګېږنې سر يم
دا چې لار دَ سرِيتوب لما خطا کا
خدائ دې نۀ کا چې لۀ هجره کوروکر يم

پۀ وحشت دَ وخت څۀ نۀ يم شيرين ياره!
بنۀ ډاډه اوسم کۀ څو هم تر خطر يم

★ ★ ★ ★ ★

○

ستا پۀ عشق کښې مې څۀ حال دے
دا زوال دے، یا کمال دے
لیو وصال، لیو انفصال دے
څۀ مې حال، څۀ استقبال دے

هسې مخ ئې زړۀ مې وسوۀ
لکه حال پرېنه دَخال دے
دا زما اوښکې توئېږي
کۀ موسم دَ پَشکال دے

تار دَ زلفو دې هم وایه
چاته دام دے، چاته تال دے
یوامکان دے ستا وصل
کۀ مې خوب دے، کۀ مې خیال دے

دَ رنګین جبین لۀ فیضه
پسرلے هم ماالا مال دے

ستا دَ زلفو فکر یوړم
چې وحدت ئې پائِمال دے

★ ★ ★ ★ ★

○

چې دَ زلفانو اَو بانړو قیصه ده
دا دَ ښاغلو پښتنو قیصه ده
ما هم چېړلې دَ هغو قیصه ده
چا چې لیکلې دَ پښتو قیصه ده
تا وې: په باب دَ اژدهو پېژنې؟
ما وې چې: دغه دَ اوږدو قیصه ده
همدمه! خود به نو زنګېږو سره
چې دَ بانړو اَو دَ لیمو قیصه ده
دا دَ یار غوږ اَو ګنګوسې دَ رقیب
دَ اَوریدو، نه اَوریدو قیصه ده
وارېږي دَ وخت نو زما لاسو کښې وې
بارې! دَ تېرو زمانو قیصه ده
زما په خله به ته ځخلا شې، ګنه؟
دا دَ جرګو اَو مرکو قیصه ده!
ستا دَ اوږدو زلفو خورو قیصه ده
زما دَ ژوند دَ شوګیرو قیصه ده
شیرینیه! دا چې بیا له سره شوله
زما دَ سرو سترګو لامدو قیصه ده

○

ستا چې لـهٔ خوا نوې وعدې نـهٔ راځـي
اوس درتـــه نـوري بهـانـې نـــهٔ راځـي
اے هــمــدمــانـو! پـهٔ محفـل ځـهٔ وشو
يـــار مــو راځــي، ولې!ديوې نــهٔ راځي
هــغــه لـهٔ تا چې بور نـېدل وختونـه
بــس دے، اوس هـغـه ورځې شپې نهٔ راځي
زهٔ دې دَ زلـفـو نـــه غـــافـل نـــهٔ يمـه
دَ بهــــارونـــو قــافـلـې نـــهٔ راځـــي
وخـــت دَ احســـاس دَ پـــار ولـو دے نـن
چا وَيـل ؟ چې هسې رنګ قيصې نـهٔ راځي

هـغــه نـظـر، هـغــه ګـرمـي، چرتـه اوس
پـــهٔ انــنـګـو چې دې خـولې نـــهٔ راځــي

★★★★★

چې مېـنـــان درتـــه پـــهٔ در پراتـــهٔ وی
کـــنــړه دیـدن تـــه بـــه نهَـر پراتـــهٔ وی
خـــار دې شم خــار مُسکـــی نظر نـــه کُلـه!
تـــل مـــې داغـونـــه پـــهٔ ځیګر پراتـــهٔ وی
خـدایـــه! زلـفـــان لـکـه "افـغــان" ئې نـــهٔ کړې
چې څــهٔ پــهٔ لَر اَو څــهٔ پــهٔ بَر پراتـــهٔ وی
تـــرهـــه دې نـــهٔ څــی غـزالـو سترګـو نـــه
تـــل دې بـــانـړهٔ پرېـنـــه اوتر پراتـــهٔ وی
ستـــا پـــهٔ وفـا چې څوک نـازېړی کـلـــه!
لـکـــه دَ شکې پـــهٔ کَـمـر پـراتـــهٔ وی
لاس بـــه ئې بَر نـــهٔ شی دا ستا پهٔ کـاکل
څوکـــهٔ پـــهٔ څوکـــه دَتور غـر پـراتـــهٔ وی

شیـــریـنـــهٔ! تیـنک یُو پــهٔ نـقـطـــه دَ پښتو
خـلک کـــهٔ هـــر څو پــهٔ چکـر پـراتـــهٔ وی

★ ★ ★ ★ ★

○

چې رایاد تېرۀ مژګان کړم
لا سېوا آه و فغان کړم
چې ته ښکلې، چې ته مینه
یاره! ؤلې به ارمان کړم
انتها دَ بې حِسۍ کښې
کوم حسرت چا ته بیان کړم
رڼې اوښکې مشالونه
دَ منزل حد پرې روښان کړم
دَ ځیګر اَو زړۀ پېلۀ وینو
اوبۀ خوَر دَ ګلستان کړم
ستا دَ خلې هوَس مې نېشته
یو ښېوې له زړۀ تاوان کړم

بیا احوال دَ یار دَ زلفو
شیرین یاره! ښۀ پرَیشان کړم

★ ★ ★ ★ ★

○

نن وَ ماته چې ئې مخ اَو نهٔ ئې شا وه
خدای ذده دا وه مروَره کهٔ پخلا وه
لکه گل به دَ یار شونډې رپېدلې
زلزله چې به پهٔ ما، سبا، بېگا وه
سم لهٔ واره ئې زړگے راڅخه یوړهٔ
گله! ستا یوه مسکا نهٔ وه بلا وه
ستا نظر وو لکه سِحر پهٔ ما شوے
چې پهٔ سترگو راخوره تیارهٔ زما وه
پرَیشانئ وې لکه ستا دَ خوَرو زلفو
چې مې زړهٔ کښې اند ښنه داسې بیا بیا وه
پتنگانو جوړ دَ مینې حق ادا کړهٔ
نن چې شمع پهٔ سلگو کښې پهٔ خندا وه
ستا دَ حسن رنگینئ کهٔ پکښې نهٔ وے
دا دنیا به دنیا نهٔ وه، کهٔ دنیا وه
دا وو ستا دَ زلفو سِورے پهٔ ما شوے
چې مې ذهن کښې دَ اوږد خوب سودا وه
دا محفل شیرینه! هسې سنجیده وو
کښې ستا هره خبره دَ خندا وه

★ ★ ★ ★ ★ ★

چې مې چنګ په پښتو تارونو ساز شۀ
سره سم تر اوسنو نغمو ئې ساز شه
یاره! تا چرته دَ مینې غږ راؤکړۀ
کۀ په بېرته راوا پس مې خپل اواز شۀ
سپېڅلتیا خو نن "دارولره هم نشته"
هر وګړے دَ نرۍ "زمانه ساز" شۀ
دا زما غوندې چې نۀ وینی په سترګو
داسې وخت دے هسې هم غریب نواز شۀ
لۀ بنا ریز باغونو هسې کونې لاړې
بیابان، زمونږ په سرو وینو بنیراز شۀ
خاوندان ئې دَ شعور څۀ لېونی کړه
هر یو شعر مې ګرېوان خیرې نغمه ساز شۀ

شیرین یار دَ تالۀ پاکې مینې زار شۀ
یاره پوهه بس ایله دَ ژوند په راز شۀ

* * * * *

کـــهٔ ســنکیــنـي دَ وختـونـو مـرحلـې دی
نــازَنیـــنـي مــو دَ زړونـو تـلـوَسې دی
ستــا وصــال مې استقبال شو، کهٔ خوب وېنم
یــا لحظې څـو دَ مــاضــی نــه راستني دی
ښـــهٔ یـــاران مـــې رانـــه هـم لمَن راکــاږی
څـــهٔ راغـلـي پـــهٔ مــا بدې ورځې شپې دی
یــو رِنـــدی، بــل زاهِـدی کسب نمــا کــړه
دَچــا لاســو کښي تسبې، دَچــا کـاسې دی
څــومــره ګـــنــړې خـلکې ازار ؤل کــا
هــومــره دېــرې دعــاګـــانې ورپسې دی

لـــهٔ یـــارانو دَ وختـونو تـــراخـــهٔ هېــر کـا
دَ شیــریــنَ جــانــان خبرې څــهٔ خوږې دی

* * * * *

○

چې ستا دَ حُسن په بازار ځَمه
وَلې بې سر اَو بې دینار ځَمه
په سره اورونو، خندړ او خار ځمه
زۀ دَ مرام په سختنه لار ځمه
دَ خپل پښتون آواره فکر په زور
په "کَندکپر" هم دېر اَوار ځمه
ځوک په رضا دَ قضا کُومی له ځی
دَ ښکلی غېږ ته بې اختیار ځمه
له مسیحا خو هم پُښتُنه وَشی
ځَنګه لۀ ځَنګهٔ بیمار ځمه ؟

مُسکا دَ شونډو ځی دَ مخ تر کُتو
زۀ دَ ګریوان هسې تار تار ځمه

★ ★ ★ ★ ★

کـــۀ ښـکـلا ده، کـــۀ خـنـدا ده، یـا ادا ده
یـو ښـېـوه، یـو مـصـنـوعـه، بـلـه ریـا ده
لـویـه شـپـه ده، شـوګـیـره ده،انـدېښـنـه ده
راتــه پـېښــــه هـسـې رنګ بـده بـلا ده
څـو دردونــه، څـو آهونــه، اَو چـونګ اوښکې
دې دنـیــا کښـې مـې دَ ژونـد دغـه بـهـا ده
ځـان ځـانـی ده،یاران تول ګوشه نشین شوۀ
دا عـلـت مـو دَغـربـت دے کـۀ وبـا ده
تـۀ جـرأت پـۀ چُـپـه خلـۀ دَامـامـت کـړه
مـا پـۀ پـتـو سـتـرګـو کـړې اِقـتِـدا ده

خاطِر ښۀ راته سنګین کړه وخت کرَخت دے
شیـریـَن یـاره ! نـن پـۀ مـا، سبـا پـۀ تـا ده

★ ★ ★ ★ ★

○

زۀ پـه بـولان کـه پـه خَـيبـر پر ېوتـم
پــه يـو خبـر دې نــا خبـر پـر ېوتـم
کـلـــه اسمـا ن شوې، کـلـه زمکـه راتـه
چـرتــه کښې زېـر اَوچـرتـه زوَر پـر ېوتم
دو مـره دې درونـد پــه عـنـايت شومـه چې
دَ هـمــه سپکـو لـه نظـر پـر ېوتـم
دا مــې پــه لاس کـاکـل دَ يار کښېوتـه
کـه شپـې اخستـې ئيم پـه غـر پـر ېوتم
خـدايـــه! دَ چـا دَ در لـتـون دے دغـه
چــې بـې اختيـاره دَر پــه دَر پـر ېوتـم
زلـفـو اَو مـخ دې داسـې يـورِ مـه چــې
نـه پـه مـابنـام، نـه پـه سحـر پـر ېوتم

شيـريـنـه! حق مـې چـرتـه تلّلے نـه شـي
خـو کــه لــه ورهٔ بهـر پـر ېـوتـم

★ ★ ★ ★ ★

○

چې اشنايي دَ ستركو سرو كؤمه
خَمه توبه اوس لۀ توبو كؤمه
دا دې غنډنه دَ وعدو كؤمه
چې مې ستائېنه دَ دعوو كؤمه
دَ لوپټو يا سونه ؤبورنبړى
زۀ چې ستائېنه دَ شملو كؤمه
زړۀ مې ډاډه كړۀ دَ باوړ وسيلې
مبارزه تر انديښنو كؤمه
پۀ رَنړو اوښكو توره شپه رُنړؤم
څۀ متازى اوس دَ ډيوو كؤمه
نۀ مې كاكل نۀ مې رخسار ؤليدۀ
هسې منت دَ ورځو شپو كؤمه

چې خپل ضمير هم پرې باؤر نۀ لرى
حَيف دے، يقين چې پۀ هغو كؤمه

★★★★★

○

ستا لۀ الفت چې بغاوت کؤمه
لۀ خانه څُنګه به نفرت کؤمه
کۀ څۀ خبرې دَ ملت کؤمه
نو څۀ دَ مينې محبت کؤمه
دا روِيه نۀ ده، دستور دے مُلا!
تا دَ مَيّنو څنګه ست کؤمه
ستا پۀ نظر کښې هم معصوم نۀ يم لا
چې دې ساتَنه دَ عصمت کؤمه
واره خِستا ؤ ته مې زړۀ ورکؤم
دغه زۀ څومره سخاوت کؤمه
ګِنې بوسه باندې دې کار نۀ لرم
دا خو دَ مينې يو عادت کؤمه

شيرينـہ! لوند دَ يار نظر ئې نۀ کړۀ
لۀ خپلو اوښکو شکايت کؤمه

★ ★ ★ ★ ★

بې دَ زړونو نه دَ ښکلو کلام چرته
بې دَ ښکلو نه دَ زړونو آرام چرته

چې مئېن په مخ اَو زلفو دې ئِم داسې
بې لۀ دې مې اوس سحر اَو ماښام چرته

راشه راشه چې لۀ يو وَ بله خار شو
ښۀ خبرې چې بيا داسې ايام چرته

اوس خندا به لۀ ناکامه راته کاندې
تما مېږی لېونتوب په کمام چرته

کۀ لَيلا مې دَ سپوږمۍ سره تشبيه کړم
راته وايه! ښتنه نو په بام چرته

دا مستان اَو دا صوفيان کا پۀ يو صف کښې
دا صفت شته دَ دې وخت دَ امام چرته

خپلولی پۀ خپلواکۍ ده شيرين ياره!
لۀ دې رازه خبر شوے مې قام چرته

★ ★ ★ ★ ★

○

نهٔ دې پهٔ خيال کښې نهٔ پهٔ زړهٔ پاتې شوم
کينې اوس هم لهٔ ډېر وښهٔ پاتې شوم
څهٔ پهٔ ليمهٔ، څهٔ پهٔ بانړهٔ پاتې شوم
لکه دَ اوښکې پهٔ تلهٔ تلهٔ پاتې شوم
ما نه چې پاتې پهٔ دنيا هم نهٔ شې
تا نه اشنا پهٔ يوه خلهٔ پاتې شوم
کېنې همدمه، څهٔ بې دمه نهٔ يم
خو وخت اَو بخت ته پهٔ کاتهٔ پاتې شوم
دَ شپې اَو زلفو کُور مذکُور وو سره
وخت دَ خوبونو نه اودهٔ پاتې شوم

شيرينه! تهٔ پرېږنه هېڅ پو هه نهٔ شوې
تر څوې يو کُته پهٔ خلهٔ پاتې شوم

★ ★ ★ ★ ★

تـه چې چا وَتـه وَرکـوري هغـه زه يـې
زه کـه خـان وَتـه هم ګـورم همـه تـه يې
زه خـو وايمـه چې پښـو لـه سَـره ستا يم
وايـه تـه چې زمـا يـې کـه زمـا نـه يې
ښـه چې زه يم درتـه ګران لـه خپلـه خانـه!
بيا پـه مرګ مې ولې دومره ايسار نه يې؟
څـنګـه تـانـه مـې زړه بـد کـړمـه پـه بدو
دا چې مـا وتـه لـه ډيـرو خـلقو ښـه يې
پـه محـفل کښې لـه دستوره اوچت نـه شې
کـه نسب اَو پـه منصب بـانـدې هَر څه يې

ډيـوه بَلـه دَ نـامـوس سـاتـه شيـريـنـه!
پـه ولکـه کښې کـه دَ هَر رنګـه تيارهٔ يې

★ ★ ★ ★ ★

○

چې کله زۀ وائم نو تۀ ؤوايې
دَ مئینتوب پۀ باب به څۀ ؤوايې
لا به ښاغلې پښتانۀ ؤوايې
لا به دَ يار زلفې بانړۀ ؤوايې
هغه مدام چې مې پۀ زړۀ وی ګله!
لګ کۀ هغه پۀ خپله خلۀ ؤوايې
پۀ سخت ساعت کښې دې پُښتُّنه ؤکا
پښتون اشنا ورته هلۀ ؤوايې
دلته خو خلۀ ګرځې معيار دَ وَينا
تۀ کۀ هَر څۀ ؤوايې، ښۀ ؤوايې

شیرینه! دغه ځایٔ خو تیر ووځې تۀ
دَ جهان غلۀ وَته چې ملۀ ؤوايې

★ ★ ★ ★ ★

○

څـهٔ چې مې پهٔ زړهٔ راځـې هم هغه مې پهٔ خلهٔ راځـې
ځکـه خـو پـهٔ خـوښـه بـاندې هر چا وته نهٔ راځـې
ولـې نـو! پـهٔ زړهٔ کـهٔ مـې پـراتـهٔ دَ جهان ښکلی دی
لـرې چـې حـجـره لـرې خـو ډېر به مېلمانهٔ راځـې
ډېر ځـېـنـې يـادونـه اَو غـمـونـه ئې راغلی دی
څـهٔ شی کـهٔ تـر اوسه پورې خپله باندې نهٔ راځـې
دا دَچـا لـهٔ مخـه پـهٔ محفل کښې داسې غلے يم
آو ګېـنـې دَ خـوي ښکاره کوُل خو راله ښهٔ راځـې
دريـغـه! چـرې داسـې يـو اَو بل لـه پښتانـهٔ راځـې
څـنـګـه چـې ځـنبا کښې يو تر بله دې بانړهٔ راځـې

خـدای مـهٔ کـا وَ چـرې لـهٔ شيـريـنـه کړاوُ ؤمومې
ؤکـړې يـو نـظـر ورتـه نو دَې باندې دې څهٔ راځـې

★ ★ ★ ★ ★

○

ستا چې بل په لر او بر دَ بېلتون اور دے
بيا کابل او پېښور په لوګو تور دے
دَ دوران، که دَ جانان، که مې دَ ځان دے
هر يو غم زما دَ ژوند په اوږو سور دے
زړه دې وورے يم سودا دَ خور و زلفو
ځکه فکر مې په سمه، په غرړه خور دے
دا خو پټ دَ يارانې درسره پالم
ګنې ستا له تورو زلفو مې زړه تور دے
بند په بند باندې ئې تاؤ کړم لکه پړے
خدايه! تاو دَ بېلتانه کښې څومره زور دے

لېونتوب مې انتها ته رسېدلے
شيرين يارد! په ما تنګ کلے او کور دے

* * * * *

○

خلقو چې دَ وروځو اَو بانړو خبره وکړله
مونږه هم دَ غشو اَو ليندو خبره وکړله

تاکهٔ سر دَ دار اَو زولنو خبره وکړله
ما دَ خپل وقار، خپلې پښتو خبره وکړله

تاکهٔ دَ ساقی دَ پيمانو خبره وکړله
ما دَ يار دَ ډکو سرو ليمو خبره وکړله

نن خو دې نظر سره بانړو بدرګه وکړله
بيا جوړې محفل کښې پښتنو خبره وکړله

مونږ هسې دَ ځان سره دَ خپل لېونتوب وويل
تا جوړې پهٔ جار دَ زولنو خبره وکړله

تللى ارمانونه مې زړګى ته راستانهٔ شو بيا
تا چې دَ راتلو سره دَ تلو خبره وکړله

تا مې دَ سُختَه ځيګر لهٔ حاله هيڅ وَنهٔ وَئيل
ما دې دَ نظر دَ پلوشو خبره وکړله

کله خو دَ اوښکو نه غيرت هم سترګې ډکې کا
چا دَ ننواتو اَو جرګو خبره وکړله

★ ★ ★ ★ ★

خو ستا دَ مخ اَو سترګو دَ اثر خبرې کېږی

چې دلته کښې سحر اَو مازيګر خبرې کېږی

ذَره هم کۀ زما دَ غوږ زړګی چرې څوک وايی

چې کېږی نو دا ستا دَ خُوږ نظر خبرې کېږی

څۀ هم کۀ مو هر درد دَ زمانې پۀ سر اخُستې

بيا هم په مونږ پسې پۀ هر يو دَر خبرې کېږی

سُرخئ چې دې پۀ څوکو دَ رخسارو راغورېږی

اشنا جورې پۀ باب مې دَ خطر خبرې کېږی

دا نه د چې رازونه کېږي زړۀ کښې نۀ ساتمه

لۀ ډېره لېدنتوبه بس اکثر خبرې کېږی

شيرينّه! ګوره زړۀ دې بنکته پورته عشق کښې نۀ کړې

سبا به پۀ کابل اَو پېښور خبرې کېږی

★ ★ ★ ★ ★

○

چا وې چې تا وَنه خفه نهٔ شوله
زما پهٔ لوری راستنه نهٔ شوله
کوره چې تېنګه پهٔ وعده نهٔ شوله
دا خو رښتیا چې پښتنه نهٔ شوله
یاره چې ستا هغه وعده نهٔ شوله
زما پهٔ تا هغه دعوه نهٔ شوله
خو فقیرانو وته پاتې ده اوس
چې دَ شاهانو نه پوره نهٔ شوله
پهٔ نهٔ راتلهٔ دې خفه نهٔ یم ګله!
ولې نو دا خو یارانه نهٔ شوله
"تاودې سرې" ئې کړلې جذب دَ وخت
تاوده جذبه زما سړه نهٔ شوله
زما دَاوښکو څڅېدو کښې وایی
دَ بارانهٔ هسې شېبه نهٔ شوله
شیرینه! زړهٔ مې ګِنې ولړزېدهٔ
پهٔ لَر اَو بَر ئې زلزله نهٔ شوله

★★★★★

(۱)

نوے یار چې نوې نوې بهانه کا
بد ګمانه مې په درسته زمانه کا

لږ دې ښکلي مې سرزار په پټو سترګو
یو نظر راته د سترګو نذرانه کا

هلته وخېژی لیمه ځې د شوخۍ نه
دلته رکه مې د صبر پیمانه کا

څو وصال که د دیوې دے په لمبو کښې
څه پرواه د سرو اورونو پروانه کا

د "سبانه تر بېګا" مې سره خپل کا
د "بېګا دنه تر سبا" مې بېګانه کا

هر سرے پسې جانان هسې ناري کا
خپل مزاج چې څوک پخپله جانانه کا

"کوه قاف" نه پسې اوری زما فکر
پری رویه، چې مې هسې دیوانه کا

د وختونو سیلۍ هم ژاړه شیرینه!
که دې ورانه دغه نوې اشیانه کا

* * * * *

○

خدایَ دې ږکا چې بیا هغسې ماښام وي
جوړ محفل وي پۀ ګردش دَ ساقي جام وي
چنګ پۀ څنګ کښې مطربان پۀ اتنړونو
زیر اَو بم نې هَر مضراب ته لاس پۀ ټام وي
هوسۍ سترګې، لاله رُخه، عنبر بُویه
چې خواري دَ مشاطې پۀ سلام وي
مَسته خُوره، سر تر پاڅ پۀ سرُور ډوبه
چې دا هسې شوخې سترګې ګل اندام وي
لاله ګل مې پۀ څولۍ کښې تسنې وَسنې
رونړه شپه، پۀ سر دَبام "ماهِ تمام" وي
دا ساعت به جنت نۀ وي نو به څۀ وي
جام پۀ جام اَو غبږ پۀ غبږ درته ګُلفام وي
اورې کسې دې لۀ ډک لیمۀ مارۀ کا
چې تش نم وَته ئې "آبِ حیات" رام وي

بد نظر دَ بد خواهانو پرې ق چاوډلے
شامدام لۀ بنۀ مهرویو بنۀ اکرام وي

★ ★ ★ ★ ★

○

څـهٔ دا ستـا لـهٔ سیـاه خـال وَئېلے نـهٔ شم
چـې دَ شـوی زړګـی حـال وَئـېلـے نـهٔ شم
چـې دا ستـا لـهٔ "خـط اَو خـال" وَیېلے نهٔ شم
څـهٔ دَ حـال اَو استـقبـال وَیـېلے نـهٔ شم
دَ اشـنـا دَ بـې رُخـیٔ انتهـا ګـوره
چـرتـه راشی کـهٔ پـهٔ کـال وَئېلے نـهٔ شم
ستـا پـهٔ غـم کښې بې وسیٔ نـه زَما اوښکې
دا بـاران دَ پَشـکال وَئېلے نهٔ شم
څـو ورګـورم خـو بیـا هـم ېٔ لیدے نـهٔ شم
دَ جـمـال لـهٔ دیٔ جـلال وَئـېلے نـهٔ شم
نـهٔ مـې خـوب شهٔ، نهٔ مې زلفې پهٔ لاس راغلې
دا مـې فـال شـهٔ کـهٔ افعـال وَئېلے نـهٔ شم
دلتـه ورک شم، هـلتـه سترګو کښې پَیدا شم
جـادوګـرې دَ بـنـګـال وَئـېلے نـهٔ شم

ستا پهٔ خَشم پیکه نهٔ شوه زما مینه
دا شمال اَو بَل مشال وَیٔلے نهٔ شم

پهٔ ښادیٔ اَو ابادیٔ کښې دَ یارانو
هسې جوړ وی اشتمال وَیٔلے نهٔ شم

کهٔ سیالان وُو خوجوګه دَ سیالیٔ نهٔ شو
اے غربته! ستا وبال وَیٔلے نهٔ شم

تورې زلفې پهٔ سُور تیکٔ باندې راغلې
کهٔ وسواس کړهٔ، زړهٔ پامال وَیٔلے نهٔ شم

تاؤدې وینې مې خوُکړهٔ چپاوُ ونه
خو دَ مینې استقلال وَیٔلے نهٔ شم

★★★★★

○

چې لیونتوب سره اشنا نه شولې
هومره عاقل، هومره دانا نه شولې
خپلې جامې نه دې وَتَل بښه نه وُو
ما ته خو خَیر که په خندا نه شولې
تا سره مینه بې له وینې نه شي
بښه ده چې دومره خو وېریا نه شولې
ما دَ بانړو له څڅښا ډېر وژړل
ته چې دَ زړونو په درزا نه شولې
هغه څو ښکلې نښانې دَتهذیب
تا کښې څرګندې چرې بیا نه شولې
زه خو مدام له زړه مې تېر اوښمه
ته، که دَ خلې نه دې پښا نه شولې
زه به رنړا له خپل نظر زېږوم
شپه ده، اسرې مې په سبا نه شولې

شیرینه! پربېږده لَر اَو بَر غمونه
چې په سبا اَو په بېګاه نه شولې

★ ★ ★ ★ ★

نن خو دې بیا داسې بانړۀ اوده دی
لکه چې ښکلې پښتانه اوده دی
غمونه ستا مې زړه کښې وغوزېدل
لکه حجره کښې مېلمانه اوده دی
تا چې پۀ مړو سترګو کتلی ورته
هغه یاران دې اوس پاخۀ اوده دی
یاره! زمونږه زانګېدۀ مۀ کړه
ګوره چې ستا هسې کاتۀ اوده دی
" نوې زړې " به وختېږي، څۀ وژاړې
دلته هم نوی هم زاړۀ اوده دی

شیرینه! کله خو به وڵړزېږي
څو کۀ یاران دې پۀ کالۀ اوده دی

★ ★ ★ ★ ★

۹۳-۷-۱۰

○

خَیر دے کۀ تا سره اشنا نۀ شومه
لۀ خپلې لارې خو جدا نۀ شومه
څو کۀ خبرې پۀ زړۀ ډېرې لرم
تا ته پۀ خلۀ بياندې ګويا نۀ شومه
نن دې دَ سترګو پۀ دنيا کښې ګُله!
ؤرُک شومه داسې چې پَيدا نۀ شومه
دا چاپېر چل لۀ يو بنګلا پاتې شو
تۀ چې زما نۀ شوې، زۀ ستا نۀ شومه
ډېوه دَ ژوند دې زما ګُل شی ګُله!
کۀ دې پۀ سترګو کښې خَلا نۀ شومه
چې شرمېدۀ لۀ شرمه نۀ کا اختيار
لۀ داسې سترګو پۀ حيا نۀ شومه

مړاوې غوټۍ به مې ليدې شيرينه!
چې پسرلی ته پۀ خندا نۀ شومه

★ ★ ★ ★ ★

○

ستا چې څوک وي ګور "اوربل" دی
زما زړه باندې اوربل دی
په هر قدم قدم اجل دی
ستا کوڅه کوڅه مقتل دی
د غزال غوندې مې زغل دی
هره کړیکه مې غزل دی
چې منزل ته مې مزل دی
د ځان سوری زما مل دی
دا پښتو اشو مې متل دی
خپل عمل د لارې مل دی
څو ذده کړې دې چل ول دی
چل کښې ول او ول کښې چل دی

هر یو نبازې سره بیل دی
د دې وخت انداز بدل دی

★ ★ ★ ★ ★

○

لا مـړاوي ستـرګـې، مـړه ګـاتـه یـادوم
لا اوږدې زلـفـې، لـوی بـانـړه یـادوم

تـه پـه کـاکـل کښې چې ښـکـلا جـوړوې
زه پـه کـابـل کښې پښتـانـه یـادوم

راتـه راکـوره کـچـه کـېـږې ولې
هغـه لـوطـونـه دې پـاخـه یـادوم

څو دې کـاکـل تـه رسـېـدلـې نـه یـم
ځـه بـه دَ غـره دَ سـر خـاتـه یـادوم

دَ خیـسـن زړونـو سپـینـا وې چې وکـا
دَ سپـینـې خـلـې هغـه وایـه یـادوم

شیـریـنـه! خـلـه رالـه کـړه وبـولې
چې ورلـه تـلـه کـاږه واړه یـادوم

★ ★ ★ ★ ★

○

داسې مې رېږي دَ ارمان ګلونه
لکه چې وي دَ بيابان ګلونه
په انګو کښې کُتې جوړې لره
ښه دي هُم دغسې خندان ګلونه
ګُله! تر مخه دې نسبت لري نو
دا چې په ما دي بلا ګران ګلونه
دَ ژوند فضا مې ده خوشبويه پرېنه
خدايه! تازه لرې "افغان ګلونه"
څڅوّم اوښکې په رخسارو دَ يار
ښَيرازه کېږي په باران ګلونه
دغه لمن اَو دې ګريوان کښې څۀ دي
ګوري به وَلې نه حَيران ګلونه

کۀ وي دَ سمې کۀ دَغرۀ شيرينه!
ماته همه جانان جانان ګلونه

* * * * *

۹۳-۷-۲۱

زَما ژوند زَما قیصه ده
کښه نغمه ده کښه ناله ده
غوندې خال اَو تاوې زلفې
دا یو دام، بله دانه وه
کښه کړېوان دې کښه لمن ده
دا یو تار، بله رېښه ده
ګلاب ځۀ دی، یاقوت ځۀ دی
ستا دَ شونډو اندازه ده
کښه مې زړۀ، کښه مې ځیګر دې
ستا هدف، ستا نښانه ده
دَ کاکل خوبونه وېښم
درسته شپه مې شوګیره ده
ساقي مړ دې، کاسه ماته
شاړه پاړه مَیکده ده

ژوند مې ځۀ دې شیرین یاره!
خویو ژړار دې، یو توبه ده

★ ★ ★ ★ ★

○

دا وجود مې يو ذره ده
ستا نظر يو پلوشه ده
انګي دې کڼه پاسه ده
زما اوښکه دُردانه ده
دا جنون مې ستا ښائيست له
يو دليل، يو حواله ده
ستا دَياد ډيوه بلېږى
چې مې رونړه توره شپه ده
نګه سبا شو، نۀ بېګاه شو
دغه طمع، دا وعده ده
نادانى هم ترې شرمېږى
ستا خندۀ هسې رَويه ده
چې مې خون کا، نو پرسان کا
خومره ښکلې بهانه ده

ستا شيرين اشنا ئي وايى
ستا قصه څومره خوږه ده

* * * * *

○

ستا کـهٔ پـهٔ مخ څـهٔ عبـارت نشتـه دے
دَ پښتـنـو هُـم قيـادت نشتــه دے

کـهٔ دې ښـائېسـت راتـه لـمبـې لمبې شو
زمـا دَ تـېښتـې څـهٔ عـادت نشتـه دے

ځـکـه مـوځـان پورې نېولی زړونـه
دَ زړو سترګـو اشـارت نشتـه دے

زلـفـې، بـانـړهٔ دې انتشـار، انتشـار
پـهٔ لـر اَو بـر کښې دې وحدت نشتـه دے

دا مـر هـتـه خـويـونـه چـاتـه ژارم
"مـردِ ميدان" دَ پـانـې پَـت نشتـه دے

"پـېښـه" را پـېښـه دَ فـنـا اَو بـلـقـا
پـهٔ مـونـږه نور څـهٔ ملامت نشتـه دے

بـلا دې واخـلـم دَ پـرَيشـانـو زلـفـو
ئـلـې "بلا" تـه څـهٔ حاجـت نشتـه دے

دَ شيـريـنَ يـار خبـرې ډېـرې وُلـې
ستـا لـهٔ وصـال ئې بل حسـرت نشتـه دے

دَ انـــنـــګـو خبـرې خــلاصـې نـــهٔ دی
دَ سپـيـلــنـو خبــرې خـلاصـې نـــهٔ دی
لا دَ ســلـــګـَيّـــو درتــــه څــــهٔ وُوائـيـم
دَ اسـوېـلـو خبــرې خــلاصـې نـــهٔ دی
ګُـلـــه! مسکـا پـهٔ شـونډو ټـيـنګـه لـره
دَ لــېـونـو خبــرې خــلاصـې نـــهٔ دی
دَ ګُـــورې شپـــې تـــوره تيـــارهٔ دې مـــنـم
دَ غــلـچـکـو خبــرې خــلاصـې نـــهٔ دی
اوسـنـــی خـوئ تــه دې خَـيـر غـواړه ځـېـنـې
دَ پـخـوانـو خبــرې خــلاصـې نـــهٔ دی

تـيـرهٔ بـانـړهٔ ې نـېـغـېدل شـيـريـنـه!
دَ مـيـړنـو خبــرې خــلاصـې نـــهٔ دی

★★★★★

○

چې نه شپه شته، نه زلفان شته
نه زمان شته، نه مکان شته
چې نه جان شته، نه جانان شته
بیا مې څه په دا جهان شته
قافله د ژوند ورکیږي
نه جرس شته، نه ساروان شته
له خپل فکره لوګی کیږم
دومره وس څو مې په ځان شته
دې زخمي زخمي ځیګر له
کوم یو درملنه درمان شته
ستا وصال زما حاصل دے
نه مې سود شته، نه مې زیان شته
څه چې وایې، وایه وایه
نه مې وهم، نه ګمان شته
لا ضمیر زما ژوندے دے
لا تازه پکښې ایمان شته
شیرین یار د غریب مل دے
په هر حال کښې خپل یو شان شته

* * * * *

○

ښکله مَلغَلره خو کریابه ده
ستا یو رنړې اوښکې ته بې آبه ده
وُلې دومره سره لهٔ خپل عتابه ده
ښه خو مې خبر دَ عشق لهٔ تابه ده
څومره چې ځوانی دَ تا نایابه ده
هومره زما مینه بې حسابه ده
ستا او دَ سپوږمۍ تفاوت ډېر وینم
کوم ده پښتَنه چې بې نقابه ده
ستا دَ مخ مئېن به زر پرست نهٔ وی
اوره دا خبره لهٔ کتابه ده
سرهٔ اورونه، اورې دې لهٔ سترګو تل
دا دَ ژوند فضا خَسته خرابه ده

تل چې دَ زړهٔ سیمه ارمان زاره وی
دا پهٔ سَیلابی اوښکو سَیرابه ده

★ ★ ★ ★ ★

○

ځان مې په قضا باندې رضا شولو
ځکه خپل اجل ته په خندا شولو

ځان مې وليد ګوره دَ تا سترګو کښې
چرته کښې شو وړوک چرته پَيدا شولو

بَل مې دے چراغ دَ انتظار ګله!
ګُل نه په باران، نه په هوا شولو

اور مې په زړهٔ بَل دے دَ کابل په رنګ
تېل ورته "هَم راه" اَو باد "هَم خوا" شولو

ځکه خو شديد دے انتشار دَ زړهٔ
ستا په افغانی حسن شيدا شولو

تهٔ به که لا جر أت دَ قيادت کوې
راغے ستا شيرينّ په اقتدا شولو

★★★★★

## تضمین په شعر دَ حمید بابا

سره شوخي دَ تور لیمهٔ ده — کهٔ صهبا ده په پیاله کښې
دا سرهٔ لب په سپینه خلهٔ دی — کهٔ یاقوت دی په ګاله کښې
"روز او شب" لهٔ غرهوه پک دے — دَ انګور دوالاه کښې
ښاده چا لیډلی دلته — پهٔ دا ورځه سل ساله کښې
دَلیمو پهٔ سرهٔ خمار کښې — ککی توری زیب کا هسې
لکه داغ چې یو زینت وی — پهٔ میانځهٔ دَګل لاله کښې
لکه سوز چې مې موندے شی — پهٔ شیون کښې لهٔ هجرانه
څهٔ به وایمه کهٔ شته دے — دَ بلبلو پهٔ ناله کښې
دغه او ښکې دَ مئین څی — دَ رخسارو پهٔ دا لارو
یا غوږ څنګ دَ اوبو جوړ دے — یه کوم روداؤ پهٔ ناله کښې
خواری همهٔ دَ مشاطې ده — هنر خام دَ هر خیاط دے
ما دې زړهٔ خیکر خوړلے — پهٔ سرخنډه سنهباله کښې

داغزل چې ما رقم کړهٔ — څهٔ هم بیا کهٔ تضمیني دے
دریغه! تول پهٔ توله وایی — داسې واړه ابداله کښې

★ ★ ★ ★ ★

○

دَ سـرو ستـرګـو احتـرام کـا
سـاقـي تـوئ دَ مَيـو جـام کـا
ستـا دَ شـونـډو مسـکـا وايـه
لـبونتـوب مـې پـه دوام کـا
تـور کـاکـل اَو سپيـن رخسـار دي
څـوک نَيک نـام کـا، څـوک بـدنـام کـا
وخـت اَو بـخـت راتـه غـمـاز شو
يـار سـلام کـا، نـه کـلام کـا
کُـوري زلـفـې سـره نـه شـي
څـوک بـه څـه پـه دا مـابـنـام کـا
ډيـوې بـلـې وي دَاو بـنـکـو
ورځ آغـاز کـا، شپـه انجـام کـا
دغـه زده يـم "چـې دعـا کـا"
هـغـه تـه يـې "چـې دشـنـام کـا"
بـانـړه هـلـه مـې خـوبـنـېږي
تـر دا مـيَـنـخـه چـې ادغـام کـا

★ ★ ★ ★ ★

جوړه به کړمې سوې نظر کا بیا
ستا به انګې په خولو تر کا بیا
دربغه! یو نظر په لر او بر کا بیا
هغسې سپرلې په ځسمه، غر کا بیا
حسن دې وحدت وو، پائمالـه شو
څوک به دې راتول په خوږ نظر کا بیا
مینه مې د مخ او زلفو څـه ده چې
چرته په ما سوړې، چرته ثمر کا بیا
زلفې او بانړه شو انتشار، ښان
کله به سمون د لر او بر کا بیا

پټ او له الفته مالامالـه دې
ناز دې د شیرین لالی په سر کا بیا

★ ★ ★ ★ ★

○

تـــا وې: زهٔ دَ جبـــر انتهـــا کـــوم
مـــا وې: زهٔ دَ صبـــر ابتـــدا کـــوم
مـــا وې: اوس کـــره کـــره وَيـــنـــا کـــوم
تـــا وې: دا خبـــره بـــه مـــې بيـــا کـــوم
درد دې راتـــه راکـــړهٔ کـــهٔ درمـــان وايـــه!
تـــا وَنـــه پُښتـــنـــه مسيـــحـــا کـــوم
خپـــلـــو هـــمـــدردانـــو دردؤلـــې ئـــم
چـــا وَتـــه قيـــصـــه بـــه دَ کـــوم چـــا کـــوم
خـــداى دې لـــکـــه مـــا پـــهٔ زړهٔ شتـــه من کړه نو!
تـــل درتـــه اشـــنـــا دغـــه دعـــا کـــوم
چـــرتـــه پـــهٔ جـــانـــان، چـــرتـــه پـــهٔ ځـــان شمـــه
کـــلـــه چـــې خـــنـــدا، کـــلـــه ژړا کـــوم

ګـــېـــر شـــوم دَ رنـــدى اَو زاهـــدى پـــهٔ ميـــان
وائـــم چـــې اوس **دَغه** کـــهٔ بـــه دا کـــوم

★ ★ ★ ★ ★

○

ژوند مې ستا دَ زلفو تار دے

انتشار دے، انتظار دے

څوک بې دره، بې دېوار دے

څوک بې یاره، بې دِیار دے

دا وَګړے زما یار دے

چې خودار دے هُم دلدار دے

نۀ ئې دَر شته نۀ دېوار شته

ستا دَغم داسې حِصار دے

نۀ خو پت شته، نۀ الفت شته

یو غرض یو کاروبار دے

چې دَ یار دَ ځنړو ګل دے

دَ اغیار دَ سترګو خار دے

خط او خال، لب او رخسار ته

څۀ ګلشن دے، څۀ بهار دے

افغانی بنائیست ته وایه!

زما زړۀ کښې انتشار دے

عقل، فکر، ویخ ادراک نه

خوار شیرینؔ ته کوم پکار دے

★ ★ ★ ★ ★

○

چې په لب او په رخسار يم
بيا همه بهار بهار يم
لكه ستا دَ زلفو تار يم
انتشار يم، انتظار يم
وخت او بخت نه ګيله څۀ ده
خپل اجل ته خپله تيار يم
چې جامه پسې تار تار كړم
يو پټكى ته دومره خوار يم
پَيمانه ستا دَ نظر ده
كۀ مقدار يم، كۀ معيار يم
چې نيستي شي، هستي نۀ شي
پكار نۀ يم كۀ دَكار يم
مسيحا نظر دې وكړه
دَ مودو راسې بيمار يم

شيرين يار مې پخلا نۀ دے
دَ اغيارو مِنَت بار يم

★ ★ ★ ★ ★

○

دیوانه که فرزانه یم
له غربته افسانه یم
لکه ستا دَ کور او کلی
یو سکوت یم، ویرانه یم
دَ اشنا په اشنایۍ کښې
له خپل ځانه بېګانه یم
ستا قدم او تګ، رفتار ته
پښته نېولي زمانه یم
دَ هر چا څهره مې زړه کښې
زړه حجره که بُت خانه یم
نه مې در شته، نه دېوار شته
دَغمونو همخانه یم

یو آواز یم ستا دَ زړه نه
زه نغمه، که ترانه یم

★★★★★

○

دَ بانړهٔ ئي څهٔ سمون شته
دَ زلفانو څولمسون شته
دَ حالاتو به څهٔ وايي
څو دا هسې يو ګردون شته
کوته بخت راته معلوم دے
که دَ وخت څېنې بدلون شته
زړهٔ او ذهن مې تار تار دے
تور کاکلي! څهٔ افسون شته
دَ ښائيست په ذکر، فکر
زما هُم سر په زنګون شته
دَ سبا سندرې وايي
نهٔ ئې نن شته، نهٔ پرون شته
دې بَيديا او ابادۍ کښې
نهٔ لَيلا شته نهٔ مجنون شته
ستا دَ مخ سُرخي به برېښي
زما دومره جګر خون شته
ستا جمود دَ تغافُل کښې
يو غورځنګ مې دَ پاڅون شته

★★★★★

# نظم

تــهٔ زمــا یــې، تــا بــه ستــا یَم
زهٔ هُـم ستـا ئـیم تـل بــه وایَم
ستــا وصــال زمــا حــاصـل دے
کــهٔ مـړ کیــږم کــهٔ پـرې پـایَم

# دَ وطن دعا

اے دَ مېړنو وطنه! ښاد اوسې
مونږ ته پهٔ لحظه کښې یاد اوسې
تهٔ دَ ننګ ناموس دَ لېونو وَطن
تهٔ دَ توریالو اَو ننګیالو وَطن
تهٔ یې دَ غیرت اَو دَ پښتو وَطن
تهٔ یې دَ لر غونو زمانو وَطن
څنګه چې یې یاد دغسې یاد اوسې
مونږ ته پهٔ لحظه کښې یاد اوسې
ستا دغه دنګ غرونه اَو اوږدې مَیرې
لوئ لوئ دریابونه دې چپې چپې
لویې ښارېې، کلی، وَړې بانډې
ښکلې جوماتونه اَو درَنې حجرې
ډېر پرې ښائېسته یې پرې آباد اوسې
مونږ ته پهٔ لحظه کښې یاد اوسې

ستا دې په ځولۍ کښې خوشحالي اوسي
ستا دې سمه، غره کښې پسرلی اوسي
ستا دې په وقار کښې بلندي اوسي
ستا هره ذره کښې دې مستي اوسي
خدایه دې غلام مه کا تل ازاد اوسې
مونږ ته په لحظه لحظه کښې یاد اوسې
ستا په مینه مست دې ستا زلمي وي تل
دوۍ دې ننګیالي اَو توریالي وي تل
ستا دې قبیلو کښې ورورولي وي تل
ستر ګو دَ دښمن کښې دې ازغي وي تل
بیچ دَ کور نیّو لــه تضاد اوسې
مونږ ته په لحظه لحظه کښې یاد اوسې
اے دَ مېړنو وطنه! ښاد اوسې
مونږ ته په لحظه لحظه کښې یاد اوسې

(دَ طالبعلمانو یوې غونډې له وُلیکلے شو)

اے دَ پښتنو بچو! راپورته شئ

بیا سره یو ځای کړئ لر او بر افغان

تاسو ته خزې دَ ابدالی ژاړی

تاسو نه وحدت اوخپلواکی غواړی

ستا سو په ماضی خو زمانې ویاړی

اے دَ بریالو بچو راپورته شئ

بیا سره یو ځای کړئ لر او بر افغان

جوش دَ قامولئ په ځان کښې راولئ

جوړه کړئ مستی زولنې وشلوئ

اَن په سر دَ دار هم ترَنې ووهئ

اے دَ میړنو بچو راپورته شئ

بیا سره یو ځای کړئ لر او بر افغان

تاسو به تر څو غلی پراتهٔ اوسئ

تاسو به تر څو اودهٔ اودهٔ اوسئ

داسې به تر څو خوارهٔ وارهٔ اوسئ

اے دَ ننګیالو بچو راپورته شئ

بیا سره یو ځای کړئ لر او بر افغان

اے دَ پښتنو بچو! راپورته شئ

بیا سره یو ځای کړئ لر اَو بر افغان

# ته او زه

ته د سرو ګلو، شنو باغونو شوقين
زه د مېرو او د دشتونو اشنا
ته د وختونو د رنګونو شوقين
زه د حالاتو د نازونو اشنا

ستا په محل کښې جوړ آهنګ د نغمو
زما جونګړه کښې ويرونه د غم
ستا په ليمو کښې سُور خمار د نشو
زما چشمانو کښې ړندونه د نم

زه يارانه د تا کوڅې نه شم
د ژوند په لار درسره تللې نه شم

★★★★★

دَ امیر حمزه خان شنواری پهٔ ژوند هغهٔ ته دَ عقیدت دَ پېرزوینې وړاندې کولو لپاره ؤلیکلے شو

یو بـابـا دے چې پښتوُن دے
دَ پښتـو لَیـلا مـجـنوُن دے

چـې خبـرې دَ پښتـو کـا
چـې قیـصـې دَ پښتـنو کـا
چـې خبـرې دَ حـجـرو کـا
چې قیصـې دَ یو کـېـدو کـا

ښـهٔ خبـر پـهٔ نن پـرون دے
دَ پښتـو لَیـلا مـجـنون دے

کـهٔ حـرام بلـه سـودا کـا
دَ پښتـو پـهٔ غـم ژړا کـا
چې دا نـاوې پـهٔ خـندا کـا
پـهٔ دا ژونـد هـم ایـلـه دا کـا

ښـهٔ خوشحال پهٔ دا جنون دے
دَ پښتـو لَیـلا مـجـنون دے

غـم دَ خـان نـهٔ کـا دَ قـام کـا
دا دَ قـام نـه! دَ اسـلام کـا
دَ قـامـونـو انـظـمـام کـا
خـوب خـندا پهٔ خان حرام کا

چې مـدام سـر پـهٔ زنگون دے
د پښتـو لَیـلا مـجـنون دے

کـــهٔ مـئـېـن دےٓ پـهٔ ملت دے
نـــو قـــائـېـل دَ محبت دے
کـهٔ مـئـېـن پهٔ ننگ اَو پت دے
نـــو قـــائـېـل دَ شرافت دے
یـو عـنـوان بل ئ مضمون دے
دَ پښتـو لَیـلا مـجـنون دے

تَـصـوّف کـــهٔ فـلـسـفـه ده
دا ئـــې خپـلــه سـلسـلـه ده
دَ تـهـذیـب یـو عـلامــه ده
دَ فــنــونــو مــعــجــزه ده
ارسـطـو کـــهٔ افلاطـون دے
دَ پښتــو لَیــلا مــجــنون دے

ښـــهٔ ادب چې ورسـره دے
پـــهٔ ادب بـــاندې چې ذده دے
یـــو عـــالـم یو عـلامــه دے
کـــهٔ ئ پېـژنـئ حـمـزه دے
پـوهــه څـــٓهٔ چې پو هَـنتون دے
دَ پښتــو لَیــلا مــجــنون دے
یـو بــابــا دے چې پښتون دے
دَ پښتــو لَیــلا مــجــنون دے

# خپل لرغونی هیواد (لر او بر) ته

خار شمه دَ تانه ته زما پښتونستان يې
ته مې دَ نيکونو دَ غيرت اَو ننګ نښان يې

ستا په نره خاوره پښتنې مور زېږولے يم
زۀ ئې په سېزنې دَ پښتونوالي کلک تړلے يم
تورو، دَ نېزو په شغا شنګ کښې لوبېدلے يم
توره په مړانه خوله غېږې پو هېدلے يم

ستا دَ دښمنانو سره تول عمر به جنګ کوم
داسې خوزۀ نۀ يم تل په تا باندې به ننګ کوم
خدايګو که پروا دَ شاجهان يا دَ اورنګ کوم
زۀ يم سر بَکَفه، سر بازۍ وَته غورځنګ کوم

سر به لتا خار کړم ته په مالۀ سره ګران يې
ته مې دَ نيکونو دَ غيرت اَو ننګ نښان يې

دا چې خاۍ په خاۍ دې په رېګونو کښې خاپونه دي
دغه زغلولي مې دادا دَ جنګ اَسونه دي
دا چې دې په تړو اَو کَمرو کښې خړپونه دي
دا مې دَ بابا دَ تنبرۀ تورو ګذارونه دي

دلتــــه کښې ګـډ شوی دَ یونـان دَفوځ هـړونـه دی
دلتــــه کښــې مــات شوی دَ مُغـلو لښکرونــه دی
څـو کـــۀ دی راغـلی، تـنبـېـډلی یـر غلونــه دی
ستـا پـۀ نـنګ، نـامـوس بـاندې موتل اېښی سرونه دی
تـۀ مـو دَ نــرتـوب اَو مـېـړنتوب څَلند داستـان یې
تـــۀ مــو دَ نیـکــونــو دَ غیـرت اَو نـنګ نښـان یې

ستـا پـۀ دې ځمـړه زمکه به مې سرې وينې ترمکیا کړمه
زۀ بــه یـو څـل بیا هـغـه مستی ورکښې پیدا کړمــه
لـر او بـر بــه دواړه سره غېـږ پــۀ غـېږه بیا کړمـه
بیـرتــه پکښې جوړه بــه هـم هَغـسې ښکلا کړمــه
ستـــا پـــۀ جـومـاتـونـو کښـې بـه داسې اَزانونـه کړم
بیـا بـه دې یـو صف کښې دا خـوارۀ وارۀ قـامونه کړم
ستــا شـاړو حـجـرو کښې بـه زۀ داسې اَوازونـه کړم
بیــا پکښې جرګــه بــه دا تپې اَو دا خـېلونــه کړم
څـوچې زۀ ژونـدے یـم تـۀ بــه زړلې سـرګـردان یې
تــۀ مــې دَ نیـکــونـو دَ غیـرت او نـنګ نښـان یې
څــار شـمـــه دَتـــا نــه تــۀ زمـا افـغـانستـان یې
تـــۀ مــې دَ نیـکـونـو دَ غیـرت اَو نـنګ نښـان یې

## دَ یو ناویاته بنائېست پهٔ باب

لـهٔ وجوده ئې دَ ګل خُوانی لوګـے شـه
دَ چمن سروې ئې خُار شه تر قامته
خَلانْد مخ نه ئې سپوږمَۍ هم حیا کاندی
ګُورو زلفو ته ئې شپه ده ملامته
مَستې سترګې، تکې سرې لهٔ نَشو ډکې
دَ کابل زرکې ورګوری لهٔ حسرته
دا خوَږې خوَږې خبرې ئې شکرې
شی بلبله ورته ګونګه لهٔ حَیرته

کهٔ یاری ئې ملنګی ده زهٔ ئې اَخلم
ماته بنه ده دَ جهان دَ بادشاهته

★ ★ ★ ★ ★

# دَ وطن پهٔ حال

دا دَ جنت، جنت وطَن کلے پهٔ څهٔ ؤرانیږی
زما دَ ګُل جانان چمَن کلے پهٔ څهٔ ؤرانیږی
پهٔ ننداړو چې سرزمین ئې کړهٔ ویاړونه مدام
دَ سر فَلکو دَلمَن کلے پهٔ څهٔ ورانیږی
پهٔ سربازئ کښې ئې ناویاته داستانونه رقم
دَ سربَکفو دا مسکَن کلے پهٔ څهٔ ورانیږی
دَ آهو چشمو، پَری رویو، عنبربویو مَسکَن
پهٔ ښائیستونو دا شته مَن کلے پهٔ څهٔ ورانیږی
دَ مَلغلرو، جواهرو، خزانه بې بَها
دَ سیم اَو زر دغه زَیَمن کلے پهٔ څهٔ ورانیږی

زما دَ حال نه مې ماضی داسې پوښتنه کوی
دَ "شاه دوران" "مردِ آهَن" کلے پهٔ څهٔ ورانیږی

# دَ کابل (افغانستان) په نوم

اے کابله! دا په کومه بلا وُسوې
چې سره دَ خپل حُرمت اَو حیا وُسوې
سر تر پایه دې وجود ایره دے
لکه ته چې دَ اسمان په برېښنا وُسوې
لوئ خَیبر اَو ستر بولان دې نندارہ کړه
نه چې ته چرته کوم پټ اَو پنا وُسوې
غرکه لوئ وی نو په سر یې باندې لار وی
تنگ نظری وه، که مستی وه چې دا وُسوې
هَم راهانو درته واچوِل اور ونه
په هوَس کښې دَ قدرت اَو دنیا وُسوې
هَم خواهان دی هُم لَمُني وهی اور ته
نه پوهېږم په کوم تور اوٓ خطا وُسوې
ستا کمال اوٓ استقلال لمبه، لوگے شوهٔ
له جماله تر جلاله صفا وُسوې
خنکه اور وو، څهٔ ئې تاو وو، څهٔ ئې تپ وو
چې جُملې دَ هرې غوښتې دعا وُسوې
داسې اور دې دَ دښمنو په کاله شه
خنګ چې ته په بې دردئ اَو جفا وُسوې

★★★★★

# یادونې

چې "سرخنرې" لره څه سامان دې وکا
ډېر د خیال د مشاطې نه اهتمام دے

# ★افغان ګلونه کښې تضمينونه

افغان ګلونه کښې تول درې تضمينونه وړاندې کړے شوی دی

(۱)　　وړومبے تضمين پۀ شعر دَ خوشحال بابا دے

شعر دے　　دَ بهار دَ سرو ګلو صفت څو کړم
وَلې بې ياره هر ګل دَ زهرو جام دے

ما داسې وَوې

څو کۀ يار مې پرى رويه ګل اندام دے
وَلې بې مينې ښائېست دَ زهرو جام دے

دَ تضمين ليکلو خيال اَو ضرورت

زمونږ يو ډېر دروند خوږ وررور پۀ دغه زمکه تضمين ليکلے وو، زما تنده پرې ماته نۀ شوه نو ځکه خپله پرې باندې ليکلو ته وَلمسېدم خو دلته دې دا خبره ياده وى چې پاتې نور شعرونه مې نۀ دى لوستى چې څومره اَو څنګه دى.

(۲)　　دوَيم تضمين پۀ شعر دَ حمزه بابا دے

شعر دے　　وروځې، ليمۀ، زلفې بانړۀ ښتانۀ
ځنګه يو ځاى شو ښتانۀ ښتانۀ

ما داسې وَوې چې　　پورته زلفان ، ښکته بانړۀ ښتانۀ
خو څوک دَ سمې، څوک دَ غرۀ ښتانۀ

دَ تضمين ليکلو خيال اَو ضرورت

دَ دغه شعر پۀ زمکه نور هم ځاى وو نو ځکه مې قلم پورته کړۀ، دغه تضمين شل کرې دے چې مطلع دَ دې نه زياتى دہ، دغه نه زياتى مې قافيه، مصرعه (جمله ساخت) اَو تغزل باندې دَ خپل وخت پورہ وَس کړے دے. څو قافيې ورکښې داسې هم شته چې دَ واحد حالت کښې بدلېږى. دَ ضرورت اَو مناسبت لۀ مخه مې هم دغسې پرېښوې نور راته دا پته نشته چې دَ باباې غزل دَ زمکې څۀ قدرې حق به مې ادا کړے وى او کۀ نه؟

(۳) دریَم تضمین پهٔ شعر دَ حمید بابا دے

شعر دے

خط پهٔ مخ دَ صنم راغے، کهٔ سپوږمۍ شوه پهٔ هاله کښې
دا ئې غابښ پهٔ خلهٔ کښې زَیب کا، کهٔ ژاله شوه په لاله کښې

ما داسې ؤوې

سره شوخی دَ تور لیمهٔ ده، کهٔ صُهبا ده پهٔ پیاله کښې
دا سرهٔ لب پهٔ سپینه خلهٔ دی، کهٔ یاقوت دی پهٔ ګاله کښې

دَ تضمین لیلکو خیال اَو ضرورت:

دَ حمید بابا غزل ډېر خوندناک خو پهٔ ډېره ګرانه زمکه دے خو زمونږ یو بل ډېر دروند خوږ ورور پهٔ دغه زمکه تضمین ؤلیکلو چې دَ قافیې سره سره د خو نورو ډېرو خبرو نه زیاتی یو کړه په اساس دَ تشبیهٔ بیخی غلطه ده. دَ تشبیهٔ ارکان اَو دَ هغې پهٔ راوړلو کښې غلطی شوې ده، تشبیهٔ دَ پاره دا هم لازمی ده چې هغه دې اسانه اَو فطری وی. ما هغه شعر پهٔ لحاظ دَ تشبیهٔ دَ ارکانو درست کړهٔ اَو تشبیهٔ مې هم فطرت طرفته نزدې کړه.

هغه شعر داسې شو

دَ لیمو پهٔ سرهٔ خمار کښې ککۍ: تورې زَیب کا هسې
لکه داغ چې یو زینت وی پهٔ میانځه دَ ګل لاله کښې

تشریح: ذکر دَ تورې ککۍ دے. چرته موجودېږی؟ سُور خمار کښې. تور داغ سره تشبیهٔ شوه. تور داغ چرته دے؟ دَ لاله سُور ګل کښې! او هغه هم قدرتی ډول، فطری ډول زمونږ پهٔ پلو پټو کښې، هر کوم خوا. هم دغسې نور شعر ونه مې ؤلیکل اَو غزل پوره شو خو دلته هم زهٔ دا خبره ؤکړم چې زما نه هم دغسې کېدے شوه، اوس کهٔ زما پهٔ تشبیهٔ کښې هم څهٔ کمے لیدے شی نو دا شعر داسې هم لیکل کېدے شی.

دَ لیمهٔ پهٔ دا خمار کښې، ککۍ هسې رنګله زَیب کا
لکه داغ چې یو زینت وی پهٔ میانځهٔ دَ ګل لاله کښې

اَو يا دا

دَ ليمۀ پۀ دا خمار کښې، ککَۍ هسې رنګله زَيب کا
لکه تور داغ چې زينت وی پۀ ميانځۀ دَ سور لاله کښې

خو وُلې بيا هم زۀ پۀ غزل کښې هم هغه اول شعر ورکوم. کوم چې ماته مناسب ښکاری، زياتی باريک به پرې پو هان پو هېږی، ما خپل احساس څرګند کړۀ.

درست ته درست اَو غلط ته غلط ويل پکار دی مدام له زده کړه پکار ده اَو د ښۀ ليکلو خواری پکار ده، دَ حميد بابا دغه زمکه ډېره ګرانه زمکه ده، زۀ پۀ خپل وَس اَو خوارَی پرېږم خو وُلې بيا هم کۀ چرې دَ حميد بابا دَ زمکې پوره حق رانۀ وی ادا شوے نو دَ حميد بابا دَ روح نه بخښنه غواړم، ورسره ور سره دَ خوشحال بابا اَو حمزه بابا دَ روحونو نه هم بخښنه غواړم دا واړه ډېرې غټې او درنې *نامې* دی اَو دَ پښتو دَ ادب ځلانده ستوری دی.

# ★دَ پښتو شعر اَو بحر، وزن

دَ پښتو شعر کښې ځېنې ځايونو کښې وزن دَ بحر تابع نۀ دے اَو کۀ چرې مونږ دَغه نۀ منو نو بيا به دَ مقدمينو اَو متاخرينو ډېر ځېنې کلام غورځُو.

## اول خبره بحر جدا اَو وزن يَو

دَ اووه چپو شعر اَو دَ يوَلس چپو شعر کښې ځېنې ځای وزن اَو بحر سره سمے نۀ څَرى. ما خپل ځان دَ دغه نه لمَن ژغوږلې ده خو وُلې دا وايم چې کۀ چرې يوه مصره دَ اووۀ اَو بله دَ اَتۀ سيلابونو وی نو هم ئې وزن صحيح وی. پته ئې نۀ لګی، پته صرف د شمېر نه لګی ځکه چې چپې کمې اَو زياتې وی اَو وزن برابر وی.نو ځکه ما دا وُوې چې پښتو کښې وزن ځېنې ځای کښې دَ بحر تابع نۀ دے. کۀ هر څو هم مونږ دَ وزن دا طريقه ټاکلې ده چې کۀ چرې چپې برابر وی نو وزن به هم يو وی خو دا خبره غلطه ده.

دا لاندې څو شعرونه او پاى کښې يوه جمله ورکوم هيله ده چې لوستونکي به پوره پوه شي.

دَ رحمان بابا څو شعرونه

اووهٔ سيلابه

| | |
|---|---|
| کـهٔ قـاصـد ئې دَ مـقـصـود | آواره کـړه زيـان او سُـود |
| هـر چې درشـي ستا پهٔ مخکښې | واړه ؤګـنـړه بهبـود |
| دَ غـفـلـت لـهٔ خـوبـه پـاسـه | څـو بـه اوسې خـواب آلـود |

| | |
|---|---|
| پـهٔ نـظـر دَبې بـصـر | لـکـه شـام هسې سحـر |
| پـهٔ نـظـر ئې مـعـلـومېږي | هـمـه واړه بـرابـر |

يوُلس سيلابه

طـمـع مـهٔ کړه پـهٔ دنيا کښې دَ نشاط

بيـا بـه نـهٔ مومې نشاط پـهٔ دا بساط

لکـه راغـلـې بيا به هسې ځـنې درومې

دا جـهـان دے دَ رهـرويو يو رباط

## دوَيمه خبره ـ بحر يو اَو وَزن جدا

او س يـو جـمـلـه دوه ډولـه پهٔ بيَل بيَل انداز ليکم، چې ئې هم هغه اتهٔ دى خو وزن ئې بدل شي

| | | |
|---|---|---|
| اول ډول | تهٔ چې راغلې ـ | زهٔ به لاړ شم |
| دوَيم ډول | چې راغلې ته ـ | لاړ به شم زهٔ |

اَو هـم دغسې نـور ډول ـ دَ دغه جملې دَ وزن بدلېدو نه دا ثابته شوه چې څېړنې خاى کښې دَ يو هومره شمېر سَيلابونو شعر هم دَ بل کوم شعر نه پهٔ وزن کښې بيَل کـېـد ے شـي ـ مـطلب دا چې يو شعر دَ بل سره دَ سَيلابونو پهٔ شمېر برابر کـېـد ے شي خـو لازم نـهٔ ده چې پهٔ وزن کښې دې هم ورسره يو وى ـ دَ پورته

دوارو مثالونو نه مونږ ته دا پته ولګېده چې څېړنې ځای سَیلابونه شمېر کښې زیات او کم وی خو وزن برابر وي او څېړنې ځای سَیلابونه برابر وی خو وزن بدل وی نو څکه مې دا خبره وکړه چې زمونږ پښتو کښې دَ شعر وزن دَ بَحر تابع نۀ دے۔ دغه هر څۀ ته پام پکار دے۔

## ★دَ املا پهٔ حقله

### د پښتو توری (حرفونه) (Alphabets)

ا ب پ ت ټ ث ج ځ چ څ ح خ د ډ ذ ر ړ ز ژ ږ س ش ښ ص ض ط

ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ه ھ ء ي (ى) ې ے [ئ] [ئ]

(۴۶=۲+۴۴)

### دَ پښتو خاص توری

(۱) څ = (څیم - سیم) (۲) ځ = (ځیم - زیم)

(۳) ږ = (ږې - ګې) (۴) ښ = (ښین - خین)

(۵) = (ڼړ) (دَ "نون" اَو "ړې" برغیز اواز نو څکه ورته خاص تورے ؤوايُو)

### علامتونه

(۱) زبر ــَــ (۲) زیر ــِــ (۳) پېښ ــُــ

(۴) وړوکے همزه (زوَرَکے) ــٔــ (۵) اروَلے پېښ ــٗــ (۶) غړوندے (جزم) ــ۸ــ

علامت "غړوَندے" دَ سکون یا سکوت علامت دے

باقی وارہ حرکې دی

### دَ علت توری (حرفی حرکې)(Vowels)

ا-و-ي-ې-ے

هغه توری چې دَ صحیح توری پهٔ حیثیت هم دی

او دَ علت یعنې حرکې پهٔ حیثیت هم دی

ا-و-ي

## هغه توری چې محض د علت (حرکې) دی

ې- ے

دې نه زیاتی تورے " ہ " هم محض دَ علت تورے (حرکه) بللے شو۔ دغسې به دا توری درې شی (کۀ چرې اول دَ علت په حیثیت ئې ؤمنو)

## هغه توری چې دَ پښتو خپلو لفظونو (مفرد) کښې نۀ شی پکار راوَستلے

## ث۔ ح۔ ذ۔ ص۔ ض۔ ط۔ ظ۔ ع۔ ف۔ ق۔

## دَ علت توری اَو دَ هغې حرکت

| | |
|---|---|
| ا | A.AA.U. |
| و | O.W.V. |
| ې | E. |
| ي | EE. |
| ے | AY.EY. |

## علامتی حرکې

| | | |
|---|---|---|
| زبر. | ـَـ | A-Uنیم الف |
| زېر. | ـِـ | Eنیمه یٰایٰ یا سپکه یٰایٰ |
| پېش. | ـُـ | U-O نیم وٰاوٰ |
| اړولے پېش | ـٗـ | OO-WO یو وٰاوٰ اَو یو پېښ طاقت |
| وروکے همزه | ءـ | (خٰینې خٰای -E) دَ زبر اَو پېښ تر دا مېَنځه حرکت (دَ علامتی حرکې هومره ساه یا حرکت) |

# علتی توری (حرفی حرکی) او د هغې مسئلې

پښتو املا کښې دَ "یای" تورو یو پوره کندک جوړ کړے شوے دے۔ چې اوس دَ دې دَ پوهېدٔ نې لپاره به هم P-H-D کول غواړی۔ هره ژبه کښې توری دَ بیلا بیلو اوازونو لپاره تاکلے شی نهٔ چې دَ مذکر ، مؤنث یا دَ گرائمر، دَ بل کوم بنیاد پهٔ حیث بله دا چې هر چرته قاعدې او اصول ته کتل پکار دی، دَ ژبې دَ مزاج او ساخت تو له پلټنه پکار وی او بیا وروستو لاری اختیارول پکار وی خو چرته هم چې تضاد را نه شی کښې نو بیا ورله لار راوېستل پکار دی۔
دَ پښتو متل دے چې : غر که لوی دے خو پهٔ سر یې لار ده
څنگه چې ما دَ "یای" توری پهٔ دوه مختلف حیثیتونو ؤوېشل نو کهٔ چرې پهٔ هم دغه اوصول او قاعده مونږ مخکښې لاړ شو نو چرته به هم مونږ ته مشکل پېښ نهٔ شی۔
اوس زهٔ پهٔ دغه حقله لږ تفصیل وړاندې کوم۔ غور ورته پکار دے
یوه لکۍ داره "یاي" یعنې تانیثی "یای" (ۍ) ده
بله پرته "یایہ" (ے) ده
دغه دواړه توری دَ لفظ آخر کښې خو مسئله نهٔ جوړوی خو دَ لفظ پهٔ میان کښې پهٔ راتلو مسئله جوړوی۔ بله دا چې دَ دغه دواړو تورو آواز یا لهجه تر یو بله ډېره نزدې ده او تقریباً دا هغه آواز یا لهجه ده کوم چرته چې د غټې "یای" نه وړاندې صحیح تورے او پرې دَ زَبَر حرکت راشی۔ (خو دَ مؤنث اسمونو (جَمع) پهٔ فعلیه فقره کښې راتلو باندې یا مخاطب کولو باندې (جمع) دغه غټه "یاي" (ي) (ۍ) برغه شی او هغه پراته "یای" (ے) (مذکر جمع اسمونه) پهٔ بله کومه حرکه (حرفی) بدله شی۔ هغه تورے چې مونږ ې محض علتی تورے بولو هغه خو پهٔ بل کوم علتی توری بَدلېدے شی خو ؤلې صحیح تورے (Consonant) لهٔ مینځه نهٔ شی الوتلے۔ هم دغه څهٔ ته کتل پکار دی۔

| | |
|---|---|
| دا څو مثالونه | فعل کښې (ذکر کښې) (Inverb) |
| پتے (پتی) | پتو کښې، پتو ته۔ |

| | | |
|---|---|---|
| پټۍ | (پټَۍ) | پټیَو کښی، پټیّو ته. |
| سړے | (سړی) | سړو، سړو ته. |
| څړی | (څړَی) | څړیَو، څړیّو ته. |

دا خبره دې هم یاده وی چې د غـتې یای (ي) نه وړاندې د الف (ا) حـرکـت اَو یـا د زَبَر حرکت راشي اَو یاي ساکنه وی نو دَ دې یای (ی) اواز اَو زور لږ تهم شي یعنې فتحه طرفته مائل شي نو ښکه دا پرته یای (ے) هم هسې اضافـی ده، دغـه کار دَ غتې یای (ی) نه بنهٔ پهٔ اسانه آخستلے شو. مونږ دغه دَ یای تـوری دومره ډیـر رائج خـو کـړل خـو ژلـې مسـئلـې مو ورله لهٔ پامه وُغـورځـولـې. مـا خپل ځان دا وخت (دَ سات دَ هندسې غوندې) علامت. ے. دَ پرتـې یای لپاره اَو دَ اړولی غړوندی علامت. ۷. دَلکی دارې یای لپاره ټاکلی دی، هغه صورت کښې چې دغه آواز د لفظ په میان کښې مقصود وی اوٚ یا داچې د وړاندې توری باندې زَبَر وُلګولے شي (پرتې یای لپاره) خو دغه دوَیم صورت دَ عـربـَیٚ دَ قـاعدې سره سمون ښَری. ښکه چې هلته ورستی توری هم متحرک وی. اوٚ مـونږ ښخه ژبه کښې وروستی توری ساکن وی، بل هلته دا په حیثیت دَ صحیح تـوری وی اَو مونږ ښخه پهٔ حیثیت د علتی توری. د لکیٚ دارې یای لپاره دَلفظ پهٔ میان کښې دَ عربیٚ علامت شد هم لګولے شو.

دا څو مثالونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| | پټۍ، | پټیٚو یا | پټیَو |
| | څړی، | څړیٚو یا | څړیَو |
| خیبر | خیٚبر | یا | خَیبر |
| خیر | خیٚر | یا | خَیر |
| چیل | چیٚل | یا | چَیل |

مـونـږ ښخه دَ دې مسئلې دَ حل لپاره دوه علامتونه راغلهٔ ترڅ غړوندے (ے) اَو اړولے غـړونـدے (۷) لهٔ دغه نه زیاتی چرته چې دغتې یای تورے آخر کښې

راشي او وړاندې ترې دَ زَبَر حرکت وي نو هم هلته واړه دغه يو دول اواز زېږي کوم لپاره چې مونږ تانيثي ياى تاکلې ده.

لکه لکَۍ وَخرَۍ راشَۍ خرَۍ

جرَۍ والَۍ پيالَۍ ورکرَۍ وَکرَۍ وغيره

خو بيا هم "افغان ګلونه" کښې په دغه دواړه دوله باندې دواړه رنګله علامتونه ورکړے شوی دی چې لوستونکو ته اَساني وی اَو چې دغه "ياې" (ې) بيا دَ لفظونو ميان کښې راشي نو د علامت شدِ ـ اَو يا اروَلي غړوندی ٧ نه کار آخستے شوے دے. بل خوا چې د پرتې "ياى" (ے) توری اواز دَ لفظ په ميان کښې مقصود وی نو بيا دَ وړاندې توری باندې زبر لګولے شوے دے اَو يا علامت ترخ غړوندي نه کار آخستے شوے دے. خو دلته دا خبره دی هم ياده وي چې دغه خَای کښې کۀ چرې تورے "ياى" (ي) مونږ په طور د صحيح توری آخلو نو بيا ترې وړنداې دَ زَبَر حرکت صحيح دے خو وَلې کۀ مونږ ي په طور دَ علت دَ توری آخلو نو بيا دلته دَ سپکې "ياى" (ۍ) تورے صحيح راخي خو علامت پرې پکار دے يعني دَ ترخ غړوندے علامت ٓے.

هم دغسې دَ غتې "ياې" (ي) او دَ سپکې "ياى" (ۍ) تورو دَ پکار راڅستنې لړ کښې دَ صحيح (Consonant)او علت (Wovel) حيثيت ته هم کتل پکار دی. دَ حرکت او اواز سره سره دا هم اهم ده دغه رنګ به مونږ ته دَ کوم لفظ يا اسم په ليکلو کښې دَ يوې "ياى" درست استعمال آسان وی.

لکه دا څو مثالونه:

(غټه "ياى" (ي) دَ لفظ ميان او آخر کښې) خيال. سيال. وايه. خَيونه. تونَيول اَو خَاى. توى. پاى.

(څکه دلته دا په طور دَ صحيح توری ده او دلته هم دغه مطلوب وه)

پير. جاګير. وزير. اسير. نيل. اودى، وى، پتي، خالي.

(څکه چې دلته دغه آواز کښې حرکت مطلوب دے او دلته په طور دَ علت ده)

(پاتې سپکه "ياى" دَ لفظ ميان يا آخر کښې دَ دغه انداز دَ حرکت لپاره ده محض علت دے)

لکه وايېل. سېر. دېر. هېر. مَيخانې. وېالې. او داسې نور.

# دَ علامتي حرکو مسئلې

وړوکے همزه " ء "

دا دَ زَبَر اوّ پېښ تر دا مینځه حرکت دے۔ دَ شکل حواله سره دا هلته مسئله جوړوی چرته چې دَ توری خَیم (خ) دَ پاسه لفظ کښې راشی۔

لکه خم وینځل وغیره لفظونه

کۀ چرې مونږ همزه پرې ؤلګوو خمٔ، وینځلٔ نو دوه دوه علامتونه شو۔ اوّ کۀ چرې همزه نۀ لګوو نو بیا دَ " ح " تر دا مینځه ابهام پَیدا کېږی۔ لکه

خم وینځل (ھُم ، وینھُل)

دَ دېٚ لپاره پۀ دغه دواړه ډوله کردار همزه کښې بهلتون پکار دے۔ دَ دېٚ نه وروستو دغه همزه علامت پۀ طور دَ حرکت هم مسئله جوړه کړې ده دغه حرکت دَ نورو ژبو اکثر لفظونو، اسمونو کښې دَ زَبَر اوّ چرته دَ پېښ پۀ ځایٔ زمونږ لهجې اختیار کړے دے خو شاعرانو ته بیا پۀ قافیه کښې مسئله جوړه شی چرته چې دَ قافیې "روی" دَ حرف پۀ ځایٔ دَ علامت صورت کښې وی۔ زمونږ دَ اکثرو قافیو "روی" دَ حرف پۀ ځایٔ دَ علامتی حرکو وی اوّ دا درست هم ده یعنې "روی" خو حرکت وی چرته دَ حرفی حرکې پۀ حَیث اوّ چرته دَ علامتی حرکې پۀ حَیث۔ فرق صرف دا دے چې چرته کومه قافیه پۀ کوم "روی" ؤتړلے شی نو بیا به تولې قافیې هم هغسې تړلے شی، کۀ حرفی وی نو تولې به حرفی وی اوّ کۀ علامتی وی نه تولې به علامتی وی خو دَ یو ډول حرکت لازمی شرط دے۔

اوس مونږ سپک همزه ٔ ځانله حرکت تاکلے دے اوّ زمونږ لهجه کښې شته هم نو دغه جرکت ښېنې وخت مسئله جوړوی خو دَ لفظ پۀ آخر کښې مسئله نۀ جوړوی اوّ زمونږ ډېرې قافیې هم پۀ دغه حرکت تړلې شوې دی خو دَ لفظ پۀ میان کښې دَ فارسۍ دَ لفظونو اَو حرکتونو یعنې زَبَر او پېښ پۀ ځایٔ مسئله جوړوی۔ دَ پښتو خپلو لفظونو کښې خبره مبهمه نۀ ده یواځې هغه لفظونو کښې

چې دَ نورو ژبو نه مو آخستې دي اوْ مونږ دغه حرکت باندې اموخته شوي يُو نو هلته مسئله ده

لکه بُلبُل بُلبُل سُنبُل سُنبُل

چَمن چمْن مسکَن مسکْن وغيره وغيره

د دې سره سره يو بله مسئله د دغه نخښې (علامت) پښتو املا کښې د ډېرو زياتو کردارونو ده يو اړخ ته دَ ډېرو ياي تورو (ې، ي، ى، ئ) لهٔ املا چې ورسره بيا س، ش، ښ، ص، ض، ق، ن، ڼ هم يو خاي شي دَ پښتو ليک ې واړه غونډ پونډ کړے دے او بل اړخ ته دَ همزه (علامت) دَ دومره ډېرو کردارونو لهٔ املهٔ پهٔ املا کښې تش دَ همزه علامت پهٔ نظر راځي. دَ دې مخ نبوے پکار دے لکه دَ همزه ء کردارونه

(۱) حرکت ـــ (دَ زبر او پېش تر دا مينځه) لکه وهْل ـ کتْل. وايهٔ

(۲) شد، برغون ـــ دَ يو تورى برغوْل (اول ساکن دوَيم متحرک) لکه تصوْر ـ سَئو

(۳) سکوت ـــ (غړوندي پهٔ ځاى) لکه اوْ ـ هاوْ ـ ځاى

(۴) دَ علت تورى خپل هيئت کښې حرکت ـ (دَ علت پهٔ تورو لګولو باندې هغه پهٔ خپل هيئت کښې متحرک کول) لکه ئ، ئے ، ؤ ، أ، ئ.

(۵) دَ تورى ځيم لپاره دَ نخښې پهٔ طور. " ځ "

(۶) دَ تورى پهٔ حَيث ء

يوې نخښې لهٔ دومره ډېر کردارونه ورکوْل ښه خبره نهٔ ده "افغان ګلونه" کښې دَغه علامت (۱) د همزه تورى پهٔ حَيث (۲) دَ حرکت يا علامتي حرکې پهٔ حَيث (دَ زبر او پېش تر دا مينځه حرکت) او (۳) دَ علت تورو خپل هيئت کښې حرکت لپاره پکار راوستے شوے دے. لهٔ دغه نورو کردارونو ورکوْلو نه ځنګ شوے دے او يا ې دَ بل کوم متبادل نه کار آخستے شوے دے ځکه چې دَ دغه کردارونو لپاره دَ وړاندې نه نخښې شته، پکار دي چې مونږ ې رائج کړو. دَ تورى ځيم لپاره که دغه همزه نښه لکه اوږده کړو او يا دغه يو بله رائج کړو ځ، نو هم دغه يو مسئله ختمېدے شي. دَ دې نه سېوا بله زهٔ داخبره پهٔ ګوته

کړم چې دَ تولو نه زیات عَیب یا تضاد هغه دے چرته چې مونږ دغه یو علامت هم دَ حرکت لپاره پکار راولو اَو هم دَ سکوت لپاره، دغه څۀ نه بېخي خان ساتل غواړي. "افغان کلونه" کښې کۀ چرته هم پۀ کوم توری علامت همزه راغلے دے نو هغه به ارومرو متحرک وی۔ ساکن چرې هم نۀ دے، دَ سکوت لپاره دَ غږوندی نه کار آخستے شوے دے۔

## دَ اړولي پېش مسئله: ۽

مونږ خخه پښتو لهجه کښې مونږ دغه علامتی حرکت خو پکار راؤلو چې ضرورت ئې راشي خو املا کښې ئې نۀ لیکو اَو چرته لیکو ئې هم خو منلو ته ئې تیار نۀ یُو۔ پکار دی چې دغه حرکت مونږ وُتاکو کښې نو بیا دَ دغه څۀ متبادل راؤبنکو دغه علامت دَ یو واو توری اَو پرې باندې دَ یو پېښ هومره زور یا دَ ساه حیثیَت لری۔ لکه اسم داوُد، (داوُود) دغسې دغه علامتی حرکت زمونږ نور ډېر خایه پکار راتلے شي۔

## دَ بر غیز اوازونو توری او مسئله:

پښتو املا کښې دَ "ن" اَو "ړ" دَ برغ اواز لپاره یو تورے نور "ڼ" وُتاکلے شو۔ چې څۀ خاص ضرورت ئې نۀ وو خو کۀ چرې خېڼې پښتانۀ دغه برغ اواز کومو لفظونو کښې چرته پۀ "ن" اَو چرته پۀ "نړ" اداکوی نو پۀ طور دَ خاص توری دا جائز دے کېڼې نو بیا ئې څۀ ضرورت نشته۔ زما پۀ خیال دَ خاص توری حَیثیَت ئې درست راتلے شي۔

بل یو اواز زمونږ لهجه کښې دَ فارسۍ دَ نون غُنه "ں" رادننه شوے دے۔ او س دَ خلاصی بیلا لار دَ دې نه سهوا نِشته چې دَ دغه څۀ لپاره هم یو تورے وُتاکُو او یا دَ نړ "ڼ" غوندې یو برغیز اواز والا تورے یا برغ تورے وُتاکُو۔

کله چې نون (ن) تورے دَ (هـ) یا (ه) توری نه وړاندی راشي اَو یا دَ یای (ي) توری نه وړاندې راشي، ساکن وی او دَ توری (ه) یا (ي) سره مخلوط شي نو دغه دَ نون غُنه آواز زېږي۔ دغه دواړو تورو کښې یو سره نون تورے تړل پکار دی نو مسئله به ختمه شي، زما پۀ خیال دَ (ه) تورے مناسب دے۔ یا دَ څۀ ضرورت لۀ مخه هر علت سره لګؤل۔

# پښتو ژبه کښې دَ خپلې داخلی لهجې سره سم دَ حرکتونو (حرفی علتونو کښې) دَ اوږدوالی اؤ لنډوالی اؤ یا دَ چتکتیا اوَ سُستیا مسئله

پښتو ژبه کښې ځښې ځای دَ حرکتونو (حرفی علتونو کښې) پۀ ساه اؤ وزن کښې فرق دے چې مونږ ئې لیکو یو شان اؤ وایُو ئې بل بل شان. هسې خو مونږ ډېر حرکتونه لنډ کړی هم دی. دا مسئله دَ شعرونو پۀ وزن کښې اؤ دَ جملې پۀ اداکولو کښې مشکل راپېښوی. کۀ څۀ هم مونږ دخپلې یادې پۀ زور اؤ دخپلې لهجې پۀ مدد صحیح ادا کوُو خو آخر تضاد دې وُلې وی ؟ اؤ هغه لوستونکے چې پښتون نۀ وی اوَ دَ پښتنو دَ لهجې نه نابلده وی هغه به دَ پښتو جمله دَ پښتو پۀ رنګ اؤ شعر پۀ خپل وزن کښې یا پۀ روانئ سره څنګه وائی ؟ دَ پښتو خپل توری نۀ دی معلوم اؤ مونږ دَ عربئ ژبې نه پور کړی دی، کېدے شی چې دا مسئله څکه وی خو عربئ کښې هم دغسې دَ حرکتونو دَ اوږودوُلو اؤ لنډولو لپاره ځښې ځای دَ ځښې علامتونو نه کار آخستلے شی. نو مونږ هم داسې کوُلے شو اؤ یا بیا دا چې دَ علتی تورو "ا، و، ي" اؤ دَ زبر، زېر اوَ پېښ تر دا مینځه حرکتونه حرفی یا علامتی وُتاکُو. دلته لاندې څو مثالونه وړاندې کُوم هیله ده چې لوستونکی پرې وُرسی. دا وخت مونږ دَ علامت مد ـــ نه کار آخستے شو چې دا پۀ هر کوم علتی توری راغے نو دَهغۀ به لړ اوږود حرکت ګڼلے شی کښې نو بیا به حرکتونه پۀ حرفی اؤ علامتی بنیاد بیلوُل غواړی.

<u>الف، زَبَر اوَ هې:</u>

دانه اوَ وُدانه۔ جامه (لباس) اؤ ځامه (جبړه)۔ ژاله (واوره) اؤ جاله(کهونسله)

اول حل:

دانّه ، وُدانه ـــ جامّه ، ځامه ـــ ژالّه ، جّاله

دوَیم حل:

دانه ، وُدانَ ـــ جامه، ځامَ ـــ ژاله ، جالَ

واو اَو پېښ:

جامو ، ځامو ـــــ ژالو ، جالو

اول حل:

جامو ، ځامو ـــــ ژالو ، جالو

دوَیم حل:

جامو ، ځام ـــــ ژالو ، جالُ

یای اَو زبر:

جامې ، ځامې ـــــ ژالې ، جالې

اول حل:

جامې، ځامې ـــــ ژالې، جالې

دوَیم حل:

جامې ، ځام ـــــ ژالې ، جالِ

## دا لاندې څو لفظونه اَو بېلا بېل وزنونه

زمانې، مېخانې اَو حَیرانې ، وُدانې

وَلې ، تېې اَو وولې ، اوبنکې

کُوزې ، دوچې اَو اوچې، پُوچې، څهٔشوې، وُشوې

نو خکه وائِم چې بېلکوټ ې پکار دے

## دَ پښتو خاص توری او مسئله

دَ پښتو هغه توری چې خاص توری ورته وائی پهٔ خُبنې لفظونو، اسمونو کښې دَ خُبنې اوازونو پهٔ بابله دَ اختلاف لهٔ امله ټاکلی شوی دی چې دَ هرې لهجې پښتانهٔ ې پهٔ خپل خپل اواز کښې ادا کوی خو لیکی ې مشترک یعنې دَ اختلاف دَلرې کولو دَپاره مقرر دی

څ (څیم) "ث" او "چ" لپاره

ځ (ځیم) "ز" او "ج" لپاره

ښ (ښين) "خ" او "ش" لپاره

ږ (ږې) "ژ" او "گ" لپاره

زما پهٔ خيال تر يو وخته دا ډېره ښه لاره ؤبنکلے شوې وه.خو اوس ضرورت دَ دې خبرې دے چې مونږ دَ تولو قبيلو خوره وره پښتو راټوله کړو، يوه ژبه اَو يوه لهجه ئې کړو. پښتانهٔ ټول څه دومره ډېر خو نهٔ دی چې پهٔ سَوَنو ژبې اَو لهجې ئې اختيار کړې دی بل طرفته کهٔ ؤگورو نو راباندې دَ پردئ ژبو يرغل دے. دنيا پهٔ تهزئ سره بدلېږی او ورسره دَ گلوبلائزيشن غږ هم آورو. پهٔ داسې حال کښې کهٔ مونږ فکر ؤنهٔ کړهٔ، ژبه مو اسانه اَو دَ کليو اَو قاعدو سره سمه نهٔ کړه، يو ژبه اَو يو لهجه مو جوړه نهٔ کړه نو دَ دنيا نورو ډېرو قامونو سره سره مونږ ته هم بيا دَ فنا اَو بقا مسئله راپېښه ده. اَو ډېر زر به ورک شو. دغه لړ کښې وارو پښتنو له پکار دی چې تر خپله وسه خپلې زمه دارئ پوره کړی. بله يوه خبره دا چې دَ کتابونو، رسالو اَو اخبارونو نه انکار خو نهٔ شي کېدے خو ؤلې دا وخت دَ راډيو، تی وی، سَيټلائټ، کمپيوټر، انټرنيټ اَو ډيجيټل آلاتو (ډيجيټل ډکشنرئ وغيره) دا اهميت نه هم سترگې پټؤل نهٔ دی پکار. بايد چې لږ خو ؤپو هېږو.

★ پائ کښې دَ څو لفظونو ليکل،معنا او شکل اَو ورسره سره سَيلابونه (چپې) هغه لفظونه چې پهٔ معنا يو دی خو څېنې ځای مختلف ؤليکلے شي

(۱)مئين .دوه سيلابه. يو لفظ يو معنا. ورومبی لفظ کښې همزه پهٔ طور دَ حرکې اَو مئېن دوه سيلابه . "ياي" پرې متحرکه. دوَيم لفظ کښې همزه پهٔ طور دَ حرف اَو پهٔ سپکه ياي متحرک. يو لفظ کښې دَ ياي او دوَيم کښې دَ همزه آواز څرگند.

(۲) بنائيست.دوه سيلابه.يو لفظ يو معنا. ورومبی لفظ کښې همزه پهٔ طور دَ حرکې اَو بنائېست . ياي پرې متحرکه. دوَيم لفظ کښې همزه پهٔ طور دَ حرف اَو ياي باندې متحرک. يو لفظ کښې دَ "ياي" او دوَيم کښې دَ همزه اواز څرگند.

(۳) اَو . یو سیلاب یو لفظ یوه معنا. خو وړومبي لفظ الف په زَبَر متحرک او واو
او . (عطف) ساکن او دوهم لفظ کښې الف په واو متحرک. اول لفظ (اَو)
مونږ دَ (اور) په ځای او دوهم لفظ مونږ دَ (وَ) په ځای هم استعمالولے شو که بېلتون ې وکړو
نور یو شے دے-(Conjunction)

(۴) کوُو . دوه سیلابه یو لفظ یوه معنیٰ. چې اکثر خلق ې کوو لیکی کوم چې غلط
کوُو . دے دا دریې واړه شکلونه درست راځی خو وړومبي لفظ (کوُو)
کوُ . مناسب راځی.

(۵) وُو . (یو چپه) یو لفظ یوه معنا. دا هم هغسې خبره ده. چې لفظ (وُو) مناسب راځی.
وُ .

(٦) وایهٔ . (وائیل) دوه چپې یو لفظ یوه معنا! خو ئ ې لفظ کښې حرف یای په طور دَ
وَیه . (ویٔل) صحیح توری دے نو ځکه دَ لفظ دَ بدلون په حالت کښې دا
وایهل . حرف یای نهٔ شي الوتے، په دغه قاعده وایهٔ او وائیل یا وَیه او
ویٔل مناسب راځی یا ویهل (غته یای په سپکه یای متحرکه)

(۷) وُیهٔ . یوه چپه هم هغه دَ وایهٔ معنا! دا لفظ دَ وایهٔ نه یو سیلاب لرې کړے
شو یعنې لنډ کړے شو نو "وُیه" ترې جوړ شو. واو ساکن اَو
یای په همزه متحرکه. هم دغه لفظ نه وروستو "وُیې" اَو بیا
"وې" جوړ شو ځکه مونږ اکثر "وَئیل ې" په "وې ئ ې" لیکو.

(۸) وایی . دوه چپې یو لفظ یوه معنا. دا لفظ د وایهٔ نه وُوتو په وایهٔ کښې د "ی"
وائی . حرف صحیح توری دے (دَ صحیح توری په حیثیت دے) نو
وایٔ . ځکه دا حرف یای نهٔ شي الوتے. په دغه سوب باندې وړومبي
لفظ "وایی" درست راځی.

هغه لفظونه چې په اواز یو دی او په معنیٰ جدا دی اَو دلته دَ څهٔ علامت یا لیک دَ بدلون
په مدد له یو او بله جدا کړے شو. چې ابهام لرې شي.

(۱) وُ. یوه چپه دَ فعل (تمام) اَو تاکید لپاره. وشو، وخاندل، وکړه، وُ خاندهٔ دَ لفظ اول کښې
وهٔ . دَ فعل (جاری) اَو کېدنې لپاره لکه لتوهٔ، سکاوهٔ، خلاصوهٔ دَ لفظ آخر کښې
وو . دَ واحد لپاره دَ ماضی حالت کښې لکه (تها او جمع ې وُو دے لکه تهې)

(۲) بنائېستاؤ (حسینوں یا حسینوں نے ) واره ځلور سیلابه بنا ئېس تا ؤ ۔

بنائېستاوو (حسین تھا) بنائېسته وو

بنائېستاوۀ بنائېسته کوۀ (حسین کرنا۔ خوبصورت بنانا)

(۳) هَله دوه سیلابه شابه ۔ شاباس۔ هڼه۔ زرکړه۔ پام

هلۀ حرفِ شرط هغه وخت، بیا به (تبھی، جبھی)

(۴) ښېنې کښې، ډېر، بلا، بعض (ښېنې سړی یا ډېر ښېنې سړی خو دلته حشوه نه ده، مطلب ترې کښې راخی)(Adverb)

ښِنې ( (سے) نه، ترې، ترېنه) حرفِ جار (Preposition)

(۵) دے یو سیلاب (ھے) لپاره

دَے "دا" یعنې (یه) لپاره

دې "تا" "ستا" "هغه" (تو۔ تیرا۔ اپنا۔ وه) په ځای

دیؔ (داې یا دَی) (اسنے اس، یه) لپاره

(٦) واې یو سیلاب ۔ فریاد، چغه (اواز)

وَې تعجب، ناڅاپه (اواز)(Interjection)

(۷) دَ "کا" لپاره (Preposition)

دۀ "اِس" لپاره اسنے (Pronoun)

(۸) وولې (وَلې) دوه سیلابه وولې: چې اوس ېې مونږ وَلې لیکو (کیوں) استفهام لپاره۔ مناسب "وَلې" راخی (مگر) لپاره هم۔

اولې (وولې) څۀ اولې؟ ویشتل یَعنې "ویشتل کوې" لپاره (فعل)

وَلے یا وولے دوه چېې اندام، اوږه یا اوږې نه لاندې برخه (اسم)

وَلې دَ "وَله" جمعه (واله، ویاله یا وَله)

(۹) لړیه دوه سیلابه (کلی) (کوچه) لپاره — (اسم)

لړ ھی، بند۔ حصه، کړی لپاره — (اسم)

لانړې ۔ (لنړې) کنجی ۔ سلسله لپاره (۳ ۱ ۴)

(۱۰) لا یو چپه بیا، چرته، چرې (Adverb of Time)

لاَ نور، ډېر (Adverb of degree, quantity)

(۱۱) نهٔ يوچپه نهٔ لپاره، (ايسا نه هو که)، داسې نهٔ وي چې
نَه نا ـــ "نهين" لپاره
نه (جار) (سے) لپاره لکه "نه چرته دَ تانه زمانه ـ دَچانه ـ
(۱۲) لَه يوه چپه (کو، کيلئے) لپاره
لهٔ (جار) (سے) لپاره
(۱۳) مَلَه دوه چپې دَ مَل مونث
مَلهٔ يوه چپه دَ مَل جمع
(۱۴) ئې يوه چپه (ې) (کا) لپاره (جار او ضمير غائب هم)
بې ضمير لپاره ـ مخاطب، حاضر ـ (هو)
(۱۵) وې يوه چپه (تهے ـ تهيں) لپاره
ؤيې (وې) و يَل لپاره ـ وَ يهٔ، ؤيهٔ، ؤيې اَو وې
(۱٦) هڅې دوه چپې لا س بنپې وَهَل ـ کوشش ـ خواري ـ
هڅې (هڅ) ذره ـ پوټے ـ معمولي ـ نهشت ـ لږې ـ (عبث لپاره هم)
هسې داسې ـ دا هغسې ـ هغسې ـ تر اوسه ـ (دا هم عبث
او مفت لپاره ؤليکلے شي)
(۱۷) نيوهٔ دوه چپې نيوَل ـ قابوکول ـ په لاس راوستل ـ
نيوه تېز دَو ـ مُنډه ـ
(۱۸) وينه دوه چپې (خون) لپاره ـ (جمع ئې وينې)
وېنه (کتل نه) گوره ـ کشه ـ (تهٔ وېنې ـ زهٔ وېنم)
(۱۹) ايله دوه چپې صرف ـ بس ـ خالي ـ يواځې ـ
هيله اُمِيد ـ آس ـ طمع ـ
حيله بهانه ـ عزر ـ
(۲۰) څهٔ يوه چپه (کچهـ ـ چند) لپاره
څهٔ وَلې ـ څنګه ـ کوم ؟ ـ (کيوں ـ کيا ـ کس) لپاره

دَ پښتو خاص توری "خ" په "ز" "ښ" په "خ" اَو "ړ" په "گ" ښهنې خای دَ څهٔ ضرورت لهٔ مخه دانسته طور ليکلے شوی دی. هم دغسې "پوښتنه" پهٔ "پُښتنه" "رونړ" پهٔ "رنړ" "هوار" (هموار) پهٔ آوار" او "ووری" پهٔ اوری دَ تجنيس لپاره ؤليکلے شو. بل علامت مد ـ دَ بيلګوټ يا زور لپاره اَو اولاړ زبر (ا) دَ وزن لپاره ؤلګولے شو چې سهواني چپه دې نهٔ شی کنړلے.

چَل کښې وَل او وَل کښې چَل دے

* * * * * * *



چې شوخي دَ پَیمانو ده پسې ۋروکه
دَ شفق دَ سُرخۍ ډک مازیګر کوم دے
دواړه لاسه مې ورکړی دی ګریوان کښې
اوس دَ ګُل دَ خنداګانو سحر کوم دے


شیرین یار یوسفزے۔ زروبۍ کلے۔ صوابۍ۔ دَلرې پښتونخوا قطبی سیمه
۰۹۳۸-٤۸۰۰۰۳
۰۳۰۰-۵۹۰۰۲۷٤
www.afghanguluna.8m.net